پښتونستان تحریک او پښتو شاعري

د 1960ء پورې



محب وزیر

Scanned by CamScanner

پښتونستان تحريک او پښتو شاعري

(۱۹۶۰ پورې)

محب وزير

ليکوال پښتو ادبي تنظيم العين

Scanned by CamScanner

حقونه د ليکونکي په حق کښې خوندي دي۔

د کتاب نوم: پښتونستان تحريک او پښتو شاعري
(۱۹۶۰ پورې)

ليکونکے: محب وزير

دويم نظر: ډاکټر فضل الرحيم مروت

اهتمام: شمس فکار

مخ پانه: حيات روغاني

اول ځل: اګست ۲۰۱۷

چاپ ځای: عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور
aamirprint2010@gmail.com
0300-9019499

خوروونکي: ليکوال پښتو ادبي تنظيم العين
متحده عرب امارات

بيعه: 150 روپۍ

Scanned by CamScanner

د بنو قرارداد
(۲۱ جون ۱۹۴۷) په نوم

چې زمانې وربانديې خاورې انبار کړې

Scanned by CamScanner

فهرست

د خوروونکي غږ 6

وضاحت 7

مننه 9

وړومبے باب:

پښتونستان او د پښتونستان تحریک 10

- افغان انګریز معاهدو ـ پس منظر 11
- هندوستان ، پاکستان یا پښتونستان 16
- پښتونستان نامه ـ په اول ځل؟ 25
- پښتونستان مبارزه 28
- فقیر ایپي ته د حقیقت جوتونه ـ یوه مغالطه 36
- افغانستان او پښتونستان 38
- پښتونستان: جدا هیواد ، افغنستان سره یووالے که د صوبې نوم 43

دویم باب:

د پښتونستان تصور:

بنو قرارداد نه وړاندې په پښتو شاعری کښې 53

Scanned by CamScanner

دریم باب:

پښتونستان تحریک:

د پښتونستان د شاعرانو په شاعرۍ کښې 70

(بنو قرارداد نه پس ۱۹۶۰پورې)

څلورم باب:

پښتونستان تحریک:

د افغانستان د شاعرانو په شاعرۍ کښې 110

(بنو قرارداد نه پس ۱۹۶۰پورې)

د تحقیق پایله (نتیجه) 127

یو سفارش 133

ماخذونه (کتابیات) 134

Scanned by CamScanner

د خوروونکي غږ

د پښتو ژبې او ادب د وروستو پاتې کېدو چې چرته نور ډېر لاملونه کېدے شي هلته يې يو لامل دا هم دے چې دا ژبه خوروونکي (ناشران) نۀ لري او چې خوروونکي نۀ لري ، نو لوستونکي يې پيدا نۀ کړل او چې لوستونکي پيدا نۀ شول نو نه او پروفېشنل ليکونکي او څېړنکاران مخې ته رانۀ غلل او د دې هر څه په نتيجه کښې نۀ يوازې دا چې پښتو ژبه او پښتو ادب وروستو پاته شو ، قام هم تيت پرک پاتې شوے دے۔

مونږ ويارو چې د خپل تنظيم/اداري له خوا د ډاکټر محب وزير دا اهمه مقاله چاپ ته سپارو او پښتو لوستونکيو ته يې وراندې کوو۔ د مقالې اهميت ځکه مسلم دے چې د پښتو د سياسي تاريخ په يوه ډېره اهمه موضوع/کشاله (پښتونستان) يې يو اکېډېمک څېړنه کړې ده چې که يو خوا يې د پښتونستان په ترڅ کښې د پښتو مبارزينو او قلمکارانو هلې ځلې سنبالې کړې دي ، نو بل خوا يې دا اهمه موضوع/کشاله د پښتون نوي کهول په وراندې کښښودله چې بايد د خپل تاريخ د دې اهم مور نه خبر پاتې شي او د راتلونکي (مستقبل) څه مناسبه بنا وټړي۔

مونږ ويارو چې د پښتو ژبې او ادب د پرمختک په لړ کښې د خوروونکي په حېث مونږ خپل تنظيم ور وراندې کړو او د خوروونکيو د کمي لړ کولو په لړ کښې تر خپله وسه يوه هڅه کوو او دا غږ کوو چې د ښو تحقيقي او تنقيدي مقالو د شايع کولو هڅې به جاري ساتو۔

ليکوال پښتو ادبي تنظيم العين ، امارات

Scanned by CamScanner

وضاحت

پښور پوهنتون پښتو څانګې د پاره چې "نوې پښتو شاعری کښې سیاسي شعور" په موضوع ما کله د پي ایچ ډي مقاله لیکله نو ما ډېر په ارام ارام سره خپل کار ته ادامه ورکوله ۔ زیاتره خواخوږو به دا نېکه مشوره راکوله چې "اول ډګري واخله ، کارونه بیا وروستو کوه" خو ما به د دوي خبره اوربدلې نه اوربدلې غوندې واخسته ــ چې په دغه دوران کښې زمونږ کورنۍ د تربوروالی ښکار شوه او زهٔ په ډېر لوے مصیبت کښې ښکېل شوم ۔ ما د مقالې نه لیکلو کلکه اراده وکړه او ځان مې د فطرت په حواله کړو چې یوه ورځ د پښتو څانګې مشر پروفېسر عبدالوحیدخان صېب سره زما ملاقات وشو او دوي ډېر په سختۍ سره ما ته حکم وکړو چې په دوه میاشتو کښې دننه خپله مقاله څانګه (Department) ته وسپاره او ما د دوي حکم نه سرغړونه ونه کړے شوه او سوچ مې وکړو چې دا وخت زهٔ د تحقیق کولو په پوزیشن کښې ښځي نه یم ځکه چې د خپل یاد مصیبت له کبله زهٔ خپلې لایبرېرۍ ته هم ورتلے نه شوم ، د کومې نه به چې د بنو هر زده کوونکي استفاده کوله ۔ او دارنګې د کاغذونو تورولو ته کښېناستم او په دوه میاشتو کښې مې یو ضخیم کتاب (مقاله ورته نه وایم) څانګه ته وسپارلو ، ډګري مې واخسته ، ډاکټر شوم ؛ خو په مازغو کښې مې د تحقیق د بشپړتیا یو احساس لکه د ازغي ښخ پاتې شو ۔ خو هر کله چې زهٔ د یاد مصیبت نه لږ په قلار شوم نو د خپلو مازغو نه مې د هغه ازغي د ویستو لاره داسې وویسته چې ولې نه د پي ایچ ډي د ببلا ببلو بابونو کښې ځان ځاله تر څه د حده تسلی ور کار وکړم ۔

Scanned by CamScanner

"پښتونستان تحريک او پښتو شاعري" زما د پي ايچ ډي د پراجيکټ يو باب وو چې اوس مې پرې د نوي سره کار وکړو او ځانله يې د چاپ کولو تابيا کوم ؛ خو دا موضوع چې څومره څومره زما په قابو کښې راتله ، دومره دومره راته ګرانبدله هم ـ او چې کله ډېره ګرانه شوه نو بيا مې دا پربکړه وکړه چې ولې نه دا موضوع رالنډه او ځان ته اسانه کړم ـ دارنګې مې د کتاب نوم "پښتونستان تحريک او پښتو شاعري ـــ ۱۹۶۰ پورې" کښښودو ـ خو دا دعوا بيا هم نه کوم او نه يې د خپل تحقيق په اړه څوک کولے شي چې ګڼي باوجود د رالنډولو دا تحقيق په هر لحاظ پوره دے ـ خو تر ډېره حده پکښې هغو ټولو منابعو ته د رسېدنې هڅه شوې ده چې د کتاب د موضوع ورسره څه نه څه اړيکه جوړه شوې ده ـ دلته بايد دا وضاحت هم وکړم چې د کتاب په دويم باب کښې ما د خدايي خدمتګار تحريک سره ټرليو شاعرانو سره د پښتونستان په نوم پسې منډه نه ده وهلې ، بلکې تش مې د دوي په کلام کښې هغو اشارو ته کتنه کړې ده چې د پښتونستان تصور پکښې موندل کېدے شو ، ولې دريم او څلوم باب کښې مې خالص د پښتونستان د نوم لټون کړے دے ـ دوه وجې وې، يو دا چې په دغه زمانه کښې د پښتونستان نوم او باقاعده تحريک د پښتني سياست په افق راښکاره شوے وه او دويم دا چې که ما ورته دلته هم د تصور پيمانه کښښودے ، نو بيا به د پښتو ټول نوي شاعران زما د موضوع برخه ګرځېدل ـ ولې بيا هم اجمل خټک ، همېش خليل، ايوب صابر ، قلندرمومند او عبدالرحيم مجذوب د شاعرۍ حوالې مې د پښتونستان د ذکر نه پډته هم راخستي دي چې دوي يا خو عملي او يا په فکري توګه د پښتونستان د تحريک سره ډېر ټرلي پاتې شوي دي ـ

Scanned by CamScanner

مننه

دلته باید د هغو ټولو خلقو مننه وکړم چې د دغه تحقیق په دوران کښې یې زما مرسته او کومک کړے دے ۔ ټولو نه اول د خپل ډېر نزدې مترقي قام پرست ملګري شمس فګار بښي ډېره زیاته مننه کوم چې که یو خوا یې په ما دغه نیمګړے کار سر ته د رسولو تادي کړې ده ، نو بل خوا یې د موضوع سره اړونده ډېر کتابونه راته پیدا کړي او رارسولي دي ۔ د باچاخان پوهنتون رئیس (وایس چانسلر) پروفېسر ډاکټر فضل الرحیم مروت ډېره زیاته مننه چې یو پله یې د انګرېزۍ څو کتابونه راته راکړل او بل پلو یې په کتاب د دویم نظر (نظرثاني) اچولو تکلیف هم په ځان وګاللو ۔ د ډاکټر زبېر حسرت هم مننه کوم چې اړونده مواد یې وخت په وخت راته پېرزو کړي دي ۔ د ملګري حیات روغاني مننه چې د عبدالروف بښوا کتاب "پښتونستان" یې راته د انټرنېټ له لارې راپیدا کړے دے او نور یو شمېر مواد یې راته په ګوته کړي دي ۔ د پښتو اکېډمۍ د لایبرېرین شاهد او د باچاخان ریسرچ سنټر لایبرېرین زاهد هم ډېره مننه کوم چې ما د خپل تحقیق په دوران کښې د څه نه څه تکلیف سره مخ کړي دي ۔

او اخر کښې د "لیکوال پښتو ادبي تنظیم العېن" د ټولو غړیو هم مننه کوم چې د کتاب د چاپ کولو ټول لګښت یې په ځان ومنلو ۔

منه او کور ودان

محب وزیر
پښتونخوا مطالعاتي مرکز
باچاخان پوهنتون چارسده
۱۴ دسمبر ۲۰۱۶

Scanned by CamScanner

ورومبے باب:

پښتونستان او د پښتونستان تحریک

Scanned by CamScanner

د افغان انګريز معاهدو: پس منظر:-

د پښتونستان مسله د قام پرسته پښتنو په ذهن کښې د هغې ورځې راسې پيوست شوه چې اول سيکهـ او بيا برطانوي استعمار د پښتنو په وطن د پوندې ټينګولو اراده وکړه او د دې د پاره يې په بېلابېلو وختونو کښې خپلو دسيسو ته دوام ورکړو ۔ د خپلو استعماري سلطنتونو د محفوظ ساتلو د پاره يې د افغان د تجزيه کولو هڅې وکړې ۔ بل خوا د نېپولين (فرانسوي استعمار) او ايران د فتح علي شاه تر منځه د ټرون لاسليک کولو چې پکښې هند ته د وتلو د پاره ايران د انګريز په ضد د پښتنو د راپارولو ماده مهمه ګڼل کېږي (۱)، د دې د پاره هغوي (برطانيه) د افغان په خاوره ناتار جوړولو د پاره پرله پسې خپلې هلې ځلې وکړې او په دغه لړ کښې برطانيه خپل ځان سيکهانو ته نزدې کړو او د سيکهانو سره يې باقاعده ټرون لاسليک کړو چې د کابل په هغه سيمو چې د سيکهانو په قبضه کښې دي ، باندې به د سيکهانو قبضه ومني ۔ انګريز افغانانو ته ښودل چې که تاسو د روس او ايران سره اړيکې زياتوئ، نو مونږ درته سيکهان نور هم مضبوطوو۔ (۲)

پښور معاهده:

د ذکر شوې فرانسوي او ايراني معاهدې نه چې برطانيه خبر شوه نو دوي اول د فرانسوي اغيزې نه د ځان ساتلو د پار د ايراني باچا سره معاهده لاسليک کړه او بيا يې د افغانستان پله مخ راواړولو ۔ دغه دور کښې د افغانستان باچايي د شاه شجاع په لاس کښې وه چې انګريز پسې خبر ولېږلو ۔ شاه شجاع په پښور کښې انګريز د هېئت مشر مانسټيوارټ الفنسټن سره وليدل او د کال ۱۹۰۸ د جون د مياشتې په

Scanned by CamScanner

وولسمه نېټه يې ورسره په درې مادو اړه لرونکې معاهده لاسلیک کړه چې د پېښور معاهدې په نوم شهرت لري . په یاده معاهده کښې د فرانسوي استعمار (نپولین) لاره نیول يې په افغانستان لازم کړل او په دغه مد کښې د لکښت ډمه انګلیسي حکومت په خان لازم وبلله . (۳) مقصد دا چې انګریز د خپلو مفاداتو د پاره افغانستان جنګ ته د ور مخ کولو خپله دسیسه کړو. د انګریز دغه پالیسي مونږ ته نن هم ډېره ښکاره په نظر راځي چې د افغانانو/پښتنو په اوږو يې توپکونه بار کړي دي او د خپلو ګټو وتو د پاره يې کاروي.

لاهور معاهده:

که یو خوا په دغه دوران کښې د افغانستان امیر دوست محمد خان په وراندې تر ټولو اول دغه سوال پروت وو چې سیکهانو په زور یا د انګریز او شاه شجاع تر منځه د پېښور د معاهدې په ترڅ کښې د افغان خاوره د غېرو د تسلط او مداخلې نه وساتي . په دغه غرض (دوست محمدخان) د انګریز سره و دوستۍ ته هم تر څۀ حده نزدې شوے وۀ چې که د سیکهانو نه راته مقبوضه وطن بېرته واخلي . ستمبر ۱۸۳۷ کښې د الېګزېنډر برنس په مشرۍ کښې د انګریزانو یو وفد کابل ته ورسېدو چې ښکاره مقصد يې تجارتي وو، ولې پټ مقصد يې سیاسي وو. د دغه وفد په وراندې هم امیر دوست محمد خان د پېښور د ترلاسه کولو عرض کښېښودو . خو انګریزان دې ته تیار نۀ وو چې د پېښور د کابل سره په ګنډلو کښې د امیر څۀ مرسته وکړي . (۴) د دغه غرض د پاره امیر دوست محمد خان ډېر ځله د انګریزانو سره ولیدل خو هر ځل به ناکامه واپس تللو. قاضي عطاٗ الله په خپل کتاب د "پښتنو تاریخ" کښې د هغۀ د یوې دورې په اړه لیکي:

Scanned by CamScanner

"... دوست محمدخان کابل ته خو لاړ ، مګر د پښور د اخستو خیال د یوې لحظې د پاره هم د هغهٔ له زړهٔ نه ونهٔ وتو." (۵)

بل خوا شاه شجاع لګیا وهٔ چې یو ځل بیا د کابل په تخت وځلېږي ـ په دغه لړ کښې یې د انګرېز او رنجیت سنګه سره یوه بله معاهده په لاهور کښې ۱۸۳۸ کال د جون د میاشتې په ۲۶ لاسلیک کړه چې د لاهور معاهده په نوم پېژندلې کېږي (۶)؛ خو محمد ابراهیم عطایي په خپل کتاب "پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې" کښې د معاهدې نېټه ۱۸۳۸ کال د مې میاشت لیکلې ده (۷) او دغه معاهده کښې هم مهم توکے دا اېښے شوے وهٔ چې هغه ټولې سیمې چې دا وخت د سیکهانو په ولقه کښې دي ، څخه به وارثان لاس اخلي او بیا به یې غوښتنه هم نهٔ کوي ـ د اباسین او خېبر تر منځه چې د پښور (پښور ، نوښار ، چارسده ، مردان ، صوابی) او ډېره جات پکښې مهم دي به د رنجیت سنګه په ولقه کښې ور پرېږدي او د دې په بدل کښې به رنجیت سنګه د شاه شجاع سره د امیر دوست محمدخان په خلاف پوره پوره مرسته کوي (۸) ـ خو ځینې تاریخ پوهان داسې هم وایي چې د معاهده لاسلیک کولو په وخت شاه شجاع هم د دغې معاهدې سره متفق نهٔ وو ، ولې د تخت او کرسۍ په شوق کښې دومره ډوب تلے وهٔ چې دې هرڅهٔ ته یې غاړه کښېښوه (۹) او دارنګې د سیکهانو او انګرېزانو دسیسو ته یوه بهترینه موقع په لاس ورغله ـ خو د شاه شجاع سره په معاهده کښې دا ټکے هم شامل وهٔ چې هر کله د شاه واکداري مضبوطه او مستحکمه شي ، نو انګرېزان به کابل پرېږدي او بېرته به هندوستان ته خپل ځواکونه راولي ـ ولې وروستو انګرېزانو هیلې بهانې کولې او کابل کښې خپلې موجودګۍ ته یې دوام ورکول غوښتل ـ خو افغانانو ځاے په ځاے بغاوتونه پېل کړل او د لومړي افغان جنګ دویم

Scanned by CamScanner

پراؤ شروع شو چې انګرېز پکښې سخته ماتې وخوړه او د پښتنو هغو سیمو پورې محدود وساتل شول چې سیکهانو د کابل نه شوکولې وې۔ امیر دوست محمد خان یو ځل بیا د کابل په تخت کښېناستو او ترخپله وسه یې دا هڅې کولې چې د افغانانو ټوټې ټوټې وطن سره وګنډي۔ بلکې د امیر دوست محمد خان په ضد چې د سیکهانو او انګرېزانو کومې دسیسې مونږ د تاریخ په پاڼو کښې لولو ۔ د هغې ایکې یوه وجه دا وه چې د امیر په ذهن کښې د پېښور او ورسره ترلې سیمې بېرته په خپل واک کښې د اخستو خیال ډېر ټینګ ځاے شوے وۀ۔

ٔکندمک معاهده:

امیر دوست محمد خان نه پس امیر شېرعلي خان چې د هېواد ودانولو کوم مزل شروع کړو او د ٔکاوندېو هېوادونو سره یې د نښو تعلقاتو او د اقتصادي او سیاسي مناسباتو په غرض کوم اقدامات وکړل۔ د هغې نه د یرې لرلو یا هر څه چې وو ۔ خو د زار روس د یو هیئت د موجودیت په بهانه انګرېز امیر شېر علي خان ته ۱۸۷۸ کال د نومبر په دویمه نېټه یوه درکه ورکړه او پکښې یې دا هم ورته ولیکل چې د دغه درکې منفي ځواب یا خاموشي به د انګرېز دښمنۍ په معنا واخستل شي۔ امیر شېرعلي خان د دغه درکې هیڅ قسمه ځواب ونۀ کړو چې په ترڅ کښې یې انګرېز د خېبر ۔ ٔکومل او بولان له اړخه په افغانستان بریدونه وکړل۔ د انګرېز د دغو بریدونو په ضد پښتنو قبایلو د خپل وس په مطابق په هر ځاے کښې مقاومت وکړو ۔ ولې یو خوا انګرېز دا ځل په زیاته منصوبه بندۍ بریدونه ترسره کړي وو بل خوا د امیر شېرعلي خان کمزورے صحت او کمزورے اداري نظامت د انګرېز په بشپړ مقاومت کښې بریالے نۀ شو (۱۰) ۔ امیر شېرعلي خان په مزار شریف کښې په حق ورسېدو او د دوي د مرګ نه پس د هغه زوے یعقوب خان (چې امیر

Scanned by CamScanner

شېرعلي خان په قيد کښې ساتلے وو، د کابل په تخت کښېناست چې د وړاندينو په مقابل کښې قدرې کمزورے بادشاه وۀ. د دوي د کمزورۍ غټه نخښه دا ده چې انګرېزانو د مې مياشتې کال ۱۸۷۹ د ګندمک په شان په يوه ناوړه لوظنامه مجبور کړو. ګندمک د جلال اباد او کابل ترمنځه د انګرېزانو فوځي مرکز وۀ. د دغه لوظنامې تر مخه دا ځل خبر، کرمه او نورو خواوشا سيمو نه پرته پشين ، سبۍ او لورالايي سيمې هم د افغانستان نه رابېلې کړې شوې. د ګندمک په ټرون کښې دا خبره هم وه چې د افغانستان د بهرنيو چارو واک به د انګرېزانو په لاس کښې وي. (۱۱) په هم دغه کال چې په کابل کښې يو انګرېز سفارتکار ووژل شو ، نو انګرېزانو نېغ په نېغه په کابل يرغل وکړو او د ګندمک لوظنامې نه يې په خپله سرغړونه وکړه. د د غه يرغل په ترڅ کښې انګرېز افغان دويم جنګ نور هم تود شو.

ډيورنډ معاهده:

په يو داسې صورتحال کښې د امير شېرعلي خان وراړۀ عبدالرحمان خان ته د کابل تخت په لاس ورغے چې د افغانستان د بهرنيو چارو ټول واک د انګرېز سره د ګندمک د ټرون تر مخه خوندي وو. بل د انګرېز سرکار ځينې سرکاري مامورينو به په کابل کښې موجوديت هم درلودۀ ، نو عبدالرحمان خان د ډېرې مجبورۍ نه دا هر څۀ منلو ته تيار شو چې په کال ۱۸۹۳ کښې د ډيورنډ کرښه واچوله شي او د افغانستان سينه ورځيرې کړي . په دغه معاهده کښې د نورو سيمو سره سره د منځنۍ پښتونستان (پښتونخوا) سيمې هم انګرېز ته ور پرېښودل شوې. دا معاهده ټولې ووۀ (۷) مادې لري چې دا سلو کالو ذکر پکښې هم نشته (۱۲) ، يادې دې وي چې عام پښتون اولس

Scanned by CamScanner

کښې د سلو کالو قیصه ډېر شهرت لري ، د ډېورنډ د معاهدې په ترڅ کښې د امیر عبدالرحمان نه چا وپوښتل چې څنګه دې نیم وطن په معاهده انګرېز ته ورپرېښودو ، نو دۀ ورته په ځواب کښې ووئیل چې زمکې په معاهدو نۀ په زور نیول کېږي ، انګرېزانو زمونږ نه خپله زمکه اول په زور نیولې ده ، ورستو یې راسره معاهدې کړې دي (۱۳) ۔ د دغه ځواب نه ښکاره پته لګي چې امیر عبدالرحمان خان څومره په مجبورۍ کښې دا هر څۀ منلي دي ۔ د عبدالرحمان زوے امیر حبیب الله خان خو په ښکاره د دغې لوظنامې نه انکار وکړو او باقاعده یې د یوې نوې لوظنامې غوښتنه وکړه ۔ (۱۴)

• هندوستان ، پاکستان یا پښتونستان:

د ډېورنډ کرښه یا د پښتون وېشلے وجود د پښتنو په سیاسي تاریخ کښې هم د بره ذکر شوي مجبور صورتحال راسې ځاے شوې ده. دغه تصور د کرښې د دواړو خواوو میشتو پښتنو په ذهن او سیاست کښې موجود پاتې شوے دے ۔ خو د خپل ټکړې وجود د یووالي دغه تصور د هندوستان میشتو پښتنو په ذهنونو کښې د هندوستان د تقسیم نه ډېر وړاندې چرته چې نۀ خو د پاکستان نوم وۀ او نۀ تصور ، ولې د پښتونستان نوم که څه هم ډېر وروستو مخې ته راغلے دے ، ولې تصور یې هم وۀ او د دغه تصور د وړاندې کولو او عملي کولو هلې ځلې هم وې ۔ ابراهیم عطایي په خپل کتاب "د پښتنو او بلوچو سیاسي کرونولوژي" کښې د اپریدو په تیراه سیمه کښې د میر بشیرخان دین خېل په مشرۍ کښې په کال ۱۸۹۸ کښې د یو ازاد او خپلواک حکومت جوړولو ذکر کړے دے (۱۵) ۔ په نړیواله کچ هم د برطانوي مستعمره پښتنې سیمې د ازادۍ او خپلواکۍ خبرې او ذکرونه وخت په

Scanned by CamScanner

وخت شوي دي - ۱۹۱۸ کښې ترک جرمن مشن هغه فتوا چې د اټک نه افغانستان پولې پورې ميشتو پښتنو د پاره پکښې د جهاد او پاڅون غږ شوے دے ، کښې د هغه وخت صوبه سرحد د پاره نه صرف د پټهانستان ذکر شوے دے ، بلکې د دې سيمې د خپلواکۍ او ازادۍ قيصه پکښې هم په ډېرو واضحو ټکيو کښې شوې ده:

"دينې ورونو! دا مهال يو قهمتي مهال دے کوم چې خداے تاسو ته درکړے دے ، د کوم سارے چې په پېړيو کښې په لاس نه راځي - که چرې تاسو لږ پښې لاس وخوزوئ نو شونې ده چې دا پراخه ملک کوم چې د دريايې اټک او افغانستان تر منځه پروت دے ، په لږ جدوجهد سره په خپله قبضه کښې روالئ او د دې نه يو مستقل اسلامي مملکت جوړ کړئ او بې د څه ځنډه د نړۍ د نورو هېوادونو سره سياسي ، تجارتي او علمي رابطې ولرئ - (۱۶)

فضل زمان شلمان د "لوے پښتون" نومې کتاب ليکونکي مير عبدالصمدخان په حواله د صاحبزاده عبدالقيوم خان دا خبره نقل کوي چې هغه وخت د صوبه سرحد (خپېر پښتونخوا) او قبايلي سيمو په پښتنو کښې د خپل حکومت يو ټينګ تصور شتون درلودلو (۱۷) او صاحبزاده عبدالقيوم خان خپله دغه دعوا د سر ډيز بري کمپټي (۱۹۲۲ کال) په ترڅ کښې نوره هم درنه کړې ده چې په رپورټ کښې يې شمالي مغربي سرحدي (خپېر پښتونخوا) صوبې ته د يو جدا هېواد حېثيت ورکولو خبره شوې ده - (۱۸)

د پښتونستان دا سوچ او دا تصور د خدايي خدمتګارانو په ذهنونو کښې هم ميشت پاتې شوے دے چې مونږ يې د هغوي په شاعرۍ

Scanned by CamScanner

کښې خور وور وينو چې په دويم باب کښې به پوره پوره ذکر شي ـ ولې دلته يې د غړي توب هغه فارم يادول مناسب بولم ، کوم به چې کال ۱۹۳۸ کښې د خدايي خدمتګارانو سېکتر خورولو (۱۹) او د يو ازاد او خپلواک حکومت ذکر پکښې شوے وۀ ـ دغه فارم کښې ورومبے نکته د ازاد او خپلواکه پښتون رياست ترلاسه کولو د پاره د عدم تشدد په ذريعه مبارزه يادہ شوې ده ـ په بل مخ تاسو د دغه فارم (د غړي توب پرچه) عکس کتے شئ چې په اردو ژبه خپور شوے دے او د ښاغلي فضل زمان شلمان د شخصي کتابتون څخه مې ترلاسه کړے دے ـ دغه فارم دوي د (ډپټي کمشنر اف ملاکنډ ، جنرل براچ سرخپوش فايل نمبر ۱۳ ، مخ: ۱۲۷) په حواله يې په خپل کتاب " مولوي فضل محمود مخفي" کښې هم درج کړے دے :

Scanned by CamScanner

پارٹی ممبر کی نیت

۱۔ اپنی اور اپنے خاندان کی بہتری کیلئے ہر ممکن کوشش کے ذریعہ جدوجہد۔

۲۔ پختون قوم کی فلاح، ترقی اور بہبود کی کوشش

۳۔ ہر محنت کش (مزدور۔ کاشتکار۔ دستکار) کے اقتصادی، معاشرتی اور اجتماعی حقوق کی مکمل طور پر حفاظت اور ان کی حالت کو بہتر بنانے کی کوشش۔

جناب سیکرٹری صاحب

میں مندرجہ بالا عقائد پر مکمل یقین رکھتا ہوں اور درخواست کرتا ہوں کہ میرا نام اپنی جماعت کے ابتدائی ممبروں میں درج فرما کر مشکور فرمائیں۔

نام _____ ولدیت _____

قوم _____ قبیلہ _____

سکونت _____ محلہ _____

دستخط یا نشان انگوٹھہ

دستخط سیکرٹری

هر کله چې د هندوستان د وېش قیصه رامخې ته شوه او د پښتونخوا په خاوره د هندوستان یا پاکستان سره د الحاق خبره راغله . نو د دې ځاے اوسېدونکیو (پښتنو) په ذهن کښې په ډېره شدت سره د یو ځانګړي ریاست خواهش سر راپورته کړو - په دغه وخت کښې د پښتنو مشر باچاخان په باقاعده توګه د کانګرس په وړاندې دا مطالبه کښېښوده چې مونږ ته دې د ازاد پښتونستان په نوم د یو ځانګړي ریاست حق راکړل شي ، که څه هم د کانګرس مشرتابه اولنے موقف دا وۀ چې پښتنو ته دې خپل ازاد ریاست د پښتونستان په نوم ورکړل شي او دا موقف د کانګرس هغه وخت صدر کرپلاني د جون د میاشتې په دویمه نېټه کال ۱۹۴۷ د ماؤنټ بېټن په نوم یو خط وسیله انګرېز سرکار ته ور رسولے هم وۀ ـ (۲۰) خو دا خبره هم څرګنده ده چې کانګرس د پښتنو دغه غوښتنې د پاره د انګرېز په وړاندې په سختۍ سره ونۀ درېدل او د هندوستان او پاکستان په وېش ورسره صلاح شول - په دغه وخت کښې باچاخان او د دوي ملګریو پرله پسې څو غونډې وکړې - په یولسم جون د فرنټئر (پښتونخوا صوبې) د کانګرس کمېټۍ یوه اهمه غونډه وشوه - دغه غونډه کښې:

"After a long discussion a resolution was passed vesting 'Khan Abdul Ghafar Khan with all the power to decide and take whatever actions he thinks best.'' (21)

ژباړه: د اورد بحث نه پس د یو تجویز له لارې باچاخان ته ټول واک ورکړے شو چې دوي کوم قسمه ګام پورته کوي -

دغه غونډه کښې باچاخان ټولو غړیو ته ووئیل چې تاسو بېرته خپلو خپلو سیمو ته لاړ شئ او د خپلو ملګریو سره د هندوستان په تقسیم ، ریفرنډم او بایکاټ او د یو جدا هېواد په غوښتنه صلاح مشورې وکړئ

Scanned by CamScanner

او ورسره يې دا هم ووئيل چې بله غونډه به په ۲۱ جون په بنو کښې وي۔ (۲۲)

دې نه پس باچاخان يوځل بيا دهلي ته د کانګرس د ورکنک کمېټي اجلاس د پاره لاړو۔ دغه غونډه کښې د ماونټ بېټن (د دريم جون) د تقسيم پالېسي ومنل شوه ۔ باچاخان دغه غونډه کښې شموليت خو وکړو ، ولې د محمد زوارخان کاکا په ټکيو کښې:

"خان عبدالغفارخان سرحدي ګاندهي په دې جلسه کښې څو منټه خو بالکل خاموش او مبهوت وو او د ژبې نه يې يو لفظ قدرې ونۀ وئيل شۀ ۔ اخر يې دا خبره وکړه (چې) د صوبه سرحد (پښتونخوا) خدايي خدمتګار دا تقسيم د کانګرس غداري ګڼي او ورسره يې دا خبره وکړه چې مونږ د مسلم ليګ په رحم او کرم پرېښودل مونږ سره بې وفايي ده۔" (۲۳)

هر کله چې پښتون مشرتابه (باچاخان) دهلي کښې د کانګرش ورکنګ کمېټي د يادې غونډې نه مايوس شو ، بل خوا د باچاخان په وېنا خدايي خدمتګارو په خپلو سيمو کښې صلاح مشورې وکړې ، نو په دې ورسېدل چې پېرنګے په هيڅ صورت د دوي تجويز (ازاد رياست) ته غاړه نه ږدي او تش د هندوستان او پاکستان سره د ګډېدلو په نوم رايې ته لاره هواروي او مسلم ليګ او کانګرس دواړه په دغه پلان د پېرنګي سره رضا دي ، نو د پښتونخوا (هغه وخت شمال مغربي سرحد صوبه) نه د خدايي خدمتګارو ، د جنوبي پښتونخوا نه د انجمن وطن مشر عبدالصمدخان اچکزي (خان شهيد)او ملګرو او د مينځني پښتونخوا (قبائلي سيمې) ستر مشر حاجي ميرزاعلي خان المعروف فقير ايپي استازو او ملګرو او يو شمېر نورو مشرانو په ګډه د بنو په خاوره يو

Scanned by CamScanner

قرارداد منظور کړو چې "د بنو قرارداد یا د پښتونستان قرارداد" په نومونو هم پېژندے شي۔ د دغه قرارداد حال مولوي ظاهر شاه وزیر په خپل کتاب "دخپلواکۍ جګړې" کښې څۀ داسې بیانوي:

"دې نه پس د ټول پښتونستان روحاني مشرانو د محکوم مرکزي پښتونستان د قانون جوړونکې اسمبلۍ وکیلانو (غړیو)، زلمي پښتون ډلې ، خدایي خدمتګارو ، انجمن وطن ، جمیعت العلما او د ازاد پښتونستان د نمایندګانو په ګډون په بنو (۲۱ جون ۱۹۴۷) یوه لویه جرګه وشوه۔ دې جرګې ته د پښتونستان د قطعي ټرون تجویز وړاندې شو او د ډېرو زیاتو جرګو مرکو او کره کتنې نه وروسته په اتفاق یو تصویب وشو ــــ (چې) مهمې نکتې یې دا دي:

پښتانۀ نۀ هندوستان غواړي ، نۀ پاکستان۔

پښتنو د خپل ازاد حکومت فیصله وکړه۔

ددې مملکت نوم به یې پښتونستان وي ۔ قانون به یې دېموکراسي او د اسلام د روایاتو په مطابق وي۔

د ټول پښتونستان د ملت دا نماینده جرګه هر پښتون ته چې د دنیا په هر ګټ کښې اوسي ، دا بلنه او غوښتنه وړاندې کوي چې د دې ملي مرام ملاتړ وکړي او د پښتنو په خاوره دپردو حکومت ته سر ټیټ نۀ کړي۔" (۲۴)

بل خوا چې د بنو د تاریخي فیصلې اصل متن په نوم کوم پمفلټ خپور شوے دے ، هغې کښې نۀ د انجمن وطن ، نۀ پکښې د مینځنۍ پښتونخوا نه د فقیر ایپي د استازو او نۀ پکښې د جمعیت العلما اسلام څه ذکر موجود دے ۔ د دغه پمفلټ عکس دلته چاپ کولے شي

Scanned by CamScanner

چې د محمد ابراهیم عطایي د کتاب "پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې" د مخ ۲۱۶ او ۲۱۷ په منځ کښې چاپ شوے دے

پښتنو دَ خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه

پښتانهٔ نهٔ هندوستان غواړی نهٔ پاکستان؛

دَصوبے دَجرګے - دَ اسمبلئ دَ مبرانو - دَ خدائی خدمتګارانو افسرانو او دَ "ځلمی پښتون" دَ جرګے یو شریک اِجلاس په یو لیشتم دَ جون ۱۹۴۷ء په مقام دَ بنوں کښ دَ خان امیر محمد خان دَ صدارت دَ لاندِ اوشو - دے اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه - چه په دے ملک کښ د دَ پښتنو یوازاد حکومت جوړشی - چه دَ هغے دَ ائین بنیاد به په اسلامی اُصولو جمهوریت. مساوات او اولسی انصاف باندِ اینبودے شی. دا اجلاس هر پښتون تر اَپیل کوی - چه دَ دے اعلیٰ مقصد دَ حاصلولو دَ پاره په یو مرکز باندِ راغونډ شی - او بے دَ پښتون نه دِ دَ بل - چا اقتدار ته سر تیټ نه کړی +

له طرفه دَ صوبهٔ سرحد دَ لوئے جرګے نه ؛؛

دبنود تاریخی فیصلی اصل متن

Scanned by CamScanner

د دغه پمفلټ ژباړه نباغلي ایرلنډ جانسن Erland Jansson په خپل کتاب "India, Pakistan or Pakhtunistan" کښې څه داسې کړې ده:

"A joint meeting of the provincial Jirga (FPCC), (Congress) members of the Assembly, Commanders of the Khudai Khidmatgars and the Zalme pakhtun was held on the 21st of june 1947 at Bannu with Khan Amir Mohammad Khan in the chair. This joint session unanimously decided here in this country an independent government of all the Pakhtuns should be established, the constitution of which should be based on Islamic principles, democracy, equality and social justice. This session appeals to all pakhtuns to come together on one platform to achieve this noble aim and not to bow before the power of anybody except that the Pakhtuns." (25)

نباغلي جانسن ته ذکر شوے پمفلټ د میا جعفر شاه (د کانګرس غړے او صوبايي وزير تعليم) په لاس رسېدلے وو او د دغه پمفلټ په ترڅ کښې د ډېر يادولو ور خبره دا ده چې د پښتونستان ذکر پکښې هم نشته. د پښتنو د حکومت ذکر پکښې شوے دے او بله خبره چې "په دې ملک کښې دې د پښتنو يو ازاد حکومت" يعني په ۲۱ جون ۱۹۴۷ چې لا پاکستان جوړ شوے نۀ دے ، کښې شريکه جرګه "په دې ملک کښې" د پښتنو يو ازاد حکومت غواړي ، نو مقصد دا شو چې په متحده هندوستان (برصغير) کښې د پښتنو خپل حکومت غواړي او يا "په دې ملک کښې" نه مراد په دې خاوره ، په دې وطن يا په دې سيمه کښې هم کېدے شي.

بل خوا عبدالاکبرخان په کتاب "د برصغير پاک و هند په ازادۍ کښې د بښتنو برخه" کښې د دغه غونډې روداد شامل دے چې

Scanned by CamScanner

باقاعده پکښې د پټهانستان/پښتونستان ذکر موجود دے ۔ بل د دغې روداد له لارې په یاده غونډه کښې د باچاخان موجوګي هم ثبوت شوې ده

"د دولسم جون د اعلان مطابق د صوبې د ممبرانو ، کارکنانو ، وزیرانو اجلاس په بنو کښې د اکبرعلي خان په ځاے ۲۱ جون پنځه بجې وشو ۔ امیر محمد خان د اجلاس د راغوښتو غرض بیان کړو چې تهرو دوو ورځو اجلاسونو کښې مونږ په دې نتیجه ورسېدو چې مونږ باچاخان ته ځان وسپارو ۔ په دې فیصله هغه ډېلي ته تلے وۀ ، هغه دې خپل کار او خپله رایې وښایي ۔" (۲۶)

د ذکر شوې غونډې صدارت امیر محمد خان ته سپارلے شوے وۀ ۔ د عبدالاکبرخان په لیکلي روداد کښې هم د انجمن وطن او جمعیت علما اسلام ذکر نشته ، هن د وزیرستان د مشرانو ذکر یې څه داسې کړے دے:

"د وزیرستان ملکانو ډېر موثر تقریرونه وکړل ، یو صاحب وفرمائیل چې مونږ د افغانستان حکومت نۀ منو ، نو د پاکستان به څه ومنو ، پښتون خپل پرے نۀ هندوستان له لاس کښې ورکوي، نۀ پاکستان له ۔" (۲۷)

دریمه د ذکر ور خبره د عبدالاکبرخان په یاد شوي کتاب کښې دا ده چې په غونډه کښې د ځینو غړیو نومونه لکه سالار مولاداد او کنورجان (ډېره اسماعیل خان) ، غلام محمد خان تتور (ټانک) (د نصرالله خان پلار څوک چې نن سبا سنګاپور کښې د پاکستان سفیر دے)

Scanned by CamScanner

، قصور زمان ، یعقوب خان (بنو) ، کوټو رام (لکي مروت) (عبدالاکبرخان په خپل کتاب کښې لکي مروت ورته لیکلي دي او زما خیال دے چې د بنو لاله کوټو رام ببل کس دے ، ځکه چې یو خو به یې د هغهٔ د نوم سره اړوکښ خامخا لیکلي وے چې نوموري د یو تکړه وکیل په حیث پېژندګلو لرله . دویم یې د کانګرس سره تعلق نهٔ دے پاتې شوے) ، مولانا محمدعلي ، معصم خان (مردان) قاضي عطا الله هم ښودل شوي دي (۲۸) چې دې نه وراندې په یاده غونډه کښې د ګډون کونکیو نومونه چرته ذکر شوي نهٔ دي۔

بنو قرارداد کښې د پښتونستان ذکر شته یا نه؟ څوک پکښې وو او څوک نهٔ وو۔ خو دا خبره مسلمه ده چې د بنو قرارداد تشریح او توضیح د پښتونستان (د پښتنو یو ببل هېواد) په رنګ کښې ضرور وشوه او د دغه ځاے نه د پښتونستان په نوم د تحریک یوه ازانګه هم راپورته شوې ده چې په څه نه څه شکل دا ازانګه تر ننه پورې اوړېدے شي۔ د پښتونستان نوم هم له دغه ځایه زمونږ د تاریخ برخه ګرځېدلے دے۔

Scanned by CamScanner

• د پښتونستان نامه ــ په اول ځل؟

د پښتونستان نامه په اول ځل چا وکاروله او کله يې وکاروله ؟ دغه لږ کښې د فضل زمان شلمان په خپل کتاب "مولوي فضل محمود مخفي" کښې د ترک جرمن مشن د فتوې (۱۹۱۸کال) په ترڅ کښې وايي چې "په اړونده فتوا يا خبرتيا کښې د پښتونستان ذکر شږ ځله راغلے دے" (۲۹). خو يادہ دې وي چې دغه فتوا کښې د پښتونستان نه بلکې د پټهانستان ذکر شوے دے.

په دغه اړه د دوست محمد خان کامل مومند ادعا وه چې "کنې د پښتونستان نامه په اولنې ځل هغوي استعمال کړې ده ـ ډاکټر محمد زبيرحسرت د اېم فل په تحقيقي مقاله "دوست محمد خان کامل ژوند او ادبي خدمات" کښې د قلندر صهب سره د ذاتي خبرو اترو په حواله ليکي:

> "د ښاغلي قلندر مومند د وېنا مطابق د کامل صاحب دا دعوا وه چې د پښتونستان، اصطلاح په وړومبي ځل هغوي (کامل صاحب) په خپل يو انګرېزي مضمون کښې استعمال کړې وه چې د خيبر ميل اخبار ۱۹۳۷/۱۹۳۶ په يوه "کنه کښې چاپ شوے وۀ." (۳۰)

خو ډاکټر زبير حسرت په ذکر شوي مضمون پسې د خپلې خواری او ډېر کړاو ذکر هم کوي چې ما "خيبر ميل د ۱۹۳۴ نه تر ۱۹۳۷ ريکارډ کښې د کامل صاحب دغه متعلقه مضمون پيدا نۀ کړے شۀ." (۳۱)

ولې د ډاکټر فضل الرحيم مروت د وېنا ترمخه د پښتونستان نوم د کال ووۀ څلوېښتم نه منځ ته راغلے دے او په هم دغه کال د بنو

Scanned by CamScanner

قرارداد هم مخې ته راغلے دے ۔ ښاغلے مروت د ښاغلي عارف غروال د یوې لیکنې په ترڅ کښې د "لیکوال" مدیر نورالبشرنوید په نوم یو خط کښې په دغه اړه لیکي:

"زما د تحقیق مطابق ۱۹۱۸ کښې ترک جرمن مشن یوه فتوا د افغانستان نه جاري کړه چې ورباندې محمدکاظم او مولوي برکت الله لاس لیکونه دي ۔ دا فتوا فارسي ژبه کښې او په دې کښې لفظ پټهانستان استعمال شوے دے ۔۔۔ ددې نه علاوه عبیدالله سندهي صیب (چې ووۀ کاله یې افغانستان کښې تېر کړي وو) ۱۹۲۴ کښې په خپل یو خط کښې چې د اقبال شیدایي په نوم لیکلے دے ، د پښتنو سیمې ته پشتانیه لفظ استعمال کړے دے ۔ د دې نه پس ۱۹۴۷ کښې "پښتون" رساله کښې خدایي خدمتګارانو د پټهانستان په پښتونستان ټکي استعمالول شروع کړل او کابل مجلې چې ښنوا صیب یې مدیر وۀ ، هغې ته هرکلے ووې او دوي هم د هغې نه پس پښتونستان کلمه استعمالول شروع کړل ۔" (۳۲)

البته ځینې محققین دا خیال لري چې د "پښتونستان" د نوم خالق ډاکټر اورنګزیب شاه پاتې شوے دے چې د مردان مانکۍ کلي کښې په ۱۸۹۰ کال کښې زېږېدلے دے او د رحیم شاه زوے دے ۔ د تعلیم په غرض اول جرمني ته او بیا کلیفورنیا (امریکه) ته لاړو ۔ په کال ۱۹۱۶ کښې یې اول "انجمن خېرخواهان افغان" په نوم تنظیم جوړ کړو او بیا یې په کال ۱۹۲۸ کښې "ازاد پښتونستان انجمن امریکه" په نوم کیلیفورنیا ریاست سیکرامنتو کښې بنیاد کښېښودو ، "او دغه شان د

Scanned by CamScanner

پښتونستان د تصور خالق وګرځېدو۔" (۳۳) خو ډاکټر فضل الرحیم د ډاکټر اورنګزیب شاه د تنظیم نوم "Azad Pakhtun Association of America" یادوي ۔ (۳۴) او دارنګې ډاکټر فضل الرحیم مروت خپلې هغه دعوې ته تقویت په رسولو کښې کامیابېږي کومه یې چې د "لیکوال" مدیر په نوم یو خط کښې کړې ده چې مونږ یې بره حواله ورکړې ده ۔ خو دلته باید د سعادت خان جلبل د یو نظم حواله هم ورکړم:

په خپل وطن چمنستان مئین قصور لرمه
شراب مې څکلي دي د عشق سترګې مخمور لرمه
زهٔ جوړوم پټهانستان د ملک دستـور لرمه
غواړم اسماني قانون وطن کښې قرآني

(۳۵)

دا د نظم شپږم بند دے چې د پټهانستان ټکے پکښې کارول شوے دے ۔ د ډایرې په کوم مخ چې دا بند درج دے ، هغې نه درې مخونه پس چې کوم شعرونه لیکلي شوي دي په هغې وروسېے جون ۱۹۴۵ نېټه درج شوې ده ۔ نو ظاهره خبره ده چې دا بره ذکر شوے نظم به که د پنځه څلوېښتم نه وراندې نهٔ وي ، نو په دغه کال خو خامخا لیکلے شوے دے ، ولې بیا هم د پټهانستان د ټکي اولیت ترک جرمن مشن هغې فتوې ته رسي چې ذکر یې د فضل زمان شلمان او ډاکټر فضل الرحیم مروت په حواله وکړے شو ۔ البته پښتو ورژن (پښتونستان) کښې دا نوم په کال نولس سوه ووهٔ څلوېښتم کښې مخې ته راغلے دے ۔

Scanned by CamScanner

• د پښتونستان مبارزه:

بهرحال د بنو قرارداد په ترڅ کښې قام پرسته پښتنو کوندونو او مشرانو دا پرېکړه وکړه چې زمونږ مرام به هم خپل حکومت (پښتونستان) وي (۳۶) ، ځکه يې د پښتونخوا (پخواني سرحد) په اړه د جون د مياشتې په ۲۴مه نېټه باچاخان او نورو ټولو قام پرستو د تقسيم د عمل (ريفرنډم) نه د مقاطعې (بائيکاټ) اعلان وکړو :

"At a big public meeting the following day Abdul Ghafar Khan declared that the Frontier (Pakhtunkhwa) Congress would not take part in the referendum." (37)

خو د دې ټولو هلو ځلو باوجود هم چې پېرنګي کومه پرېکړه کړې وه ، د هغې تر مخه د جولايي د مياشتې د شپږمې نېټې نه واخله تر اولسمې نېټې پورې په پښتونخوا کښې استصوابي ټاکنې (ريفرنډم) ترسره شوې چې خدايي خدمتګارو او کانګرس پکښې د مقاطعې (بائيکاټ) په ترڅ کښې برخه وانۀ خسته ـ د پښتونخوا (صوبه سرحد) درې مليونو ابادۍ کښې تش درې لکهونو پورې خلقو په دغه عمل کښې برخه واخسته او دغه رايې ګېرۍ کښې هم زياته شمېره د هغو پنجابيانو شامله وه چې هغه وخت په پښتونخوا (صوبه سرحد) کښې د روزګار او تجارت په غرض ميشتۀ وو (۳۸) ـ دارنګې دا عمل مسلم ليګ د خپلې ګټې په نوم اعلان کړو او چې د څوارلسم او پنځلسم اګست کال ۱۹۴۷ په منځنۍ شپه د هندوستان وېش کېدو نو پښتونخوا هم په پاکستان کښې شامله کړې شوه ـ ولې د دې ځاے د پښتنو په ذهنونو او سينو کښې "د بنو قرارداد" (يا د پښتونستان قرارداد) ځاے موندلے وۀ او په ګرد پښتون وطن کښې په پښتو او پښتنو مئين اولسونه ، مشران او ننګيالي د خپل مرام د ترلاسه کولو د پاره چمتو شول ـ په دغه لړ کښې د بنو يوه ډېره اهمه پېښه مخې ته راځي چې د ستمبر مياشت

Scanned by CamScanner

کال ۱۹۴۷د پښتونستان د پاره وتلي جلوس باندې د ګازو ګولې وورول شوې او بې شمېره ننګیالي پکښې زخمیان شول (۳۹) چې د سیمې خلق ورباندې زیات غمجن او غصه شول ـ د دغه پېښې په ترڅ کښې د پښتونستان د تحریک مشرانو چې امیر یې حاجي میرزاعلي خان المعروف فقیر ایپي وۀ. دا پرېکړه وکړه چې د مشرانو او د دیني عالمانو یوه غونډه راوبلي چې پکښې د پاکستان نه د ازادۍ په لړ کښې یوه فتوا جاري کړي ـ دغه غونډه هم د ستمبر په میاشت کال ۱۹۴۷ کښې ترسره شوه چې د نورو مشرانو او ځوانانو سره پکښې د مینځني پښتونستان (قبائیلي سیمو) پنځۀ ځلوېښت دیني عالمانو هم ګډون کولو چې دوي په شریکه د پاکستان نه د ازادۍ ترلاسه کولو په لړ کښې دارنګې فتوا ورکړه:

"د خپلو شرعي او ملي حقوقو د ژغورنې او د پردو د ظلم او زور د دفعې د پاره په حال ، سر او خلۀ باندې د پاکستان د تجاوز په مقابل کښې قیام او مبارزه د هر پښتانۀ مسلمان په ذمه فرض ده او هر هغه پښتون مسلمان چې په دې مبارزه کښې برخه نۀ اخلي ، د خپلو فرایضو په ادا کولو کښې نیمګړتیا او کوتاهي کوي" (۴۰)

د فتوې جاري کولو نه پس د پښتونستان د تحریک مشرانو دا پرېکړه هم وکړه چې افغان حکومت ته په ننواتې ورشي او د پاکستان نه د ازادۍ په ترڅ کښې د دوي نه کومک وغواړي ـ په هم دغه کال د وزیرو مسیدو شپږ سوه کسیزۀ جرګه افغانستان ته په ننواتې لاړه ـ د افغانستان په کلیو باندو کښې د دې جرګې ډېر درونده استقبال وشو او د ګردېز په لاره کابل ته ورسېده ـ خو کابل ته رسېدو سره سم د خپل دود

Scanned by CamScanner

دستور په مطابق جرګه د نادرشاه هدیرې ته ننوته او هدیره یې ونیوله او عرض یې وراندې کړو چې ترهغې مونږ دا هدیره نۀ پرېږدو تر څو چې زمونږ ننواتې قبوله شوې نۀ وي ۔ (یاده دې و ي چې د وزیرو مسیدو د ننواتې یو رسم دا هم دے چې دوي د مړي جنازۀ یا قبر نیسي) ۔ هر کله چې د سرکار د لوري نه ورته د ننواتې د قبولیت پخلے ورکړے شو ، نو جرګې هدیره پرېښوه ۔ په بله ورځ جرګې ته په صدارتي ماڼۍ کښې دا ډاډ ورکړے شو چې افغان دولت به د خپلو وروڼو د ازادۍ د پاره هره ممکنه هڅه کوي ۔ (۴۱)

د دغه واقعې ذکر ډاکټر وارد خان زیارمل د افغان حکومتونو څخه د ګیلو نه ډک په یوه لیکنه کښې هم کړے دے چې بنو قرارداد نه پس د وزیرو مسیدو یو لوے لښکر افغانستان ته په ننواتې راغے ، نو افغاتي چارواکو ورله د ذکر وړ توجو ور نۀ کړه او دارنګې د اولس د جذباتو نه ډکه دا اهمه موقعه افغان حکومت ضایع کړه ۔ (۴۲)

د پښتونستان تحریک تر څو کالونو پورې ډېر ګرم وچلېدو ؛ خو د یادولو وړ ده چې دا تحریک تر قبایلي سیمو پورې محدود وو ، ځکه چې په بندوبستي سیمو کښې پاکستاني ریاست ډېر منظم وو او د یو منظم ریاست په وراندې دا قسمه تحریک چلول څه ډېره اسانه خبره نۀ وه ۔

خو په منځنۍ پښتونستان یا پښتونخوا (قبایلي سیمو) کښې دغې تحریک ډېر زور ونیو ۔ د وزیرستان نه پرته په کال ۱۹۴۹ د اګست په دولسمه د تیراه په سیمه کښې د عبدالحکیم خان په مشري کښې د قبایلي اولس او سرېښته پارټي (۴۳) د نورو مشرانو په وراندې د ازاد پښتونستان ببرغ پورته شو او لاندینۍ اعلامیه هم جاري کړې شوه چې څه برخه یې ډاکټر فضل الرحیم مروت د عبدالرحمان پڑواک د کتاب "پښتونستان" په حوالہ نقل کړې ده:

Scanned by CamScanner

"We, the Tirah branch of the National Assembly of Pukhtonistan, having formed the first nucleus of a free Democratic Muslim Government amidst the lofty mountains of tirah, hereby express the hope that with the help of Almighty Allah and the support of the brave and freedom loving pukhtuns, this young plant will, in a short time, grow into a sturdy and fruitful tree, which will not only benefit pukhtunistan (from Chitral to Balochistan and from Khyber and Bolan to the banks of Indus) but will also fulfil its obligation towards the progress and peace of the world." (44)

ژباړه:

مونږ ، د پښتونستان د تیراه څانګې قامي اسمبلي ، د تیراه د دنګو غرونو په منځ کښې یو جمهوري اسلامي حکومت ، هیله من یو چې د لوے خداے په فضل او د ازادي خوښو مبارزو پښتنو په مرسته دا وړوکے نال شوے بوټے به ډېر زر د یوې درنې او مېوه دارې ونې صورت واخلي چې نۀ یوازې به د پښتونستان (د چترال نه بلوچستان او د خېبر نه د بولان د بحرالهند تر غاړو پورې) ولې د ګردې نړۍ د پرمختګ او امن ارمان پوره کړي۔

په هم دغه کال د باجوړ په حلیم زیو کښې د پنځلس زره کسانو په موجودګۍ کښې ببرغ جګ کړے شو ۔ په هم دغه کال یوه لویه جرګه د ټولو قبایلو په کابل نښار کښې وشوه چې هوډ پکښې ښکاره کړے شو چې مونږ قبایل به د مرکزي (پښور) او جنوبي (کوټې) پښتونستان د نمائیندګانو سره ټینګې رابطې ساتو او خپل دغه ملي مرام به په شریکه اخلو۔ (۴۵)

دې نه پس د منځني پښتونستان (قبایلي سیمې) د پاره د هرې اېجنسۍ په کچه ځایي مشران یا نمائیندګان وټاکل شول ۔ باجوړ ، مومندو ، شینوارو ، اپریدیو او اورکزیو کښې د پښتونستان ببرغونه پورته

شول . هلې خلې پکښې تندې شوې . دارنګې اخري لوبه دستوره وزيرستان کښې د کورېک په مقام ۱۹۵۰ کال د جنورۍ په شپارسمه نېټه وشوه چې پکښې د ټول مينځنې پښتونستان (قبايلي سيمې) د پاره يې خپل مشر فقير ايپي وټاکلو . دغه ورځ د فقير ايپي په وړاندې د پښتونستان ببرغ پورته کړے شو او د فقير ايپي له خوا يوه اعلاميه هم مخې ته راغله چې پکښې پاکستاني حکومت ته څۀ دارنګې درکه شوې وه:

"د پاکستان له حکومت نه غواړو چې د پښتونستان ۷ (ووۀ) مليونو پښتنو د خاورې ازادي دې د امن او صلحې له لارې اعتراف وکړي او له ننني ورځې دې خپلې لښکرې او ملکي مامورينو او اېجنټانو ته امر ورکړي چې فوراً د پښتونستان له ټولې خاورې ووځي او که دا ونۀ کړي . نو کوم واقعات چې د دوي د دې لجاجت په اثر پېښ شي . د هغو مسئوليت به د خداے او هم د ملل متحد د موسسې په نزد هـم د پاکستان په غاړه وي ." (۴۶)

په دغه ورځ د افغانستان د حکومت نه هم دا خواست وشو چې زمونږ کمزوري دې په خيال کښې وساتي او مونږ ته دې د هر قسم مرستې لاس راوغزوي . زمونږ مسئله دې د مېډيا او سفارت د لارې نړۍ ته ورسوي او د نړۍ عدل خوښونکيو (پسندو) حکومتونو نه هم خواست وشو چې زمونږ دا حکومت دې په رسمي توګه د پښتونستان د حقيقي حکومت په توګه وپېژني .

دې نه پس په سوبلي پښتونخوا (بلوچستان) کښې د محمد ايوب خان په مشرۍ کښې په "توبه" نومې کلي کښې د پښتونستان

Scanned by CamScanner

کابینه اعلان شوه چې د منځني پښتونستان (قبایلي سیمې) د کابینې سره په تماس کښې وه او د پاکستان په ضد یې خپله مبارزه اعلان کړه۔ (۴۷)

دې سره سره د پښتونستان تحریک بهرنیو ملکونو پورې هم وغزېدو۔ په هندوستان کښې د دې تحریک د مخکښې بیولو د پاره یوه لویه جرګه د "پښتون جرګه هندوستان" په نوم د مولانا محمد اکبرخان او غازي خان کابلي په مشرۍ کښې جوړه شوه چې ډېرې مهمې جلسې یې تابیا کړې او د منځني پښتونستان (قبایلي سیمو) مشران یې هم ور وبلل ۔ د پښتونستان په اړه یې په کن شمېر کښې رسالې او کتابچې په انګرېزۍ او اردو ژبه خپرې کړې چې د یاد وړ رساله یې د "پښتونستان" په نوم تر ډېره وخته پورې جاري وساتله۔ (۴۸) دارنګې د امریکه په مشیګان او کلیفورنیا ولایتونو کښې هم د پښتونستان د تحریک د ټېزولو د پاره د پښتنو جرګې جوړې شوې۔ مشیګان کښې یې مشري ښاغلي امیرشاه مومند کوله او کلیفورنیا کښې یې ډاکټر اورنګزېب مشري کوله ۔ ۱۹۵۰ ـ ۵۱ کښې چې د پاکستان صدر او وزیرخارجه د امریکه په دوره وو ۔ دغو جرګو د دوي په وړاندې د پښتونستان د پاره باقاعده مظاهري وکړې (۴۹) او نړۍ ته یې د پښتنو غږ د رسولو د پاره خپلې هلې ځلې وکړې۔ ډاکټر اورنګزېب هغه کس دے چې د پښتونستان د نوم په اړه یې وړاندې ذکر شوے دے۔

که یو خوا د پښتونستان د پاره د پښتنو هلې ځلې روانې وې، نو بل خوا په پښتنو د پاکستان د ظلم او استبداد قیصې هم په ټېزۍ سره د تاریخ برخه جوړېدې ۔ د بنو د جلوس یو سرسري ذکر وړاندې شوے دے۔ خو په دغه ترڅ کښې که مونږ ګورو نو د بابړې پېښه ښکې ډېره د یادولو ده۔ دغه ډېر فیصله کن سنګر وۀ چې په ظاهره قیوم خان واخستۀ ۔ زما خیال دے که چرته د بابړې پېښه نۀ وے شوې ۔ نو نن به

Scanned by CamScanner

د کوزې پښتونخوا (پاکستان میشته پښتنو سیمه) قیصه څهٔ بل رنګ وے۔ قیوم خان خپله دغه خدشه په ۲۹ جون ۱۹۶۲ جنګ ورځپانه کښې څه داسې ښکاره کړې ده:

"په سرحد کښې سرخ پوش او غفارخان او د دهٔ ملګري د پاکستان خلاف وو او پاکستان ته یې په یوه سترګه نهٔ کتل۔ یو طرف ته هندوستان ، دویم طرف ته افغانستان او دریم طرف ته فقیر ایپي سره (یې) ګټهٔ جوړ (رابطې) وو۔ که چرې دوي ته موقع ملاوښده نو دوي صوبه سرحد (پښتونخوا) په پاکستان کښې شاملول نهٔ غوښتل۔ په دې وخت کښې سرخ پوشو د پښتونستان ډول غږوو۔"(۵۰)

۱۲ اګست ۱۹۴۸ دغه پېښه که څه هم د پښتنو مشرانو د بندولو (قیدولو) په ضد وه خو دې کښې ټولې نعرې د پښتنو د ملي ازادۍ د پاره لګېدې۔ خو پاکستاني چارواکیو پرې داسې ناتار جوړ کړو چې د خوان او بوډا ، ښځې او نر او د لویو او وړو هیڅ تمیز یې ونهٔ کړو ، بس چې څوک په مخه ورغلے دے ، نو په شهادت یې رسولے دے۔

دارنګې ۱۹۴۹ د فروري په دویمه نېټه چې د پښتونستان قیادت د حکومتي مذاکراتي پېښکش ترمخه کله "سپین وام" (وزیرستان) قلعه ته ور ورسېدل، نو پاکستاني خواکونو پرې مشینونه او توپې ورخوشې کړې او تر مانښامه پرې وورول شوې ، هم د دغه کال او میاشت په اولسمه نېټه د ملا اشدر رحمته علیه (په سیمه کښې د ملا کڅدر په نامه زیات پېژندل کېږي او د میرام شاه نه شمال مشرق خواته په لږه فاصله پروت دے) په زیارت چې د وزیرستان تقریباً دوه زره اولس د پښتونستان د مبارزې په لړ کښې سره راټول شوے وهٔ ۔ نو پاکستاني

Scanned by CamScanner

ځواکونو پرې حملې شروع کړې او ډېر بې ګناه اولسونه یې ووژل۔
(۵۱)

که یو خوا د پښتونستان د تحریک د ناکامه کولو د پاره پاکستاني ریاست د زور او جبر لاره خوښه کړې وه ، نو بل خوا یې د چل چالاکۍ نه هم کار اخستل شروع کړل او یوه مسئله په بله مسئله د هېرولو پالېسي یې خپله کړه ۔ کله چې دوي ولیدل چې په دې نېیي (نوي نوزي) جوړ شوي ملک کښې د بغاوت اور په تېزۍ سره خورېږي نو د مذهب په نوم یې د هندي سره د جنګ پالېسۍ ته دوام ورکړو چې پاکستان کښې دننه مسلمان قومیتونه پرې په اسانه راغونډېدے شول او پرې راغونډ شول ۔ عبدالعلي غورغوشتي په دغه اړه په خپل کتاب "لویه افغانیه" کښې لیکي:

"د پاکستان حکمران د فقیر ایپي له تحریک څخه ډېر خوفزده وو او د فقیر ایپي د قومي ازادي تحریک څخه د خلکو مخ اړولو د پاره یې دا ناره (نعره) پورته کړه چې په کشمیر کښې جهاد پېل شو۔ د حکومت په دې ناره په زړګونه د وزیرستان وګړي وغولېدل او قومي ازادي تحریک یې پرېښود او د کشمیر جنګ ته لاړو۔" (۵۲)

Scanned by CamScanner

• فقیر ایپي ته د حقیقت جوتونه ـ یوه مغالطه

دلته به د فقیر ایپي په اړه یوې تاریخي غلطۍ ته هم اشاره وکړم او هغه داسې چې لائق شاه درپه خپل په خپل کتاب "وزیرستان کښې "فقیر ایپي ته د حقیقت جوتون" تر عنوان لاندې د یوې جرګې د سترګو لیدلي حال په ترڅ کښې وایي چې د افغانستان او هندوستاني بادارانو په مرسته او د خپلو کم فهمو صلاح کارانو په مشوره فقیر ایپي تر ډېره وخته د پاکستان په خلاف خپله رویه بدله نه کړه . خو د ډېر غور او فکر او د ډېرو چکو تیتو نه پس ورته معلومه شوه چې دواړه (دهلے او کابل) د خپلو غرضونو د پاره "کوروبک (د فقیر ایپي استوګن ځاے وۀ او په دغه وجه د پښتونستان مرکز هم یاد شوے دے ۔ "کوروبک د وزیرستان او افغانستان په پوله پروت دے ۔ دا په غرونو کښې څو غټ او پلن غارونه (څمڅې) وو چې فقیر ایپي او غازیانو به پکښې ژوند کولو) استعمالوي ۔ لایق شاه زیاتوي چې په "کړد وزیرستان کښې فقیر ایپي د افغانستان په خلاف دورې شروع کړې او د دوسلي په مقام یوې لویې جرګې ته فقیر ایپي داسې ووئیل:

> "ورونو!!! افغان حکومت زۀ تراوسه پورې په مغالطه کښې ساتلے وم او د اسلام په نوم یې سخت فریب راکړو ۔ که چرې افغان حکمرانان بیا زما په نوم کوم قسم پروګرام جوړول غواړي ۔ نو تاسو هیڅ همکاري ورسره مه کوئ ۔" (۵۳)

اول خو باید په دې غور وکړے شي چې په خپله د لائق شاه درپه خپل سماجي حیثیت د کومې طبقې سره دے؟ او ریاستي ادارو سره یې کومې اړیکې پاتې شوې دي؟ او په نظریاتي توګه د کوم فکر

Scanned by CamScanner

او سوچ خاوند دے؟ نو زما خیال دے چې خپل پخپله به دغه بیان کښې موجوده پالیسي لوستونکیو ته ښکاره په نظر ورشي ۔ د لائق شاد درپه خپل ذکر شوے کتاب د شمالي وزیرستان د پولټیکلي په مرسته چاپ شوے دے ۔ لائق شاه سرکرده ملک او د وزیرستان په کچه د ګورنر په وړاندې یوازینے تکړه سپاس نامه نګار پاتې شوے دے او د پاکستان ریاستي ادارو ته ګټه رسونکے او ګټه تړې نه اخستونکے پاتې شوے دے ۔ نو یو داسې کس ته یو داسې پښتون هیرو پکار وۀ چې د هغۀ د فکر او سوچ نمائیندګي کولے شي ۔ بله خبره دا چې د یو محقق په حیث باید چې د ذکر شوې جرګې تاریخ یې هم بیان کړے وے او د یو محقق په حیث یې باید چې د ځان سره دوه درې ګواهان هم یاد کړي وے ۔

د فقیر ایپي په اړه خو د پښتون وطن ټول وتلي او منلي محققین په دې خبره سره متفق دي چې اول یې د انګریز او بیا یې د پاکستان په خلاف چې یو ځل توره پورته کړې ده ، بیا یې هغه توره ایښې نۀ ده ، تر دې چې په مرګي مړ شو

"وروستو چې کله پاکستان جوړ شۀ نو فقیر ایپي د نوي حکومت خلاف هم خپله مبارزه جاري وساتله ۔ د دوي دغه مبارزه تر مرګه جاري وه ، تر دې چې د اپریل په شپارسمه نېټه کال ۱۹۶۰ کښې وفات شو۔" (۵۴)

Scanned by CamScanner

• افغانستان او پښتونستان:

څنګه چې مونږ وراندې په تاريخي لحاظ ذکر کړے دے چې پښتانهٔ د قامي جوړښت د لزوميت په اړه د خاورې په يوه ډېره فطري تکړه ميشتهٔ دي : خو د سامراجي پالېسيو په ضد کښې راغلې دا فطري تکړه هم ډېره په بې دردۍ سره وېشلې شوې ده ۔ پښتنو د پېړو پېړو راسې د خاورې په يوه مشترکه تکړه شره شريک ژوند کړے دے ، نو داسې ممکنه نهٔ ده چې د يو بل څخه په جدايۍ يې زړونه دردېدلي نهٔ وي او چې زړونه ودردېږي ، نو چغې سورې ، احتجاج او مبارزه پېل کېږي ۔ د دغه بېلتون په ضد مبارزه که د کوزې پښتنو په برخه ورسېده ، ولې چغې سورې او احتجاج په بره پښتونخوا کښې هم تر ننه روان ليدهٔ شي ۔

د امير دوست محمد خان په اړه په تېرو پاڼو کښې مذکور شوے دے چې د پښتنو وطن د بيا ځنډنې د پاره يې کومې هلې ځلې کړې دي ۔ په پښور باندې د سيکانو د مداخلې او مسلط کېدو په ضد امير په خپله د رنجيت سنګھ په خلاف جګړې ته د کابل څخه پښور ته د يو لوے لښکر سره راغلے دے (۵۵) ۔ د امير دوست محمدخان د مسلسل هلو ځلو په اړه د هغه وخت د پښور انګرېز کمشنر برټ اېډورډ خپل يو ملګري ته په يو خط کښې ليکي:

"راته ګران پټر لمسډن! د کابل امير دوست محمد خان زما سره د دې ځاے د سرحدي قبايلو په باره کښې يوه سياسي جګړه شروع کړه او ادعا کوي چې دغه اولس د هغوي سره ارتباط لري او دے غواړي چې زهٔ (انګرېزي حکومت) د هغوي سره په هېڅ ډول معامله کښې مداخله ونهٔ کړم "۔ (۵۶)

Scanned by CamScanner

امیر شېرعلي خان هم د مقبوضه پښتونخوا پښتانه په هر څه کښې په یاد ساتلي دي ـ د دوي مرسته یې کړې ده او وخت په وخت یې د دوي راهنمایي هم کړې ده ـ کله چې امیر شېرعلي خان د خپل زوے عبدالله جان د ولي عهدی مراسم ترسره کول ، نو په دغو دستورو کښې یې د کوزې پښتونخوا څخه نزدې د هرې قبیلې مشران او نوموري ور وغوښتل او هلته یې په یو تقریر کښې داسې مخاطب کړل

"... تاسو زما پښتانهٔ وروڼه یئ او مونږ سره یو افغان قام یو ـ وینه مو سره شریکه ده ـ نن د دنیا قامونو ترقي وکړه او د علم او ترقي په برکت په دنیا کښې نښهٔ نوم لري ـ تاسو د علم او پوهې دغه نېک کار ته توجه وکړئ او خپله ګټه او زیان وپېژنئ ـ زهٔ که څه هم په تاسو کښې باچا یم خو په قومیت کښې ستاسو د قام یم او تاسې زما قام او وروڼه یاست ..." (۵۷)

افغان اولس امیر عبدالرحمان د ډیورنډ په معاهده منلو باقاعده تورن یاد کړے دے (۵۸) که څه هم د تور یا غداری څه خبره مونږ ته د امیر عبدالرحمان په ژوند کښې یا د انګرېز سره د هغوي په اړیکو کښې په نظر نهٔ راځي ـ مونږ د دې باب په شروع کښې د امیر عبدالرحمان د دې خبرې ذکر کړے دے چې ملکونه په معاهدو نهٔ نیول کېږي . بلکې خاوره په زور ونیولې شي ، وروستو بیا معاهدې کېږي ـ مونږ ته د دې خبرې ثبوت هم ترلاسه کېږي چې امیر عبدالرحمان انګرېز تر پوزې راوستے وهٔ . د وزیرستان نه واخله ترر باجور پورې د مبارزینو مرستې یې د هیڅا نه پټې نهٔ دي (۵۹) ـ د خپلې خاورې سره د افغان اولس زیاتې د مینې ثبوت د دې نه زیات څه

Scanned by CamScanner

کېدے شي چې د امیر امان الله غوندې غازي باندې یې هم کوتې پورته کړې دي چې د څه استقلال؟ . د څه ازادي؟ "څه یې وکړل جنګ یې وکړ خو هغه خاوره چې زمور نه انګریز نیولې وه هغه خو یې بېرته وانهٔ خیسته" (۶۰) د شمس الدین مجروح د وېنا تر مخه د هندوستان د وېش په وخت د پښتونستان (د پاکستان میشته سیمه) په اړه د افغانستان حکمرانانو او افسر شاهي په درې ډوله فکر کولو:

"اول فکر دا وو چې دا د افغنستان خاوره ده باید ادعا یې وشي ـ افغانستان چې معاهدات لرل د انګریز سره ، انګریز له منځه لاړ . هغه معاهدې نشته دي ـ خط ډېورنډ نشته دے ـ د افغانستان خاوره د افغانستان سره باید ملحقه شي ـ دوهم فکر دا وو چې که د پښتونستان خلق نهٔ غواړي چې افغانستان سره وهٔ وسېږي . (هغوي به ډېر تن کښېږدي دې ته لکه خان عبدالغفار خان دے او نور منورین او دا خلک) هغوي ښایي چې خپل استقلال وغواړي ، نو سړے باید د دوي تائید وکاندي ـ دریم فکر دا وو چې هیڅ نهٔ کوو هغه پښتانهٔ پوهېږي، پاکستان پوهېږي او انګریزان پوهېږي ـ" (۶۱)

خو مونږ ولیدل چې دوي په اول او دوهم فکر ټینګ ودرېدل ـ د ۱۹۴۷ د جون په میاشت کښې د افغانستان له لوړیه د هندوستان میشتوپښتنو دمستقبل په اړه ډېر ښکاره دریځ مخې ته راغے ـ د کابل رېډیو نه په باقاعده توګه د پښتونستان په نوم خپرونې پېل شوې ـ د دغه کال په نهم جون په "انیس" اخبار کښې یې د هندوستان د پښتنو مسئله متحده ملتونو ته د ورلو مطالبه وکړه او په یولسم جون د افغان د بهرنو چارو وزیر علي محمد په کابل کښې د برطانیه د سفیر سره

Scanned by CamScanner

ولیدل او خپل دا دریځ یې ورته وراندې کړو چې د پښتونستان (صوبه سرحد) سیمه دې یا خو خپل مورني تاتوبي افغانستان ته واپس حواله کړے شي یا دې په ریفرنډم کښې د پښتنو په وراندې د خپل ازاد ریاست (پښتونستان) تجویز هم کښښودے شي ۔ په دغه وړځ لندن کښې د افغانستان سفیر نبغ په نبغه د برطانیه د بهرنو چارو وزیر سره ولیدل او خپل دغه دریځ یې ورته وراندې کړو ۔ (۶۲) دارنګې په شلم جون افغان حکومت برطانوي حکومت ته یوه یادګاري مراسله واستوله چې په کښې خپل دریځ یې ورته څه دارنګې په ګوته کړے وه:

"د پښتونخوا (صوبه سرحد) پښتانه په حقیقت کښې د افغانستان برخه دي ۔ څوک چې تېره پېړۍ کښې اېنګلو ۔ افغان جنګونو په دوران کښې برطانیه حکومت په خپله ولقه کښې اخستي وو ۔ د پښتنو یا د پښتونخوا د هندوستان سره اړیکې مصنوعي شان دي ۔ نو په دغه لحاظ باید چې یا خو پښتونخوا (صوبه سرحد) ته د یو ازاد ریاست حق ورکړل شي او یا بیا د خپل مورني وطن افغانستان سره شامل کړل شي ۔" (۶۳)

اقبال وزیري په خپل کتاب "دباچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه" کښې په تفصیل سره د پښتونستان د پاره د افغانستان په هلو ځلو رڼا اچولې ده ۔ د افغانستان صدراعظم شاه محمودخان چې په برطانیه کښې د ماونټ بټن مېلمه وو او ماونټ بټن دغې مېلمستیا د پاره محمدعلي جناح ته هم بلنه ورکړې وه چې دواړه مشران مخ په مخ د پښتونستان په اړه خبرې اترې وکړي ؛ خو شاغلي جناح د دغې مېلمستیا نه انکار وکړو او سکندر مرزا په خپل سوانح کښې د دغه واقعې

Scanned by CamScanner

د بیانولو نه پس ډېر په افسوس سره وایي چې "هغۀ (جناح) د شاه محمودخان غوندې بې بها انسان په دې مجبور کړو چې د پاکستان سره غېر دوستانه تعلقات وساتي." (۶۴) ـ په ملګرو ملتونو (اقوام متحده) کښې افغانستان د پاکستان د غړیتوب په لړ کښې د رایې ورکولو نه ډډه هم په دغه غرض کړې وه چې پاکستان د پښتونستاني اولس (پاکستان میشته پښتانۀ) په حق خودارادیت باندې ډاکه اچولې ده ـ (۶۵) سید شمس الدین مجروح وایي چې مونږ نه به په هېواد او خارج کښې پوښتنې کېدلې چې ستاسو خاوره باندې نور خلق سره اړم ، نور خلق یې سره تقسیموي ، پخپله تاسو څه دریځ او څه فکر لرئ ـ هغه وخت د افغانستان د عامو اولسونو هم دا خیال وۀ چې دا بهترین وخت دے ـ انګرېز لګیا دے هندوستان یې خپل اولس ته وسپارۀ او د مسلمانانو د پاره ېېل ملک جوړوي ، نو باید چې افغانانو ته خپله خاوره خپله واپس کړي (۶۶) ـ د عزیزالله واصفي په خیال محمد ظاهر شاه د پښتونستان مسئله ډېره په واضح ډول راپورته کړه او که راپورته کړے یې نۀ وے ، نو محمد ظاهر شاه به هم دغسې تورن وے څنګه چې امیرعبدالرحمان د ډېورنډ سره د معاهدې منلو په ترڅ کښې تورن دے (۶۷) ـ محمد ظاهر شاه نه پس سردار محمد داود خان د پښتونستان مسئله ډېره په تېزۀ ونیوله ، د پښتونخوا یو شمېر سیاسي مشرتابه ته یې د پښتونستان سیاسي مشرانو په حېث د ځان سره وساتل او باقاعده یې ورته مرکزونه (کېمپونه) جوړکړل ـ نورمحمد تره کي، حفیظ الله امین ، ډاکټر نجیب الله ، ملا محمد عمر ، حامد کرزئ او اشرف غني پورې د افغانستان یو حکمران هم نۀ خو د ډېورنډ کرښې منلو ته چمتو شوے دے او نۀ یې د پښتونخوا اولس محکومي له زړۀ وتې ده ـ البته دریځ یې کمزورے شوے ضرور دے چې وجه یې د افغانستان داخلي ستونزې دي او د افغانستان بې کچه بې وسي او ناتواني ده ـ

Scanned by CamScanner

د افغانستان د حکومت . دانشورانو . لیکونکیو او اولس د کوزې پښتونخوا د پاره همېشه راسې په سرکاري دستاویزاتو کښې. خپلو وېناوو کښې . خپلو لیکونو کښې او خپلوسندرو کښې د "پښتونستان" کلمه کارولې ده. تر ننه پورې هغوي پاکستان کښې پښتنه خاوره په رسمیت سره د "پښتونستان" په نوم پېژني.

- **پښتونستان:**

جدا هېواد . افغانستان سره یووالے او که د یوې صوبې نوم:

د پښتونستان تصور په پاکستان کښې په ېلا ېلو معنو کښې واخستے شو . د بنو د قرارداد نه ډېر وړاندې او وروستو د ېلاېلو مبارزینو د هلو ځلو نه مونږ ته ښکاره په نظر راځي چې د یو ازاد او خپلواک هېواد په معنو کښې اخستے شوے دے . د بنو د قرارداد په ترڅ کښې چې کومه مبارزه په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کښې پېل شوه چې مشري یې فقیر ایپي کوله . هغه هم د یو ازاد او خپلواک هېواد د پاره وه . د پښتونستان د مبارزې په ترڅ کښې پښتونستان د یو جدا هېواد په حېث تفصیل مونږ وړاندې ذکر کړے دے . د افغانستان د سرکاري دریځ تر مخه پښتونستان د هغې خاورې نوم دے چې اول د سیکھ بیا د برطانیه او بیا د پاکستان په ولقه کښې تر ننه پاتې شوې ده . د افغان حکومت د پښتونستان مقدمه د خپلې خاورې په حېث وړاندې کړه چې تفصیل یې وړاندې ذکر شوے دے.

خو هر کله چې باچاخان د پاکستان وړومبے قانون سازې اسمبلۍ ته کوم خطاب وکړو او د پاکستان د تسلیمولو یې برملا اعلان وکړو او دا یې زیاته کړه چې د پښتونستان نه زمونږ مراد په پاکستان کښې د ننه د پښتنو یوه صوبه او د هغې صوبې نوم او د دغې صوبې

Scanned by CamScanner

مکمله داخلي خپلواکي ده.

"باچاخان د پارلېمنټ غړے وو . نو هغوي د مرحوم لياقت علي خان د يو سوال په جواب کښې فرمائيلي وو چې پښتونستان د اتيا لکهه پاکستاني پښتنو د يوې داسې تپې نوم دے چې د پنجابيانو . سندهيانو او بنګاليانو د تپو نومونه پنجاب . سندهـ او بنګال دي... باچاخان او نورو پښتنو کله دا وئيلي دي چې پښتونستان دې د پاکستان نه ازاد او بېل يو ملک جوړ کړے شي۔" (۶۸)

نو دلته نه د خدايي خدمتګارانو په نزد د پښتونستان تصور په پاکستان کښې د ننه د پښتنو يوه صوبه او پښتونستان د دغه صوبې نوم پاتې شو ۔ د خدايي خدمتګارانو په شاعرۍ کښې او د خدايي خدمتګارانو رهنمايانو په بيانونو کښې د پښتونستان تصور هم مونږ ته صرف تر دغه ځايه پورې ښکاري ۔ لکه د مهدي شاه باچا . ولي محمد طوفان او قلندرمومند په ادرات کښې خپره شوې د ۳۱ دسمبر ۱۹۵۷ د رهبر مجلې ادارتي ليکنه کښې ليکلي شوي دي.

"د لوېديز پاکستان د يوې تپې (ون يونټ) نهٔ ماتېدل او د پښتونستان نهٔ جوړېدل اوس د پښتون قام د صبر امتحان اخستل دي . . . دا وخت په ټول پاکستان کښې يواځې د پنجاب جاګيرداران او پنکه ور داسې دي چې هغوي به ځان له پاتې شي ۔ د پښتونستان . د سندهـ . د بلوچستان او نمر ختيز پاکستان ټول خلق د پنجابيانو د لاسه پوزې له راغلي دي۔" (۶۹)

Scanned by CamScanner

په دغه لیکنه کښې مونږ وینو چې د پښتونستان نوم د پښتنو د یوې صوبې د پاره کارول شوے دے۔ دلته د دوي په نزد د پښتونستان تصور تش د پښتنو د صوبې تر نوم پورې محدود پاتې شوے دے۔

خو بل طرف ته د خدایي خدمتګارانو مخالفینو پنجابیانو او وفاق پرسته پښتنو په بیانونو او لیکونو کښې د پښتونستان تصور د پاکستان د ماتولو تصور ګڼلے کیږي او په دغه ترڅ کښې په پاکستان کښې د ننه د پښتنو د خپلواکۍ (صوبایي خودمختاری) غوښتنه کمزورے کوي۔

د پښتونستان تحریک ته چې کله مونږ په تاریخي تناظر کښې ګورو ۔ نو دا تحریک په دوو پراوونو کښې زمونږ مخې ته راځي۔ په اول ځل هلته څنګه یې چې مونږ په برنو پانو کښې په تفصیل سره ذکر وکړو چې د هندوستان د وېش مرحله راغله ۔ نو هندوستان میشتو پښتنو د هندوستان یا پاکستان کښې د شمولیت په ځاے د خپلواک ریاست "پښتونستان" مطالبه وکړه (د بېله خبره ده چې بنو قرارداد په اصل متن کښې د پښتونستان ذکر شته او نۀ پکښې د ازاد ریاست یا هېواد ټکے شته ۔ تش پکښې د پښتنو خپل ازاد حکومت یاد شوے دے) او په دغه ترڅ کښې یې تحریک (په خصوصیت سره د فقیر ایپي مبارزه او تحریک) په وراندې بوتلو چې ټول سفر یې مونږ درته په تېرو پانو کښې زووت کړے دے ۔ دویم ځل هله کله چې په پاکستان کښې د ورو قومیتونو د خان عبدالولي خان په مشرۍ کښې په خپلو وسیلو د خپل واکۍ مبارزې (۱۹۷۵ـ ۱۹۶۰) دوام لرلو او د پښتنو ځینې سیاسي مشران چې افغانستان کښې یې د جلاوطنۍ ورځې شپې تېرولې او د افغانستان حکومت (سردار محمد داود حکومت) دوي ته د پښتونستان د مشرتابه په نوم تبریک لرلو ۔ ریډیو نشریات یې کول ۔ د پښتونستان ورځې یې لمانځلې او مشاعرې او اشاعتونه یې کول او باقاعده یې

Scanned by CamScanner

مرکزونه ورته جوړ کړي وو. دغه دور متاسفانه د څه شکونو سره مخ دے چې څېړنې ته اړتیا لري چې یو خوا د خان عبدالولي خان په مشرتابه کښې د ایالتي خپلواکۍ (صوبایي خودمختاری) او صوبې (شمالي مغربي سرحد) نوم په پښتونستان بدلولو پارلماني مبارزه روانه ده او بل خوا د دوي ځینې ملګري په کابل کښې د پښتونستان (د ببل هېواد) ورځې لمانځي.

اخر کښې خبره دې حد ته راغله چې د پښتنو مشرتابه له خوا د پښتونستان په ځاے د "پښتونخوا" نامه مخې ته راغله. د خان عبدالولي خان د خلې بیان دے:

"... دوي (پاکستاني چارواکو) وېل چې د پښتونستان نوم ډېر بدنام شو، دا بین الاقوامي طور مور د پاره ډېر مشکلات پیدا کوي. افغانستان پکښې داخل دے. مور وېل ډېره ښه ده، دا یو (بل ډېر) زور نوم دے چې د پښتو په ادبیاتو کښې او په تاریخ کښې راغلے دے... پښتونخوا د دې منطقې نوم ؤ، نو ځکه چې دې صوبې له مور د پښتونخوا نوم کېږدو." (۷۰)

او بیا ېرې ولیده چې د دوي دا پارلماني مبارزه په کال دوه زره لسم کښې د صوبې نامه "خېبر پښتونخوا" په بدلولو وتوانېده.

خو دا خبره په خپل خاے موجوده ده چې نن هم د پښتنو داسې بې شمېره زلمي شته دي چې د پښتونستان د اولنۍ مبارزې (۱۹۴۷-۱۹۶۰) د فقیر ایپي تحریک) په رنګ د پښتونستان معنا د یو ازاد او خپلواک هېواد په شکل کوي او غواړي چې هغه مبارزه اوس هم وشي، کومه چې د پاکستان د تاریخ په اوله لسیزه کښې شوې وه، خو دغه زلمي خوارهٔ وارهٔ دي او یو منظم پلېټ فارم ته اړتیا لري. ځنې بیا پښتونستان د لر او بر پښتنو یووالي ته وایي چې د دې په کټه

Scanned by CamScanner

خو خبر دي . ولې په نقصان يې ښکي نۀ دي خبر ..... لر او بر پښتنو يووالي کښې د افغانستان د وښل کېدو (په خله مې خاورې) خطره مخې ته راتلے شي او ځنې بيا د پښتونستان معنا په پاکستان کښې د ميشتو پښتنو د يوې شريکې صوبې په شکل کښې کوله : خو هر کله چې د سرحد صوبې نوم په پښتونخوا واوړېدو . نو د پښتونستان دغه معنې هم سر وخورو . اوس که چرته په پاکستان کښې د ټولو پښتنو سيمو يو شريک ايالت (صوبه) جوړېږي هم . نو نامه به يې د پښتونستان په ځاے پښتونخوا وي.

حوالې

1. عطايي ، م ابراهيم ، د پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې، چاپ ځاے نه لري ، ۱۳۴۸ د سنبلي نهمه، مخ: ۱۰۲
2. کاکاخېل ، بهادر شاه ظفر ، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې ، اووم چاپ ، پېښور ، يونيورسټے بک ايجنسي ، ۲۰۰۹ء مخ: ۷۸۴
3. د پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې ، مخ: ۱۰۳
4. دروېش درانې ، د پښتني ژوند کړه وړه ، کوټه ، صحاف نشرياتي موسسه ، مخ: ۳۷۶
5. عطا الله ، قاضي ، د پښتنو تاريخ (جلد اول) ، بنو ، د مروتو ادبي جرګه سرايې نورنګ ، س ن ، مخ: ۲۶۶-۲۶۷
6. متين ، کليم الله ، د خپلواکۍ ټرون ، د سرحداتو وزارت افغانستان (کابل) ۱۳۵۳ کال د وړۍ نهمه ، مخ: ل
7. پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې ، مخ: ۱۰۴
8. هم دغه کتاب ، مخ: ۱۰۴
9. Louis Dupree , *Afghanistan*, Karachi, Oxford university press 2007th edition, p:373
10. د خپلواکۍ ټرون ، مخ: س
11. *Afghanistan*, p:426
12. پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې ، مخونه: ۱۰۸-۱۱۱
13. *Afghanistan*, p:425
14. باقي درانې ، ډاکټر ، پښتانه د تهذيب په څېړو کښې ، کوټه ، صحاف نشرياتي موسسه ، ۲۰۰۸ء ، مخ: ۳۵۸
15. ابراهيم عطايي، دپښتنو اوبلوچو سياسي کرونولوژي، کابل ، د

Scanned by CamScanner

نشراتواو فرهنګي چارو رياست. ۱۳۶۸هـ ش. مخ ۹۹

16 شلمان . فضل زمان . مولوي فضل محمود مخفي . پښور . عامر پرنټرز . س ن . مخ ۳۰۹ (يادګېرنه دا فتوا چې په فارسي ژبه ليکلې شوې ده او د مولوي برکت الله او محمد کاظم يوذرباشي لاسليکونه هم شته. نباغلي فضل زمان شلمان په خپل ياد اثر کښې په پښتو ژباړلې ده)

17 هم دغه کتاب . مخ ۳۲۱

18 هم دغه

19 هم دغه کتاب. مخ ۳۲۳

20 زاهدچودهري . پاکستان کي سياسي تاريخ (جلد دوم) . لاهور . اداره مطالعه تاريخ . ۱۹۸۹ . ص ۴۰۹

21 Erland Jansson, *India, Pakistan or Pakhtunistan*, Stockholm, Almqvist & Wiksell International, Uppsala 1981, p.212

22 اکبر. عبدالاکبرخان . د برصغير پاک و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه. پښور . يونيورسټي پبلشرز . ۲۰۰۹ . مخ ۲۸۸

23 محمدزوارخان کاکا. ډايري . غېر مطبوعه . مملوکه محب وزير

24 وزير . ظاهرشاه . مولوي . د خپلواکۍ جګړې . (پښتوکونکے محمد ګلاب ننګرهارے) . مطبعه دولتي . کابل . ۱۳۳۷هـ . مخونه ۱۲۹-۱۳۰

25 *India, Pakistan or Pakhtunistan*, p.213

26 د برصغير پاک و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه. مخ ۲۸۸

27 هم دغه کتاب. مخ ۲۹۰

28 هم دغه کتاب. مخونه ۲۸۸-۲۹۰

Scanned by CamScanner

29. مولوي فضل محمود مخفي ، مخ: ۳۱۹

30. ډاکټر محمد زبېرحسرت ، دوست محمدخان کامل مومند ژوند او ادبي خدمات ، مردان ، د ادبي دوستانو مرکه ، اپرېل ۲۰۱۳ . مخ: ۴۹

31. هم دغه کتاب ، مخ: ۵۰

32. مياشتنۍ ، لیکوال ، پېښور ، اپرېل ۲۰۰۷ ، مخونه: ۵۶ـ۵۷

33. Faqeer Khel, Mian Wakil Shah, Facebook, 27 November 2013.

34. Dr. Fazal Ur Rahim Marawt, *The Evolution And Growth Of Communism In Afghanistan*, Karachi, Royal Book Company, 1997, p.282

35. جلبل ، سعادت خان ، ناچاپه شاعري ، مملوکه: جواد الله ، اېم فل سکالر ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچاخان پوهنتون ، چارسده ، دورانیه: ۲۰۱۳ـ۲۰۱۴

36. د ۲۱ جون بنو قرارداد په ترڅ کښې چې کوم پمفلټ خپور شوے دے ، هغې کښې د هېواد ټکے هم نشته ، تش د حکومت خبره شوې ده ـ د حکومت تشریح په هر ډول امکان لري ـ دا به پښتونستان وي یا به پښتونخوا وي ، بېل هېواد به وي یا به خپلواکه صوبه وي او که د افغانستان سره به شریک وطن وي او زما خیال دے چې د دغه قرارداد په متن کښې واضح نوم نه استعمالول هم د هر چا د پاره خپله دروازهٔ خلاصه پرېښې ده چې څوک یې څنګه تشریح کوي او څوک یې د کوم اړخ نه په مبارزه کښې ګډون کولے شي ـ وګورئ زمونږ ورکړے د بنو د قراداد اصل متن (پمفلټ)

37. Erland Jansson, *India, Pakistan or Pakhtunistan*, p.213

38. د خپلواکۍ جګړې ، مخ: ۱۳۶

Scanned by CamScanner

39. هم دغه کتاب ، مخ: ۱۳۹

40. هم دغه کتاب ، مخونه: ۱۳۹ ـ ۱۴۰

41. هم دغه

42. زیارمل ، وارد خان ، ډاکټر ، ایا مونږ ربنتیا پښتونستان غواړو؟ google.com

43. وزیري ، محمداقبال ، د پاچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه، چاپ ځای او سن ، مخ: ۸۸

44. Marwat, Fazal Ur Rahim, Dr, *The Faqir Of Ipi*, Content: *Celebrities Of NWFP*, Volume 1 & 2, Edited: Dr.Parvez Khan toru and Dr. Fazal Ur Rahim Marwat, Peshawar, Pakistan Study Centre University Of Peshawar, 2005, p.202

45. ببنوا ، عبدالروف ، پښتونستان ، کابل ، عمومي مطبعه ، ۱۳۳۰، مخونه: ۳۶۸ ـ ۳۶۹

46. هم دغه کتاب ، مخ: ۳۷۴

47. هم دغه کتاب ، مخ: ۳۷۵

48. هم دغه

49. هم دغه کتاب ، مخ: ۳۷۶

50. محمد زوارخان ، ډایري ، مملوکه: محب وزیر

51. پښتونستان ، مخ: ۲۷۸

52. غورغوشتي ، عبدالعلي ، لویه افغانیه، کوټه ، اداره تحقیقات ، فروري ۲۰۱۰ ، مخونه: ۲۶۳ـ۲۶۴

53. لائق شاه درپه خېل ، وزیرستان ، لاهور ، المطبعه العربیه ، اشاعت دوم ، فروري ۱۹۹۴، مخ: ۸۲۲

54. د خیبرپښتونخوا اتلان ، پېښور ، خیبرپښتونخوا ټېکسټ بک بورډ

Scanned by CamScanner

55. پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې ، مخ ۱۱۳
56. هم دغه کتاب ، مخ ۱۱۲
57. هم دغه کتاب ، مخ ۱۱۵
58. ارغنداوے ، عبدالعلي ، ډاکټر ، ژوندۍ خاطرې په تېرو نهو لسیزو کښې د افغانستا تاریخ ، بي بي سي د پښتو څانګه ، ۱۹۹۸ ، مخ ۲۳۷
59. پښتونستان مسئله حق خودارادیت په رڼا کښې، مخ ۱۲۱
60. ژوندۍ خاطرې ، مخ ۲۳۲
61. هم دغه کتاب ، مخ ۲۳۵-۲۳۶
62. پاکستان کي سیاسي تاریخ (جلددوم)، ۴۰۹
63. هم دغه کتاب ، مخ ۴۰۶
64. د پاچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه ، مخ ۸۶
65. هم دغه کتاب ، مخ ۸۸
66. ژوندۍ خاطرې ، مخ ۲۳۳
67. هم دغه کتاب، مخ ۲۳۷
68. میاشتنۍ لار ، مدیر ولي محمد طوفان ، پېښور ، وروميے اګست ۱۹۵۷، مخ ۳
69. رهبر پېښور ، مدیران مهدي شاه باچا ، ولي محمد طوفان او قلندرمومند ۳۱ دسمبر ۱۹۵۷ ، مخ ۳
70. ژوندۍ خاطرې ، مخ ۲۳۹-۲۴۰

Scanned by CamScanner

دویم باب:

د پښتونستان تصور :

د بنو قرارداد نه وړاندې پښتو شاعرۍ کښې

Scanned by CamScanner

وړاندې ذکر وشو چې تقسیم نه مخکښې د پښتونستان څه واضح تحریک خو نۀ وو ، البته یو تصور ضرور وو ۔ دغه تصور مونږ ته د تقسیم نه وړاندې د پښتو په شاعرۍ کښې صفا لیدۀ شي ۔ راتلونکو پانو کښې مونږ د دغه تصور یوه مطالعه وړاندې کوو۔

څنګه چې مونږ په وړومبي باب کښې ولوستل چې د پښتونستان تصور یا تحریک د شلمې پیړۍ د پنځوسمې لسیزې نه پښتو سیاست او بیا شاعرۍ ته رانوتے دے ۔ خو د پښتونستان تصور اصل کښې د پښتنو د یووالي یو تصور دے ، نو په دغه لحاظ مونږ دلته تش دا رعایت پیدا کوو چې د پښتنو د یووالي تصور په ښکاره او په ډېره نره پېرایه کښې په وړومبي خل ستر خوشحال خان خټک راپورته کړے دے نو که دلته د هغوي د یو څو شعرونو د نقل کولو کستاخي وشي ، نو بده به نه وي۔

ستر خوشحال خټک د پښتنو د یووالي تصور څه داسې وړاندې کوي

Scanned by CamScanner

درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار
په یـوه ژبه پښتـو سـره وئیل کړو
ولـې هیڅ له یو بل نه شو خبردار

(۱)

البته دا خبره باید وکړے شي چې د خوشحال خټک په وراندې د پښتون قام داسې صورتحال نه وو . څنګه چې د شلمې پېړۍ شاعر ورسره مخ دے - ټکړې ټکړې وطن یې په برخه شوے دے . ځکه خو د خوشحال په شاعرۍ کښې د پښتنو د یووالي تصور د قبیلویت نه د راوتلو د پاره یو غږ دی او د ولي محمد طوفان او ملنګ جان په شاعرۍ کښې د پښتنو یووالے د دوو ملکونو ترمنځ د رابنکلې شوې کرښې له منځه وړلو غږ دے - دلته مونږ تش د پښتنو د یووالي د پاره پورته شویو غږونو روایت ته یوه اشاره کول مطلب وو - نور دا بحث هم په دغه ځاے پرېږدو او نېغ د شلمې پېړۍ پښتو شاعرۍ ته ځان را رسوو-

مولانا فضل محمود مخفي (۱۸۸۴ـ ۱۹۵۸) هغه هستي ده چې د پښتو د نوي ادب ابتدا ترې نه کېږي - نومورے په قام او اولس سخت مئین وو او د باچاخان کلک ملګرے وو - د تحریک اصلاح الافاغنه او بیا د خدایي خدمتګار تحریک په بانیانو کښې دے - دوي خپله شاعرۍ کښې مدام پښتنو ته د یووالي او ازادۍ پېغام او شعور ورکړے دے - د افغانستان د استقلال د ورومبني جشن په مهال د غلامۍ او ازادۍ په موضوع چې مخفي صېب کوم تقریر کړے وۀ ، د هغې په اړه د سوېټ یونین د سفیر دا وېنا د هغوي په سیاسي بصیرت یو

Scanned by CamScanner

لوے دلیل دے چې " که په دنیا کښې د مخفي صبب غوندې یو څو کسان نور پیدا شي ، نو ټوله دنیا به د غلامۍ نه ازاده شي۔" (۲)

د مخفي صبب لاندیني نظم کښې د پښتنو د یووالي یو ډوب سیاسي شعور مونږ وینو ۔ دا نظم باچاخان په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې نقل کړے دے او د دغه نظم څۀ برخه خان عبدالولي خان د خپل کتاب "باچاخان او خدایي خدمتګاري" په ورومبۍ صحفه هم نقل کړې ده او هم دغه نظم د کابل نه چاپ "پښتنے ارمان" نومې کتاب کښې شامل کړے شوے دے ۔ دغه نظم چې د خورو ورو پښتنو د یووالي یو په زړۀ پورې پېغام لري ، کښې مخفي صبب څۀ داسې خیالات وړاندې کوي:

خاونـــده! تۀ ودانه کـــــړې
زمونږ د یووالـي حجـــــره
یو ځاے پکښې د خانه کړې
د پښتنـــــو ډلـه خـــوره
یو زړۀ یو سا یو شانې کړې
دې بېل او بېل پښتون لـره
کشمیر نه تر هـرات هـــورې
بلـوچستـــان نه تـر دورې
دا ټول پښتون دې هـر چېرې
څـۀ رنګـــــې پـــروت زرې
د یـو وجود په شـانـې کړې
یـــا خـــدایـــه! دا زره زره

(۳)

د دغه نظم په مندرجاتو کښې مونږ د یو داسې خواهش او

Scanned by CamScanner

ارمان اظهار وینو چې د پښتنو په یووالي تمامېږي او دغه یووالے د یو جدا او خپل واکه ریاست په موجودګی کښې ممکن دے ۔ باقاعده پکښې د کشمیر نه تر هرات او تر بلوچستانه پورې د پښتنو د تېرونو ذکر شوے دے ۔ دغه مونږ ته د مخفي صېب په ذهن کښې موجود د یو ځانګړي وطن جغرافیایي حدود په ګوته کوي۔

محمد اکبر خادم (۱۸۸۸ ۔ ۱۹۵۴) د تحریک ازادی یوه نۀ هېرېدونکې نامه ده۔ یو پُر جوش او د ولولې نه ډک مقرر وو۔ د شاعرۍ موضوعات یې هم د ازادی د تحریک سره تړلي دي ۔ په خپله شاعرۍ کښې یې د پښتون وطن د یووالي قیصه هم شته او د پښتون وطن جغرافیایي حدونه یې هم ښائیلي دي او دغه حدبندي یې دا درک راکوي چې خادم صېب د پښتونستان (چې هغه وخت دا نوم نۀ وو کارول شوے) یو تصور لرلو او پښتنو ته یې هم دغه شعور په خپله شاعرۍ کښې او تقریرونو کښې ورکولو۔ دا لاندیني شعرونه یې د نمونې په ډول د لوستو جوګه دي:

که دې خیال د زادی دخپل وطن وي
که دا اور دے لګېدلے په بدن وي

معشوقه لا پـه ژړا زاری مونده شي
ازادي ســره یو دار وي بل رسن وي
نۀ کلونه د غلام په غلامـــی کښې
یو ساعت د ازادی که زنکـــدن وي

د سرحد په ازادی کښې قربانې شه
تر جهلمه که دا ملک د سـره بن وي

Scanned by CamScanner

ته پوکـــي د ازادۍ ورکـــړه خـادمه!
چې لمبه شي که په چا کښې څه کلخن وي

(۴)

دغو شعرونو کښې یو خاے د پښتون وطن حدبندي تر جهلمه پورې یادوي ـ دا هغه محکوم وطن دے چې پېرنکي په ۱۸۹۳ لوے افغانستان نه راشوکولے دے ـ دلته د شاعر سره د هندوستان د ازادۍ نه زیات د پښتنو خپل تاریخي وطن کټل زیات مهم ثابت کېږي ـ دغه تصور یې په لاندینو شعرونو کښې نور هم زیات په وضاحت سره وراندې کړے دے

د غلام کټه همېش د بل خـــــوراک دي
او د دۀ عبث خـوراک وينـــې د خان شي
غلامي کښې چا کـــور نۀ دے ودان کړے
نن امېد پرې د ودان کړي سبا وران شـــي
د جهـلم نه تر هـــراته يو پښتـــــون دے
مناسب دي چـې د ټولو پښتون خان شـــي
که اواز د مسلمـــان د هنـــدو يو شـــو
په څـو ورځـو کښې ازاد به هندوستان شي
هندوستان دې خداے نصيب کړي د هندیانو
په ســرحد دې جنډه نښخه د افغان شـــي

(۵)

دلته خادم صېب په جار وئيلي دي چې هندوستان سره زمونږ هيڅ کار نشته. زمونږ کار بايد چې د خپلې خاورې سره وټرل شي ـ مونږ دې بېرته خپلو وروڼو او خپلې خاورې سره پېوست کړل شو ـ د يادولو ور ده چې خادم محمد اکبر دا شعر هغه وخت وئيلے دے چې خدايي

Scanned by CamScanner

خدمتګار تحریک په کانګرس کښې د شاملولو نیت ښکاره کړو ـ د خدایي خدمتګار تحریک په ۱۹۳۴ کال کښې په کانګرس کښې د ګډولو په فیصله د باچاخان سره اختلاف پیدا شو او دا اختلاف دومره پورې وغزېدو چې خادم صېب یې د "پاکستان"نومې کتاب په لیکلو مجبوره کړو او خپل دغه کتاب کښې یې د خفګان غټه وجه په دغه ټپه کښې سمنباله کړې ده

باچا امام زهٔ مقتدي وم
ګاندهي امام شو ځکه ځان له نیت تړمه
(۶)

د خادم محمد اکبر خفګان په خپل ځاے خو د "پاکستان" په شان کتاب لیکل او د پاکستان ترانې وئیل بیا په خپله د دوي په قام پرستۍ او وطن دوستۍ بلها ډېر شکونه رامخته کوي ـ باچاخان خو خپله لاره تر مړکه پرېښې نه ده ، ولې محمد اکبر خادم بیا خپله لاره ډېره زر بدله کړې ده ـ

په دغه زمانه کښې عبدالمالک فدا (۱۸۹۸ـ۱۹۵۷) د شاعرۍ په میدان کښې یو جوت نوم دے ـ د پښتون قام او پښتنې خاورې د ازادۍ د پاره د باچاخان په عملي مبارزه کښې هم ډېر وراندې وراندې وو ـ " مړکیه مه راځه درځمه" نومې نظم یې ډېر زښت شهرت او مقبولیت لري ـ د دغه نظم په یو بند کښې وایي:

سرې جامې راکړه زما موري
سر راله غوړ کړه سترګې توري
نوم د پښتون دے په ما پورې
په پښتنه خاوره خپل سر قربانومه
مړکیه مه راځه درځمه (۷)

Scanned by CamScanner

د نظم دا بند يې په واز کومې نعرې وهي چې د وطن د شناخت او د وطن د ازادۍ تاريخي او سياسي شعور لري ۔ د خپلې خاورې او اولس د ازادۍ د پاره د هرې قربانۍ عزم هم پکښې جوت برښي ۔ دارنګې په يو بل خاے کښې وايي

بېل بېل نه يو زمونږ قام او وطن يو دے
که روحونه پکښې بېل بېل خو تن يو دے

(۸)

دلته هم فدا صېب په دغه خبره زور راوري چې مونږ بېل بېل نۀ يو ۔ بلکې يو قام يو او وجود يو ۔ د دغه يو وجود د راغونډولو کار تش په بېل او جدا رياستي چوکاټ کښې ثابتېدے شي ۔ نو زمونږ په خيال د فدا صېب په کلام کښې د پښتنو يووالے او د پښتنو ازادي دوه غټې نکتې موجودې وې ۔ د عبدالمالک فدا يوه ډېره مشهوره ترانه هم د پښتون وطن د پاره وئيلې ده چې پکښې تش يې د پښتون وطن د ازادۍ تصور وراندې کړے دے:

د غېـــرو نه ازاد اوســې وطنــه د پښتـــون
مسکنه د پښتون
په سرو وينو اباد اوسې ګلشنه د پښتـــون
وطنـــه د پښتون

په کل اېشيا کښې پروت دے ستا په سر د عزت تاج
اې زمکـــــــې د جنت ۔ جهان کړې ستا صفت
مجبور دې ټول جهان کـــړه په پښتنه د پښتون
ګلشنه د پښتون

Scanned by CamScanner

ستا مینډې زمرکتې دي او زامن دې شنۀزمري دي
فوځونه حیدري دي . میدان کښې په بري دي
څرمن مدام اوباسه له دشمنه د پښتون
کلشنه د پښتون

(۹)

دغه ترانه کښې هغه د پښتون وطن ته کلشن وایي او د کل اښیا زرهٔ او مرکز یې یادوي . د دې ښکاره ثبوت دا دے چې فدا صهب په وراندې د پښتنو ستر کور افغانستان سره د یووالي او ازادۍ تصور موجود دے چې مونږ یې د پښتوستان د تصور متبادل ګڼو.

فضل احمد غر (۱۸۹۹ـ ۱۹۶۵) د شلمې پیړۍ د وروستۍ نیمایۍ ډېر اهم شاعر دے . د پښتو او پښتنو د محرومۍ او بې ارزۍ غږ یې مدام پورته کړے دے . د غر صهب په اړه مونږ د مقالې په دویم باب کښې لږ ډېر تفصیلات بیان کړي دي او دا مو جوته کړې ده چې غر صهب د کوم تحریک یا ګوند سره څهٔ براه راست تعلق خو نهٔ وو . ولې د هغهٔ د شاعري د لوستو نه پس مونږ ته دا درک راکوي چې غر صهب د پښتنو مسئلو د پاره ډېر زیاده سنجیده پاتې شوے دے.

د فضل احمد غر په شعر کښې هم لکه د دغه وخت د نورو شاعرانو په شان د پښتونستان د تحریک نخښې نمونې څهٔ ډېرې واضحې نهٔ دي . البته دغه اړخ ته یکښې اشارې ضرور شوې دي:

په پښتو خبرو شرم مونږ ته ښکاري
تر دې حده قومیت زمونږ مړ دے
خپل وطن او ژبه پرې نه ږدي افغانه
چې هم دغه د قومي ترقۍ جړ دے

(۱۰)

Scanned by CamScanner

ټول قامونه د وصال مزو کښې ډوب دي
ته لا هغسې ټپې د ببلتون وايې
(۱۱)

دا شعر په نړۍ کښې قام پرستۍ تحریکونو ته او د دغه تحریکونو په ترڅ کښې د قامیتونو په بنسټ د نوو ریاستونو جوړېدو خوا ته اشاره کوي ـ د دغه پس منظر په رڼا کښې غږ صېب په پښتنو غږ کوي چې چرته نور قامونه د یووالي خوا ته روان دي . ولې پښتون ته لا تراوسه د یووالي احساس نشته دے او دارنګې د یو بل نه جدا او لرې ژوند کوي ـ

دارنګې د یو بل شعر نه یې مونږ ته لر او بر د یووالي احساس نور هم په مضبوطه توګه مخې ته راځي:

لاس او غاړه شه اوس دا خبرې پرېږده
چې ګل خانه ته مومند یې ، زهٔ وزیر یم
(۱۲)

دغه شعر کښې هغه وزیر ګل خان مومند ته مخاطب دے چې دا قبیلوي ژوند نور پرېښودل دي . نور به لاس او غاړه کېدل وي ـ دا شعر یې د لر او بر له منځ نه د کرښې ویستلو په لوري یو زړور اواز دے چې په بین السطور کښې د پښتونستان تصور یاخواهش ته وده ورکوي ـ

عبدالحکیم ستي (۹۹ یا ۱۸۹۷ ـ ۱۹۴۷) (۱۳) چې په ستي جان مشهور دے ، د چارسدې د پرانګو کلي اوسېدونکے او د باچاخان د فکر او لارې کلک ملګرے وهٔ . دوي هم د پښتون وطن د ازادۍ ، سوکالۍ او ابادۍ ستر ارمان په زړهٔ او ذهن کښې ځاے کړے وهٔ ـ ټوله شاعري یې د باچاخان د فکر علمبرداره ده ـ د شاعرۍ زیاتره برخه یې پښتون مجله کښې وخت په وخت چاپ شوې ده ـ

Scanned by CamScanner

ستي جان په لاندینو شعرونو کښې د پښتونستان تصور څه دارنګې مخې ته راوړے دے:

ما وې زهٔ به کړم کور جور د پښتنو
بربنډ وري به کړم مور د پښتنو
ما وې زهٔ به یو پښتون د بل خېرخواه کړم
ورکوم به سړي خور د پښتنو
ما وې زهٔ به یو پښتون د بل نه ځار کړم
وبه ښایم دنیا ته زور د پښتنو
ما وې زهٔ به د اقبال سمنده زین کړم
هر زلمے به پرې کړم سور د پښتنو

(۱۴)

دغه شعرونو کښې د پښتنو کور جوړول ، پکښې بربنډ په جامه پټول او وري په خپله مړول ، پښتانهٔ د یو بل په غم او ښادۍ کښې سره ټړل او شریک کول او بیا ټولې نړۍ ته د پښتنو زور ښودل ، دا هر څه پښتون په یو ملي وحدت او یو انتظامي ساخت کښې د راغونډولو اشارې دي او د پښتنو د یو ځانګړي هېواد/ملک یو تت غوندې تصویر دے۔

سعادت خان جلبل (۱۹۱۴ ـ ۱۹۷۹) د ترنګزو کلي چارسدې د خدایي خدمتګار تحریک د شاعر په توګه پېژندلے کېږي او د قامي او وطني شاعرۍ بې شمېره نمونې ورسره ناچاپه پرتې دي۔ په نظمونو ، چاربېتو او غزلو یې لاس بر وو۔

ترڅو پورې چې د پښتونستان د تصور خبره ده ، نو د دوي په شاعرۍ کښې د پښتونستان نښې ډېرې نمونې پیدا کېدے شي۔ البته د

Scanned by CamScanner

دوي د شاعرۍ نه زياتې نمونې به مونږ د کتاب په دريم باب کښې څکه ورکوو چې هغه وخت د پښتونستان تحريک کښې دوي فعال کردار ادا کړے دے او دلته يې مونږ تش يو نظم "مستقبل" نه څه برخه راخلو چې مونږ داسې اندازۀ لګولې ده چې دا ياد نظم د هندوستان د تقسيم نه وراندې ليکلے شوے دے چې د پښتونستان ډېر ښکاره تصور پکښې موجود دے:

دوند دے په اسمان کښې که وريځ د اسماني
جنج د ازادۍ دے که جوړ لام دے طوفاني

روښه مې د سندھ بنګال پنجاب بلوچستان دي
خپل ملاټړ ګڼمه که زلمي د هندوستان دي
خپل دې حکومت وي چې تابع د کوم نشان دي
ببله دې حصه د پښتنو شي افغاني

نر پښتون زلمے شه د زلمي پښتون په لار اوسۍ
سختې قربانۍ ته پښتنو ځلمو تيار اوسۍ
خپل وطن بيا خپل کړې چې د خپل وطن واکدار اوسۍ
جوړه په خدمت کا د وطن خپله خاني
په خپل وطن چمنستان مئين قصور لرمه
شراب مې څکلي دي د عشق سترګې مخمور لرمه
زۀ جوړوم پټهانستان د ملک دستور لرمه
غواړو اسماني قانون وطن کښې قرآني

(۱۵)

دغه نظم کښې د سندھ ، بنګال ، پنجاب ، بلوچستان او د

Scanned by CamScanner

هندوستان د زلمو خبره کول او ډېره په خوش طبیعتۍ او ډېره په اعتماد کول . تر دې پورې چې د هندوستان زلمي خپل ملاتړ بولي ، دا هر څه دا ثابتوي چې د تقسیم نه وړاندې لیکلے شوے دے . که ډېر وړاندې نه وي هم . خو دا ثابتوي چې د تقسیم په مسئله لا د کانګرس او خدایي خدمتکارو ترمنځه ګیلې مانې منځ ته وې راغلې چې دا نظم لیکلے شوے دے .

دا نظم مونږ ته دا درک راکوي چې د بنو قرارداد یا د تقسیم د د مرحلو نه وړاندې هم د خدایي خدمتکارانو شاعرانو سره د پښتونستان تصور ښه ښکاره او واضح وو .

د غني خان (۱۹۱۴ - ۱۹۹۶) په شاعرۍ کښې هم د پښتونستان د تصور نخښې نښانې مونږ ته په نظر رادرومي . که څۀ هم غني خان د کوم مخصوص سیاسي فکر خاوند شاعر نۀ دے پاتې شوے . ولې د پښتونستان د تصور نه یې ځان ځکه هم نۀ دے خلاص کړے چې دغه تصور د دوي په کورنۍ پورې ژورې اړیکې لرلې دي . خپل یو مشهور نظم "وصیت" په اختتام کښې چې هغۀ کوم څۀ وئیلي دي ، هغه ښکاره اشارې د یو ازاد او خپلواکه ریاست په لور دي :

چې خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړ یم راځئ توکئ پرې لاړې
که په خپلو ینو نۀ یم لمبدلے
په ما مه پلیتوئ د جمات غاړې
چې قطرې قطرې مې فوځ د انګریز نۀ کړي
موږې ما پسې په کوم مخ به تۀ ژاړې
یا به دا بې ننګه ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

(۱۶)

Scanned by CamScanner

دلته غني خان واضح پيغام ورکوي ، پښتون اولس ته چې دا خاوره به ازادوم او يو داسې نظام او قانون ته به پکښې رواج ورکوم چې د عدن باغ به ترې جوړ شي ـ غني خان چې کومه ترانه د " اې زما وطنه" په نوم وئيلې ده او د خپلې سيمې کوم تعريف او توصيف يې بيان کړے دے ، هغه هم دا ښکاره کوي چې ګني شاعر د يو ځانګړي وطن ارمان لري

عقل مې ايرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
سترګې مې قربان شه ستا د پاره د سوچونو نه
ځار شمه قربان شم ستا د خاورو د کورونو نه
ستا زړۀ کښې پرتې دي ټولې تلې زمانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

يا به دې زۀ سيال کړمه وطن د جهان
يا به ستا په خپو کښې تورې خاورې کړمه ځان
ځان به درې ورې کړم خو تا به کړم ودان
نر يمه پښتون يم تا ته يادې افسانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

(۱۷)

په يوه بله موقع غني خان د پښتون او افغان د ګټلو خبره ډېره په پرېکړي انداز کوي ـ د پښتون او افغان دا نعره يې د خپل وطن د يو کولو ارمان ثابتوي :

پاڅه اې زلميه! مستي توره او ايمان واخله
شرق شه اور شه تندر شه او نر خپل جانان واخله

Scanned by CamScanner

خار دې د شنو برېتو شم غلام د غلام زوے يې ته
پروت په دووسې کښې يې که زر خله زلمے يې ته

.....

پاڅـــه ننکياليه! نن دلبـــر او جانـــان وکـتـــــه
نوم د پښتـــون وکته نامـــــوس د افغـان وکتـه
ټول جهان حېران کـــره دخپـل ځان په تمـاشه
اې د احمـد زويه! اې بچيـــه د شهـــرشـــاه!

(۱۸)

د بنو د قرارداد نه وراندې لکه چې مونږ وراندې وئيلي دي چې د پښتونستان تش خور وور تصور ليدے کېدے شي چې مونږ په بره ذکر شوې شاعرۍ کښې وليدو۔ دلته دا بايد ووايم چې د ډېرو خدايي خدمتکارانو شاعرانو شاعرۍ ته زما رسېدنه ممکنه نه شوه چې په پوره ډول هغه تصور مخې ته رانغے، د کوم چې زمونږ لوستونکي هيله مند وو۔ خو بيا هم زمونږ مقصد صرف دا نبودل وو چې د پښتونستان تحريک راپاڅېدل يا د پښتونستان غوښتنه يوه اتفاقي خبره نه ده ، بلکې دا يو تاريخي او روايتي قيصه ده چې د پښتنو په ذهن او شعور خوره ده۔

Scanned by CamScanner

حوالې

1. خوشحال خټک ، ارمغان خوشحال ، (مقدمه سيدرسول رسا) پښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، دويم ځل ۱۹۹۱ ، مخ:۱۸
2. همېش خليل (مولف) ، پښتانه ليکوال (اول ټوک) ، پښور ، دارالتصنيف ، ۱۹۵۸ ، مخ:۲۲
3. خټک ، مغموم ، يارمحمد ، ډاکټر ، پروفېسر، د ازادۍ تحريک او پښتو شاعري ، (مقام ندارد ، مې ۲۰۰۷ ، مخونه:۱۹۰-۱۸۹
4. هم دغه کتاب ، مخ:۱۵۸
5. هم دغه کتاب ، مخ:۱۶۰
6. محمداکبرخادم ، پاکستان ، د سر لس مخونه نه لري او د ډاکټر محمد زبېرحسرت په شخصي کتابتون کښې خوندي دے ۔ مخ:۲۵
7. سلمی شاهين ، ډاکټر ، پروفېسر ، جديد نظم په پښتو کښې ، پښور ، پښتو اکېډمي پښور پوهنتون ، مخونه:۱۴۲-۱۴۳
8. پښتانه ليکوال ، مخ:۶۸
9. د ازادۍ تحريک او پښتو شاعري ، مخ:۲۱۴
10. غر ، فضل احمد ، د غره ګلونه، بنو ، پښتو ادبي مرکز سرايې نورنګ ، دويم اشاعت ۱۹۹۱ ، مخ: ۱۵
11. هم دغه کتاب ، مخ ۲۰

Scanned by CamScanner

12. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۲

13. همېش خلیل په پښتانه لیکوال کښې ۱۸۹۷ یادوي او د ۱۸۹۹ کاشف جان د پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچاخان پوهنتون چارسده د اېم اې زده کونکے (دورانیه ۱۶ـ ۲۰۱۵) چې په عبدالحکیم ستي جان د ماسټر تهیسس هم لیکي ، څخه د اخستو معلوماتو ترمخه ـ

14. مجله ، پښتون ، ۲۱ جون ، ۱۹۳۹ ، ص: ۳۴

15. جلبل ، سعادت خان ، ناچاپه شاعري ، مملوکه: جوادالله اېم فل سکالر پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچاخان پوهنتون چارسده ، سېشن: ۲۰۱۴ـ ۲۰۱۶

16. خان ، عبدالغني خان ، د غني کلیات ، کابل ، د قومونو او قبایلو وزارت ، ۱۹۸۵ ، مخ: ۵۳۰

17. هم دغه کتاب ، مخ: ۳۲۸

18. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۳۶

Scanned by CamScanner

دریم باب:

پښتونستان تحریک:

د کوزې پښتونخوا د شاعرانو په شاعرۍ کښې

(بنو قرارداد نه تر ۱۹۶۰ پورې)

Scanned by CamScanner



د بنو قرارداد او هندوستان د تقسیم نه پس د پښتونستان تحریک لږ زیات منظم شو او لږ زیات داولس او اولسي نمایندګانو زړونو ته کوزشو۔ ځکه چې د تقسیم سره دوي ولیدل چې اولسونه او قامونه د خپلو خپلو ازادو ملکونو او ریاستونو خاوندان شول۔ نو د دوي هم یوه هیله پیدا شوه چې د مبارزې او مڼو تړو او غوښتنو په صورت کښې پښتانهٔ هم د یو ازاد او خپلواکه ریاست واکداران جوړېدے شي۔ البته د پښتونستان تصور د پاکستاني ریاست د پارَه د مړک اعلان وو ، ځکه دا تصور ګرځول دومره اسان هم نهٔ وو ، بلکې نېغ د ریاست یو منظم فوځ سره ډغره وهل وو او ځکه مونږ ته دغه سوچ د پښتو په شاعرۍ کښې د اشارو او کنایو په صورت کښې خو ښکاره په نظر رادرومي ، ولې د پښتونستان نوم اخستلو ترحده د ډېرو کمو خلقو سره موندل کېږي ۔ شاعري د اظهار یوه داسې ذریعه ده چې تشریحات یې په ډېرو اړخونو ممکن وي ، دغسې که مونږ د تقسیم نه پس د پښتو په شاعرۍ کښې د تشریحاتو په بنیاد د پښتونستان د تحریک خبره شروع کړو ، نو د ډاکټر فضل الرحیم مروت د خبرې سره به اتفاق ضرور کوو۔ ښاغلي مروت صېب چې خپل کتابګوتي کښې د تقسیم نه پس د پښتو د شاعرۍ کوم درې اهم پړاوونه بیان کړي دي ، هغې کښې یې وړومبے پړاو د ووه ځلوېښتم نه تر اته اویایم (1947-78) پورې د پښتونستان په نوم یاد کړے دے۔(۱) خو دلته مونږ هغه ټوله شاعري د بحث لاندې ځکه نه راولو چې د هغې نور نور تشریحات هم ممکن دي او نېغ په نېغه محض هغه شاعري راخلو چې د پښتونستان د تصور نه بغېر یې بله کومه تشریح ممکنه نه وي۔

Scanned by CamScanner

پاکستان کښې په میشتو قام پرسته پښتنو دا ډېر سخت وخت ټېر شوے دے ۔ په یو وخت دځو خوالزامونو سره مخ پاتې شوي دي ۔ که چا به د پښتو یا پښتنو خبره کوله ، نو د پښتونستان په الزام کښې به جېلونو ته رسولے کېدو او که چا به د محرومیو قیصې کولې ، نو هم به وربانديې د کمیونزم الزامات لګېدل او جېلونو ته به رسول کېدل ۔

مونږ چې کله هم د هندوستان د تقسیم نه وروستو د پښتو په شاعرۍ کښې د پښتونستان تحریک یا مسئلې ته کتنه کوو ، نو دغه صورتحال او د پاکستاني ریاست دغه ظلم او جبر به زمونږ په نظر کښې وي ۔ په دغه تناظر کښې د پښتونستان ارمان د پښتو هر مترقي او قام پرست شاعر په شاعرۍ کښې په څه نه څه شکل موجود دے ، ولې په ښکاره ځکه نه دے چې بره ذکر شوے صورتحال سره د دغه وخت هر مترقي او قام پرست شاعر مخ پاتې شوے دے ۔

پېژندلے خدایي خدمتګار شاعر فضل رحیم ساقي (۱۹۰۴) د تقسیم نه وړاندې د هندوستان او د پښتنو د یو والي او ازادۍ او خپلواکۍ د پاره د عملي مبارزې سره سره د قلم مبارزه هم جاري ساتلې ده ۔ خو د تقسیم نه وروستو یې د پښتونستان د تحریک یا تصور په حواله هم خپلې تخلیقي سرګرمیو نه سرغړونه نه ده کړے ۔ "پښتونستان" نومې نظم یې په دغه لړ کښې د یادولو دے:

غواړم د خپل سپېره وطن نام او نشان غواړمه
پښتونستان غواړمه ــ د خپله خدایه
د خپل مذهب او د پښتو ساز و سامان غواړمه
پښتونستان غواړمه ــ د خپله خدایه

د پښتنو په خپل وطن خپل اختیار کړې ربه!
دښمن یې خوار کړې ربه!

Scanned by CamScanner

د غنو شپول د خپل کندک نه په دامان غواړمه
پښتـونستان غواړمه ــ د خپله خدايه

(۲)

دغه نظم مياشتنۍ "رهبر" په بره ذکر شوې نامه خپور کړے دے ، ولې په مياشتنۍ "لار" کښې د "پښتونستان غواړم" په نوم چاپ شوے دے (۳) او د "لار" مجلې په وسيله بيا عبدالروف بېنوا په خپل کتاب "اوسنې ليکوال" کښې هم د "پښتونستان غواړم" په نوم نقل کړے دے ۔ (۴) دغه نظم کښې مونږ وينو چې ساقي صېب سره د باچاخان او د هغوي د نورو ملګريو سره سم د پښتونستان تصور موجود دے ۔ هغه په خپل نظم کښې د پښتنو د سيمې د پاره د نوم غوښتنه کوي او په پښتنه سيمه د پښتنو د خپلواکۍ د پاره د خدايي په وړاندې جولۍ غوړوي ۔

د مۍ په اتلسمه کال ۱۹۵۷ د نېشنل کانفرنس يو ستره مشاعره شوې ده چې باقاعده ورته "ملا مې ټرلې د همت په باچاخان پسې ده" تر عنوان لاندې يوه طرحه هم خوښه کړې شوې وه ۔ فضل الرحيم ساقي دغه مشاعره کښې څه نظميه کلام اورولے وه چې څه نمونه يې داسې ده:

د پرنګيـانو نه هم دے بـوډا ميدان وګټه
خپل ځان يې خاورې که او قام له نشان وګټه
هندو له ګرانټ او مسلمان له يې قرآن وګټه
غريبه تا له يـې د ووټ سـازو سامان وګټه

اوس تلـوسه يې د پښتون پښتونستان پسې ده
مـلا مـې ټرلې د همت په باچاخان پسې ده

(۵)

Scanned by CamScanner

دغه نظمیه کلام چې په رهبر مجله کښې هم چاپ شوے دے او هلته پکښې د دغه نقل شوي بند ورومبے شعر څه داسې لیکلې شوې ده:

د پېرنګیانــو نه میدان دې پـهلــوان وګټه
خپل ځان یې سترے که او قام له یې نشان وګټه

(۶)

فضل الرحیم ساقي"د وطن مینه" نومې نظم کښې هم د وطن مینه د ایمان برخه ګڼي او د خپل پښتونستان ارمان کوي او د خپل وطن په کوڅه کوڅه ویاړي او د خپلې شملې هر یو ول ورته د نړۍ د غټو تاجونو نه ورته عظیم ښکاري ۔ د دغه نظم په اخري بند کښې د پښتونستان په حقله څه داسې وایي:

ساقي نشان د خداے رسول په ټول جهان ښخ کړه
د پښتنــو نشــان په خپـل پښتــونستــان ښخ کړه
چرته په کنده کښې د دواړو دشمنــان ښخ کړه
کافــران سېــزهٔ په ببـدیا منــافقـان ښخ کــړه

(۷)

ساقي صبب په"حکومت" نومې نظم کښې که یو خوا ته د حکومت په هغه دسیسو رڼا اچوي چې د پښتونستان نامې اخستونکیو د پاره یې جوړولې ، نو بل خوا د پښتونستان نوم هم د پاکستان نه د جدا کېدو د پاره یا د پښتنو د یو جدا ستېټ د پاره نه کارولی ، بلکې په ریاست کښې د ننه د پښتنو د یووالي او د پښتنو په شناخت پورې یې ټرلې ده:

څــوک بنګاله بهلــوي څوک پښتونستان جوړوي
په سندھ کښې هم څه شرارت دا لیډران جوړوي

Scanned by CamScanner

چې بنجابیان به د پنجاب نه کوم اسمان جوړوي
لـوټ او تلان په حکـومت د پاکستـان جوړوي

دغه قانون کښې خاص د دوي د پاره شق جوړوم
چې ونه خله څوک خوزوي هغوي له پرق جوړوم

(۸)

دغه نظم کښې د وفاق پرسته ګوندونو او حکمرانانو به د یونټ په ضد د صوبو په لیډرانو پسې ملنډې کولې ـ خو د دوي ملنډې په ریښتیا ثابتې شوې ـ نن د بنګال په نوم یو جدا ریاست د نړۍ په نقشه موجود دی چې هر کال ۱۶ دسمبر د پاکستان نه د ازادۍ اخستو په توګه لمانځي ـ

د مردان د سیمې علي حیدر بهادر هم د پښتونستان د پاره په قلمي مبارزه کښې شامل وینو ـ د هغه په نزد پښتونستان د جنت تصور وراندې کوي ـ "که پښتونستان جوړشو" نومې نظم کښې هغه مونږ ته د پښتونستان د عظمتونو او خوشحاله ژوند یو داسې تصویر راکوي چې په دغه تصور مو مینوي او په دغه تصور مو قربانۍ ته تیاروي:

ډېـر زیات ښکلـے به وطن پښتـونستان وي
په پښتون باندې به دا بـې شانه ګـران وي
بـد به هیڅوک دې وطـن ته کتـے نـشي
هـر بچـے د پښتون قام به پرې قربان وي
هیـڅ یوکـس به هر بربنډ او لغړ نه وي
نه به څـوک کـوي ژړا نه به نـالان وي
یو دښمـن د پښتنـو به پکښـې نه وي
ځکه دا چـې دا وطـن به د افغـان وي

Scanned by CamScanner

دلتـه چـرې به په غـورو دا وانه وړې
چـې به مال د مـزدور غـریب تالان وي
دلتـه ګټـه به په خپلـو لاسـو کـېږي
ګټه کړي دې تر هغې چې څو يې توان وي
(۹)

سعادت خان جلبل (۱۹۱۴ - ۱۹۷۹) چې پېژندلے خدايي خدمتګار دے او مونږ يې د تقسيم نه وړاندې هم د شاعرۍ نمونه لوستې ده ـ د دوي ټوله شاعري د قام او وطن د دردونو او تکليفونو نه برجقه ده ـ که څه هم د دوي شاعري د تقسيم نه وړاندې په جوبن کښې وه ، ولې د پښتونستان د پاره وئيلې شاعري يې د بنو د قرارداد نه پس مخې ته راغلې ده ـ جلبل صېب قدم په قدم باچاخان او پښتونستان د پاره پرېمانه ډېر نظمونه وئيلي دي:

مونږه پښتانه به جوړوو پښتونستان
پېژنو بس يو ليډر غازي فخر افغان
يو شئ يوه خله شئ چې قام وګټو ورک نه شو
راشئ پښتنو د جلبل خواله چې سپک نه شو
(۱۰)

دارنګې يو بل نظم "په خپل وطن پښتونستان ننګ دے" کښې د پښتنو په ټولو قبيلو غږ کوي چې راپاسئ او د خپل مشر او لارښود باچاخان ملا ټينګه کړئ ، ځکه چې دا په پښتونستان ننګ دے، دا په خپل تاريخ ، په خپله خاوره او په خپل غېرت ننګ دے:

زما نيازبينو هلکانو زلمو
ودرېږئ ننګ باندې نرانو زلمو

Scanned by CamScanner

د پښتنـو د باغ ګلانـو زلمـو
په ننګ ولاړو جانبازانـو زلمـو
دا د سرو وينو په ميدان ننګ دے
په خپل وطن پښتونستان ننګ دے

دا ستاسو ننګ په يوسفزو ننګ دے
په لغړ شـوو شاه زلمـو ننګ دے
دا په وزيـرو اپـريـدو ننګ دے
دا په مهمندو محمدزو ننګ دے
دا په پګړۍ د ټول افغان ننګ دے
په خپل وطن پښتونستان ننګ دے

د دې وطن ... د ځوانانو په ننګ
د سـوزېدلـو پتنګانـو په ننګ
ټينګ د خدايي خدمتګارانو په ننګ
د دې چمـن د بلبـلانـو په ننګ
دا د جلبل په لوے ارمان ننګ دے
په خپل وطن پښتونستان ننګ دے

(۱۱)

دغه نظم کښې مونږ ولوستل چې سعادت خان جلبل په څومره زور او شور سره پښتنو زلمو او ببلا ببلو اولسونو ته د ننګ زورنه کوي.

"د پښتون چغه" نومې مختصر نظم کښې د هغه وخت د اتفاق او اتحاد او د ټول پښتون اولس يوه نعره ، يوه چغه ، يو خواهش او يو ارمان ته څه دارنګې د شاعرۍ جامه وراچوي:

د پښتون چغـه اباسـين نه تـر کاشغاره پورې
دا يـوه چغـه د خيـبر نه تـر اسما... پورې

Scanned by CamScanner

دا يـوه چغـه امبلې او کوهستان نه خېژي
دا يـوه چغـه باجـور نه وزيرستان نه خېژي
د تول پښتون ده يوه چغه تر تورخمه پورې
دا يـوه چغـه د کشمـير نه تر جهلمه پورې
چغه بس دا ده په خپل کور کښې خپل ګذران غواړو
مـونـږ پښـتـانـه يـو خپـل وطـن پښتونستان غواړو

(۱۲)

دغه نظم کښې که يو خوا د پښتون اولس تاريخي اتفاق په ګوته کوي ، نو بل خوا د پښتونستان حدود هم ښايي ـ د تورخم نه تر جهلم پورې د پښتون تاريخي جغرافيه په پلو يوه په زړه پورې اشاره ده.

ملا ظريف اخوند کاکړ (۱۹۱۶ ــ ۱۹۹۴) د سوبلي پښتونخوا د پښين د سيمې يو پوخ او وتلے اولسي شاعر دے چې شاعري يې "د پښتونخوا نغمې" نوم خپره شوې ده ـ د شاعرۍ د کتاب له نوم څخه يې اندازۀ کېږي چې د شاعرۍ بنسټ يې په خاوره اډانه دے ـ ملاظريف خپل ټول ژوند د قامي تحريک سره په څه نه څه شکل کښې ترلے تېر کړے دے ـ د ټکړې ټکړې پښتون وطن احساس د ژوند په هر مور کښې چوکه کړے دے ـ د پښتونستان او پښتونخوا د پاره يې زښت ډېر شعرونه وئيلي دي او دغه شعرونه يې باقاعده په سياسي جلسو او جلوسونو کښې هم اورولي دي چې د ځوانانو وينې يې ورباندې د پښتون وطن د ساتنې د پاره ګرمې کړې دي ـ "پښتو او پښتونستان" نومې نظم کښې وايي:

د پښتـــونستان دعوا پښتـــو لري تل
يا به جور پښتونستان کي يا به مري تل

Scanned by CamScanner

د پښتونستان دعوا د معلومداره
شا و خوا پښتانه تللي بې شماره
څوک په جبل څوک و غرو ته دي فراره
هر چې دا مينه لري اباد دې سي کل

د پښتونستان دعوا کله هېرېږي
شهيدان په وينو سره د چا هېرېږي
د پښتون د بهادرۍ خبرې کېږي
د مېوند مړي ليکلي فرنګي کل

(۱۳)

دغه نظم کښې د پښتونستان دعوا په څومره ټينګښت سره کوي او د هغې په ترڅ کښې د خپلو شهيدانو وينې يادوي. د خپلو مشرانو او ملګرو هغه مبارزه چې يا يې د جبلونو تورو تمبو شاته کړې ده او يا يې د غرونو په سرونو کړې ده. يو بله سندره "پښتونستان" کښې خپل عزم داسې څرګندوي:

پښتونستان به جوړوم په خپل وطن پښتونه!
نارې وهم پښتونه!

که جدا سي اځکزي ـــ يا کاکړي ترينې
ټوله پښتون سو زخمي
زخم ناسور دے نه جوړېږي ستا په ژوند پښتونه!
نارې وهم پښتونه!

(۱۴)

دغه سندره که ډېره هم د شاعر د معروض سره اړيکې لري ،

Scanned by CamScanner

ولې د شاعر تخليقي سرچينې يې هم لږزولې دي . ځکه يو په زړه پورې اغېزه لري . داسې نورې ډېرې سندرې يې هم د حوالې د پاره راځستے شو چې هم د موضوع او هم د فن په تله پوره پرېوځي . لکه دا سندره

کفر اسلام سو درته يو کفن پر ځان ونيسه
پښتونستان ونيسه

وينم دښمن د افغان . د هر طرف را روان
پښتونه! ستا په توره نن ميراث د ځان ونيسه
پښتونستان ونيسه
کفر اسلام را روان . اخلي وطن د افغان
پښتونه! ستا په توره نن کوه و دامان ونيسه
پښتونستان ونيسه

(۱۵)

ولي محمد طوفان (۱۹۱۹ـ ۱۹۸۳) دے . د تقسيم نه وراندې يې هم غږ په ټولو پښتنو خور وه او د تقسيم نه پس يې هم دغه غږ بند کړے نه دے . بلکې نور يې هم اوچت کړے دے . د پاکستان د جوړېدو نه پس په پښتنې خاوره د ظلم او جبر قيصه نوره هم کرمه شوه او د بابړې ژوبلونکې پېښه يې وليده . د دغه پېښې په تاثر کښې طوفان صبب يوځل بيا د پښتونستان تصور د پښتنو په وراندې کېږدي:

زمکې د بابړې په سرو وينو رنګينه يـــــې ته
عکس مو په تا کښې د پښتو دے ائينه يـــې ته
زرونه د وطن اودۀ په تا کښې دي سينه يـــې ته

Scanned by CamScanner

ژوند درته پسخېږي د مرګي هغه چينه يـــې ته
دومره خو اثر وو د ګـــولـــو په بارانونو کښـــې
سرهٔ ګلونه وينم په دې شـــارو بنجرونو کښـــې

مونږه د غليم په لټ کښـــې نهٔ نښلـــو اعلان کوو
هـــره قـــرباني به په حقـونو د خپل ځان کوو
څهٔ چـــې وي بنا به د وطن پښتونستان کوو
مـونږ بـه په سـرو وينو اوبهٔ خور د ګلستان کوو
کښلـے دا عنوان دے پښتنو په خپلـو زړونو کښې
ســـرهٔ ګلونه وينم په دې شـارو بنجرونو کښې

(۱۶)

دارنګې چې کله د ايوب خان په زمانه کښې ون يونټ جوړ شو او د اوسني پاکستان ټولو صوبو تاريخي شناخت ختم کړے شو او د مغربي پاکستان په نامه ونومولې شوې۔ نو د پاکستان ټولو وړو قاميتونو د دې په ضد مبارزه پېل کړه۔ تاريخ ثابته کړه چې يونټ دا منصوبه تش د پاکستان ميشتو پښتنو د ذهنونو نه د پښتونستان د تصور لر کولو د پاره تياره کړې شوې وه۔ ځکه چې دارنګې به دوي توجه د پاکستان د ننه د خپل محدود شناخت په لوري راوګرځي ۔ هم هغسې وشول، ټولو قاميتونو د خپل خپل شاخت د پاره په ګډه مبارزه پېل کړه ، خو د طوفان صبب رنګه په سياست پوهه خلقو په هغه وخت هم دغسې نعرې لګولې:

دښمنه! څهٔ ته ګـــورې که مـــو اخلې امتـــحان
دا ګـــز او دا ميدان
په ډاګ درته ولاړ دے هر سپاهي د باچاخـــان
دا ګـــز او دا ميدان

Scanned by CamScanner

متل د پښتنو دے د لمدو به څۀ لمدۀ شي
ببر چې پښتانۀ شي
بیا نۀ ګوري توپک دے که کوتک دے که زندان
دا ګز او دا میدان

خپل قام پرې خرڅوه ، د اقتدار هډوکي غواړه
کرسۍ ته متې نغاړه
مونږ ګورو چې ترڅو به روژوې د زړۀ ارمان
دا ګز او دا میدان

له قامه بې پوښتنې فیصله به دې ماتیږي
دا بوس به دې بادیږي
یونټ جوړوه تۀ مونږ جوړوو پښتونستان
دا ګز او دا میدان

(۱۷)

"د شاه زلمو سندره" نومې نظم کښې چې طوفان صبب څومره د جذبه او حوصله خپلو پښتنو زلمو ته ورکړې ده او د پښتنې خاورې او پښتون قام د راټولولو څومره ذمه واري یې چې پرې اچولې ده ، دا صرف د طوفان د طوفاني عزم او استقلال ورکړه کېدے شي ۔ د شاه زلمو له خلې ګویا دے چې مونږ به د قام تر منځه ټولې تربګنۍ او نفاق لر کوو او دا تیت پرک اولسونه او خاوره به یو ډګر ته راوړو ۔ دا ټول خوارۀ وارۀ څاڅکي به ایکي یو سمندر ته راټولوو ۔ د دغه نظم ښکلي او مترنم نظم اختتام څۀ داسې کوي:

Scanned by CamScanner

خبر دے زهٔ دې نهٔ يم خو زما پښتونستان دې وي
خبر دې زهٔ دې نهٔ يم خو زما دغه بوستان دې وي
زهٔ دې سرو لمبو کښې شم ستي زما نشان دې وے
تن مې ترې لوکے او سپېلنے شه خپل جهان دې وي
خپله قافله مې چې روانه ده ، روان دې وي
ماته په قدم قدم اغزي دې وي زوزان دې وے
خول دې وي ولې دې وي سيلې دې وي طوفان دې وي
ستر کې جنګوم د دې تندرونو قافلو سره
زهٔ پښتون زلمے يم ځکه خوښ يمه زلمو سره

(۱۸)

طوفان دغه رنګ فکرونه او سوچونه دغه شاه زلمو ته وخت په وخت ور رسولي دي. هغه د پښتونستان په مبارزه کښې عملي توګه هم شامل وو او د قلم مبارزه يې هم نښه په استقامت سره ترسره کړې ده. د دغه مبارزې په دوران کښې يو سوچ داسې هم راوراندې شوے دے چې پاکستان کښې دننه دې د پښتونستان په نوم د پښتنو يووالے يقيني شي. په دغه سوچ باندې نن هم د پښتونخوا ملي عوامي ګوند سياست ولاړ دے. د طوفان صېب په شاعرۍ کښې يو ځاے کښې دغه سوچ هم په لاس راځي. خو د طوفان صېب سوچ د پښتنو شهيدانو ته د مخاطبې په دوران کښې د شرمندګۍ د احساس سره د عزم او جذبې پختګي هم په ګوته کوي. "پښتانهٔ شهيدان" نومې نظم کښې وايي:

خو اې شهيده! دغه قام به تار په تار وويني
د خپلو سرو وينو اثر به په تلوار وويني
زر به دې خپلې باغ بارۍ کښې نوبهار وويني
د ننني دنيا ازار کښې به بازار وويني

Scanned by CamScanner

زمونږ په وينو به زمونږه خپل بهار ووينې
په پاکستان کښې به ضرور پښتونستان جوړيږي
(۱۹)

ایوب صابر (۱۹۲۲ـ ۱۹۸۹) چې د خوارو زار او زپلي اولس په درد دردمن شاعر دے. د پښتونستان د تصور سره خپله ملګرتیا او خپل اخلاص څرګندوي. د پښتون وطن د یووالي او د پښتون د ننګ احساس چې ورته شوے دے. نو په "بیداري" نومې نظم کښې پرې خوشحالي او تفاخر کوي. دغه نظم کښې هغه وایي چې زهٔ اوس افغان شوم یو پاک او سپېڅلے احساس مې وموندو. د نظم څهٔ برخه یې نقل کوم:

څم هغه تل ته چې خوشحال وو پکښې
چې احمد شاه غوندې ابدال وو پکښې
څم هغه تل ته چې میروېس وو پکښې
ننګ او غېرت نه ډک اولس وو پکښې
څم هغه تل ته چې افغان وو پکښې
اېمل پکښې وو دریاخان وو پکښې
څم هغه تل ته چې اجل وو پکښې
مغل زمونږ مینې ته غل وو پکښې

زېرے اې قامه چې وطن مې خوښ کړو
زلفې مې هېرې کړې رسن مې خوښ کړو
بس دے ما ځان ته دغه لار خوښه کړه
بس دے برېښنا مې د تلوار خوښه کړه
اوس حفاظت د نام او ننګ غواړم
زهٔ پښتون شوے یم قلنګ غواړم
(۲۰)

Scanned by CamScanner

هغه په خپل دغه نوي عزم څومره د خوشحالي اظهار کوي. لکه چې اوس هغۀ ته پته لګېدلې وي چې د شعر اصل مقصد خو د وطن او اولس راټولول دي او د هغوي خوشحالي او سوکالي ده.

سیدحسن استاذ (۱۹۲۴ - ۲۰۱۲) د کرک د سیمې یو ډېر مقبول او معروف اولسي شاعر دے. ډېر ضخیم دیوان یې پرېښے دے چې څه پکښې چاپ دے او زیات یې ناچاپه پروت دے. د دوي په شاعری کښې هم پاکستان کښې د پښتنو د سیاسي ستونزو تاریخ خوندي دے. په شاعری یې د مزاحمت رنګ ببخي زیات ختلے دے. د باچاخان د قافلې باقاعده غړے پاتې شوے دے. د باچاخان په راتګ (غالباد جلاوطنی یا د بیا د جېل نه) یې یو نظم ونیلے دے چې د پښتونستان تذکره پکښې څه په دې ډول کوي:

پښتونستان ته باچاخان فخر افغان راغے
د پښتنــو د زړه ارمان راغے

د پښتنو په حال یې څومره پرېشانی تېرې کړې
دلته ضعیف بدن یې څومره قربانی تېرې کړې
هغه بې مثله ننګیالے مرد د میدان راغے
د پښتنــو د زړه ارمان راغے

د ننګیالیــو د سـن تیس جذبه بیـداره شـوله
د جــادوګـرو منصوبه وه خو بې کاره شـوله
اوس به دمه شي که بابا سترے ستومان راغے
د پښتنــو د زړه ارمان راغے

(۲۱)

Scanned by CamScanner

د پښتونستان په اړه د پاکستاني ریاست د ظلم او جبر خبره مونږ وراندې کړې ده ، خو دلته دا خبره کوو چې چرته هم د ریاست د ظلم او جبر خبره کېږي ، هلته به د اجمل ختک ذکر خامخا کېږي. اجمل ختک (۱۹۲۵/۲۶ــ ۲۰۱۰) نۀ د ریاست پرواه ساتلې ده او نۀ یې د چا د ظلمونو او سختیو خیال کړے دے. خپله خبره یې اېغه نېغه کړې ده ، که هر څو د قېد او بند د صعبتونو سره مخ شوے هم دے. خو د پښتونستان دا سخته او ګرانه یې هم په ځان اسانه کړې ده:

چې خورِ سرود د پښتنو د وروروليِ ګرم شي
په غــر او سمــه یو نوبت د قامــولیِ ګـرم شي
د روهستان نه د ښایست او خوند جنت جورِ شي
تس نس پښتون د اېشیاۀ د زړه طاقت جورِ شي
دا مې منزل ،دا مې جنت دے ، ور روان یم ورته
نۀ په ملا یم ، نۀ په خان یـم ، نۀ په ځـان یم ورته
که د غېرت دغــه منــزل ته رسېــدلے نۀ یــم
ملګـریو! واورئ پښتنــې به زېــرولــے نۀ یم

(۲۲)

دغه نظم کښې ختک صېب د نورو اولسي شاعرانو په رنګ نېغ په نېغه د پښتونستان نوم نۀ دے اخستے ، خو د روهستان ذکر ضرور کوي. تاریخ ویونکي خلق په دې خبره پوهېږي چې روهستان خو هم د پښتونستان زوړ او تاریخي نوم دے. دارنګه پټې او بربنډې حربې هغه وخت په قام مئینو شاعرانو ادیبانو د ریاستي جبر د لاسه کارولې. یو بل نیم علامتي نظم ,, بین مارته ،، کښې هم دغه د لر او بر د یو والي خبره کوي او د پښتنو د یو ستر سلطنت ارمان بیانوي:

Scanned by CamScanner

دغه شاړې شاړې کندې ټول خوړه خوړه نغمه کړه
دغه جاړې جاړې غر دې یو پسته پسته ورمه کړه
د اواز سره دې تاؤ کړه د تنکو زلمو روحونه
د نغمو سره دې ګډ کړه د نوخېزو قدمونه
پردې ټولې تار په تار کړه که څوک لر وي او که بره
اې بین ماره د خبره اې شپونکیه د خبره
راشه پوک وهه دا بین دې

(۲۳)

اجمل د خبر د لوریه یو بین مار ، یو شپونکي ته منتظر ناست دے چې کله به څوک راپاڅي او بین ته به پوکے ورکوي او دا خوارهٔ وارهٔ پښتانهٔ به ورباندې راټولوي او یو کوي ـ بنیادي توګه که مونږ د اجمل خټک په شاعري سوچ وکړو ، نو هغه د غریبې طبقې نماینده شاعري ده ـ خو دا غریبه طبقه صرف او صرف پښتنه ده ـ په نورو ټکیو کښې مونږ دا وئیلے شو چې د هغهٔ د انقلاب تصور تش قامي انقلاب دے چې د پښتونستان نه بل هیڅ نهٔ دے ـ د مثال په توګه:

یه پښتنو! یه لېونو پښتنو!
یه تس نس شوو پرګنو پښتنو!
راځئ په کور کښې مرکه شو سره
د سیالۍ وخت دے چې جرګه شو سره

دنیا بدلېږي ورته ځان بدل کړو
دغه د ظلم زور جهان بدل کړو

(۲۴)

Scanned by CamScanner

ختک صبب په دې اخرنو ورځو شپو کښې هم د حالاتو او وختونو دغه درز غوښل ته د امید په نظر کتل او په دې هر څۀ کښې يې خپل ارمان په رژېدو ليدو:

زما د بابا کور او ورور به خداے کړه يو صلا شي
د وينو په دې ډنډ کښې به يو نـوے ګل پيدا شي

(۲۵)

د وينو په دې ډنډ کښې دا نوے ګل د پښتنو اتفاق او وروروليخوا ته يوه اشاره ده۔ د پښتونخوا په ترانه کښې يو ځاے وايي:

بړه که کابل ، که قندهار دے زما ورور دے
دلته پښور دے او که کـوټه زما کور دے

(۲۶)

دغه د وروري ستر ارمان يې په زړۀ يورو ، ولې هېر يې نۀ کړو۔ د ژوند د اخرنو سلګيو پورې يې بس د لر او بر د يووالي ارمان وساتو۔ د لر او بر دغه ارمان کله د پښتونستان شکل اخستے دے او کله يې د ستر افغانستان نوم ورکړے دے:

د چاري کار د ســور ګلــي مبلــه
را به شي را به شي خو څنګه به وي
د افغاني وروروليخــوند به وي
هغه د مينې نه ډک ژونــد به وي
چې ملت يو افغانستــان يو وي
د خوشحالو مزکه اسمـان يو وي

(۲۷)

Scanned by CamScanner

افغانستان کښې د نوي کال په مناسبت يو جشن نمانځلے کېږي چې نوروز ورته وئيل کېږي ـ دغې ورځې ته اجمل صېب يو نظم ليکلے دے چې د لر او بر د يووالي ارمان پکښې جوت برېښي ـ دلته هغهٔ د افغانستان يو يو ښار ياد کړے دے ، ولې اخر کښې يې د اټک تذکره ورسره داسې پېوند کړې ده ، لکه چې د نوروز ټولې خوشحالۍ بې د اټک نه نيمګړې دي:

مېله مېله ، جنډه جنډه ، سخي سره مزار کا
شېرين شېرين ، ګل ګل ، مېوه مېوه مې قندهار کا
تازهٔ تازه هغه د ننګرهار د ګلو هار کا
لمنې د سپرلو راته کندوز باغ و بهار کا
ګل ګل راته پنجشېر کا ، سرهٔ لعلونه بدخشان کا
پکتيا مې د ننګ متې کا ، تاريخ راته باميان کا
د جنګ او د نفاق تورو دېوانو نه مو خلاص کا
نوروزهٔ! د نړۍ د شيطانانو نه مو خلاص کا
راځه راځه نوروزهٔ! په خپل ښکلي انداز راشه
په مينه ، په خندا راشه ، په ساز او اواز راشه
د امن ، سوکالۍ ، ورورولي جوړه د خټک کا
امو دې مستانه کا ، په ګډا ورته اټک کا

(۲۸)

د خپل وطن او خاورې د يووالي ارمان يې د مکمل تاريخي شعور سره ساتلے دے ـ د خپلې خاورې د چوپې چوپې د خوږلت او خوشبويۍ په احساس خبر دے ـ د هغه احساس په موجودګۍ کښې د پښتني خاورې د يووالي شعور يې د نورو په مقابله کښې ځکه هم مضبوط او ژور دے ـ دغه نظم کښې د پښتنو د يووالي يو داسې تصور

Scanned by CamScanner

دے چې د لوے افغانستان په نامه به يې نړۍ پېژني او د امو سيند نه تر اباسين پورې پورې به غزېدلے وي۔

د چارسدې د سيمې يو بل تکړه او مزاحمتي شاعر کرامت شاه فولاد (۱۹۲۵ـ ۱۹۹۵) نوم هم د پښتونستان په تحريک په ترڅ کښې ډېر د پام وړ دے۔ کرامت شاه فولاد د خپلې شاعرۍ نه بېخي د تورې کار اخستے دے۔ ولي محمد طوفان نه پس که په دغه وختونو کښې چا هم د پښتونستان نوم او تصور زيات د پام وړ کارولے دے ، نو هغه کرامت شاه فولاد دے۔ د هغه وخت په ټولو قام پرسته او مترقي مجلو کښې به يې د پښتنو د يووالي او خپلواکۍ او ازادۍ د پاره کلامونه خپرېدل او پښتون قام يې د دغه لوے مرام نه باخبره ساتلو۔ "راځئ زلمو!" نومې کښې په پښتنو زلمو څه داسې غږ کوي:

اې د پښتون وينې پيدا پښتنو!
اې په غېرت باندې شيدا پښتنو!
د پښتون خاورې نه فدا پښتنو!
پښتونستان به پښتنو له جوړوونه
راځئ همزلو شاه زلمو!

پښتونستان د پښتنو وطن
په ننګ غېرت د لېونو وطن
د ننګيالانو مېړنو وطن
زمونږ دې داؤ شي پرې دا خپل خواږه سرونه
راځئ همزلو شاه زلمو!

(۲۹)

څنګه چې مو ووئيل چې د کرامت شاه د دغه وخت د شاعرۍ محور هم پښتونستان ګرځېدلے دے۔ د رهبر په يوه بله ګڼه کښې په

Scanned by CamScanner

خپلو دوو قطعو کښې د پښتونستان په اړه څه داسې وایي:

د پښتنو پښتونستان د حجرې ګپ خو نه دے
دا به یوځل د قام زلمي سرفرشان جوړوي
د پښتنو پښتونستان د خوب لیده خو نه دي
دا به د قام ښکلي بچوري معصومان جوړوي

ځارشه تړې زلمي ولې ارزو د قام یوره دې شي
دا د پښتنو پښتونستـــان ژوندون د قام ګنهم
د پښتونستـــان د پښتنو شمله به نښه کړي
دا پښتونستـــان د پښتنو غـوره نشام ګنهم
(۳۰)

د کرامت شاه او نورو یو شمېر شاعرانو او کارکنانو په وړاندې د پښتونستان نوم مکمل د یو نظام نوم دے۔ د دغه نوم سره د دغه وخت شاعرانو دومره جذباتي تړون پاتې شوے دے چې هم دا ورته قام ښکارېدو ، هم ورته هېواد ښکارېدو او هم دا ورته نظام ښکارېدو۔
یو بل اورد نظم "پاتې دے" کښې هم کرامت شاه فولاد د پښتونستان د تصور یادونه څه داسې کوي:

په مـرې توب کښـې د چا څه حیا عزت پاتې دے؟
خودمختاري کښې د وطن خوند او لذت پاتې دے

د فـولاد ژبه به شـوربږي قـرار جـرم ګنـي
پښتونستـــان چې لا زمونږ د ټول ملت پاتې دے
(۳۱)

Scanned by CamScanner

کرامت شاه فولاد د شاعرۍ یوازینۍ مرکزۀ هم د پښتنو یووالے او د وطن او خاورې مینه ده ۔ خپله شاعري یې هم دغه یو مقصد د پاره وقف کړې ده ۔ د شاعرۍ د بنیادي منصب د قام او اولس مینه یې د فن بنیادي محرک ګڼلې ده ۔"سور انګار" نومې نظم کښې یې هم د پښتونستان د پاک او سپېڅلي تصور په اړه یې د جذبې نه ډک یو داسې نظم وئیلے دے چې هر څه وربانديې قربانوي:

څه به مـزۀ هغـه ژوندن کړي د چا چې واک د بل په لاس وي
ښکلي ژوندن نه جوړ طاعون کړي د چا چې واک د بل په لاس وي

د سپېـره ژونـد نه غوره دا دے ذلیل ژونـدون څیـروي زړونه
د وطـن مینه سـور انګار دے ځـي قـربانېږي زلمـي جونه
په پښتـانه خـاوره قسم دے تـول پښتـانه تړې نه قربان شه
پښتونستـان د دښمـن غم دے تـول پښتـانه تړې نه قربان شه

هـر غېرتي په ننګ سرشار دے له ژونده وې وینځـل لاسـونه
د وطـن مینه سـور انګار دے ځـي قـربانېږي زلمـي جونه
(۳۲)

رهبر مردان په یوه ګڼه کښې فولاد صهب په یوه قطعه کښې د پښتونستان وطن نه خپل ځان د قربانولو او د پښتونستان د سرې جنډې د نه ځان ځار کولو اعلان څه داسې کوي:

د پښتون له سمې غرونو نه لوګے شم
د وطن کانـي لعلونو نه لوګے شم
ما ته ګـران د پښتنو پښتونستان دے
د دې تک سره نشانونو نه لوګے شم
(۳۳)

Scanned by CamScanner

د پښتونستان ارمان د هر پښتون قام پرست په زړۀ کښې پاتې شوے دے او بیا په تېره د هغو عملي مبارزه کونکیو لیکونکیو او شاعرانو په زړونو کښې خو یې مکمل ځاے کړے وو۔ ځکه چې د دغو لیکونکیو د نړۍ په سیاست نظر وو چرته چې د نورۍ په هر ځاے کښې د قامي ازادۍ په ترڅ کښې تحریکونه چلېدل ، هلته دوي هم خپله مبارزه د قامي بنسټ په ترڅ کښې چلول غوښتل او قامي ازادي ګټل یې غټ ارمان وو۔

قلندر مومند (۱۹۳۰۔ ۲۰۰۳) هم په دغو کښې یو داسې لیکونکے وو چې هم یې په عمل کښې او هم یې د قلم د لارې د پښتونستان په مبارزه کښې برخه لرلې ده ۔ په دغه لړ کښې یې د قید و بند سختې هم زغملې دي او ذهني او جسماني تشدد سره هم مخ شوے دے۔

"زۀ تنقید خو به کومه" نومې نظم یې د دغه تصور یو ائینه دار نظم دے ۔ که څۀ هم په دغه نظم کښې یې ښکاره د پښتونستان نامه نۀ ده اخستے ، ولې د ټول پښتون اولس په ګډه د مبارزې د تجدید اعلان یې ضرور کړے دے:

روهستان باندې چې لړې د اټک له لـــوري راشي
په اسمان د پښتونخوا چې هم تناشي هم بربښناشي
بدلېدونکے په دوزخ چې دا جنت د پښتونخوا شي
چې مومند خټک یو ځاے اپریدي یې هـمنوا شي
چې وطن ابمل ابمل شي پښتونخوا دریا دریا شي
د خوشحال خټک ملګریو! زۀ تقلید خـــو به کومه
زۀ تنقید خو به کومه

Scanned by CamScanner

چې په بره پښتونخوا کښې میروېس خان یوه ناره کړي
د ګرګانو ګرګینانو لبادې پاره پاره کړي
غازیان سر په تلي کښېږدي د جنګ ګرمه نغاره کړي
د اېمل خوشحال ارواح چې له جنته نندارې کړي
سرښندونکیو پښتنو ته چې نعره کړي اشاره کړي
نو د تېرو قربانیو زهٔ تجدید خو به کومه
زهٔ تنقید خو به کومه

(۳۴)

دغه عزم او اراده مونږ ته دا رابنیي چې د شاعر په لاشعور کښې د پښتونستان د مبارزې عکس پروت دے۔ د روهستان ، د کوزې او بره پښتونخوا یا د خوشحال خان او میروېس خان ذکر دا په ګوته کوي چې دا د ګډې مبارزې پېغام او درس دے۔ په شخصي توګه هم مونږ د قلندر مومند شخصیت پېژنو چې د هغهٔ په زړه کښې د درست پښتون د یووالي خواهش او ارمان ترمړګه پورې موجود وهٔ۔ دغه نظم کښې مونږ تش د کوز پښتونستان د یو جدا هېواد قیصه یا د کوزې پښتونخوا د صوبې د نوم خبره نه ده ، بلکې د لر او بر د پښتنو د یووالي تصور دے چې مونږ یې د ستر افغانستان په شکل هم پېژندلے شو۔

همېش خلیل (۱۹۳۰) د پښتو د نوې شاعرۍ د هغه قافلې غړے دے چې په یو وخت یې د قام پرستۍ او طبقاتي مبارزې ببرغ جګ ساتلے دے ۔ د هغهٔ په شاعرۍ کښې مونږ ځاے په ځاے د پښتونستان د خواهش او ارمان اشارې وینو۔ همېش خلیل نهٔ یوازې دا چې د شعر په میدان کښې دغه ارمانونه ساتلي دي ، بلکې د قامي یووالي په مبارزه کښې په عملي توګه هم شریک پاتې شوے دے ۔ د قېد و بند روایتونه یې تازه کړي دي۔

د بره پښتونخوا معروف شاعر قیام الدین خادم چې د کوزې

Scanned by CamScanner

پښتونخوا په دوره راغلے وۀ ، نو همېش خلیل ورته "د سېلاني شاعر په نوم" یو نظم وئیلے وۀ ۔ دغه نظم کښې ورته همېش صېب د بره پښتونخوا چپه چپه یاده کړې ده چې د قامیت د مبارزې یادونه پکښې پاتې شوي دي ، خو دې سره سره یې ورته د کوزې پښتونخوا هر هغه کټ پېر هم یاد کړے دے چې د وطن د ازادۍ د پاره پکښې د وینې تویولو داستانونه رقم شوي دي ۔ دا ټول نظم د لر او بر د پښتنو مبارزینو یو دستاوېز دے

داســـې اورم د یووالي اهتمام کښې
د فکرونو ډیوې هر ځاے کښې بلېږي
ببلـه ببلـه قبیلـه بیـداره شـــوې
په مرکز د قومیت کښې راغـونډېږي

داســې اورم چـــې امو د حال پۀ ژبه
اباسیـن له رالېږلـے څۀ پېغام دے
د تاریخ د بدلېدونکـــي شانـې دور
جګدلک په تورو غر کړے سلام دے

د ستم د ختمـــولـــو منصـــوبې له
شاه زلمو د نوي کهول کړے صلا ده
په هر کور د هر پښتون کښې داسې اورم
د یو سترې پښتونخوا شـــوې بنا ده

(۳۵)

مونږ ولیدل چې دغه نظم کښې هم د ستر افغانستان د قیام تصور موجو دے ۔ د پښتنو د ټولو قبیلو (که د بر دي که د لر دي) د یوکېدو ارمان او هېلې پکښې جوتې دي ۔ د دغه نظم په یو بل بند کښې همېش خلیل د کوزې پښتونخوا له لوریه مېلمه شاعر ته داسې

Scanned by CamScanner

وايي:

نو زهٔ هـم په دغـــه حقله درته وايم
چې د فکـر دا انداز مو سره يو دے
د خـــوشحال د تخيل په رفعتـــونو
د منزل په لور پرواز مو سره يو دے

(۳۶)

هغه فکري يووالي ته اشاره کوي چې د بره پښتونخوا او کوزې پښتونخوا په قام پرستو خلقو کښې يو شان موجود دے ـ د دوارې لوريه دا جذبه او دا عزم ښکاره کوي چې د سترې پښتونخوا يا پښتونستان د جوړولو يا بحالولو د پاره په اولس او سياسي ډلو او ګوندونو يا دانشورانو او شاعرانو کښې يې غورځنګ وهلو.

"د باړې غږ" په نوم نظم کښې همېش خليل دغه پېغام ورکوي چې بره پښتونخوا مدام مونږ ته د مرستې لاس راکړے دے ـ باړه غږ کوي چې ساک درنه ولې سيلي وري دي ـ زهٔ چې د بره نه داسې په ټُندې راځم . خو تاسو د پوښتنې د پاره راځم ـ تاسو وينوم . تاسو ته د وطن د ازادۍ غږ کوم ـ د باړې د دغه غږ په تاثر کښې همېش خليل خپل هغه ټول خواهشات بيان کړي دي چې دهٔ د وطن د يو کېدو د پاره په ذهن او زړهٔ کښې ساتلي دي ـ د باړې دغه غږ واورئ:

له بـــره ټُنده ټُنده ستـــړې راغلـــم
ستاسو ژوندون ته سترګې خړې راغلم
په ټوله لار مې غورځنګـــــونه کـــول
نهٔ پويېږم دلته ولـــــې غلـــې راغلـم

دا ولې بيا چرته يرغـل خـــو نهٔ دے
کور ته راغلے مو مغـل خـــو نهٔ دے

Scanned by CamScanner

دا ولې ساک درنه سیلـی وري دي
بچـورو تاسو ته څۀ چل خو نۀ دے

ستـاسـو ابا له اباسین ته ځمـه
ستاسو له غمـه په زړۀ شین له ځمه
ستاسو د ژوند په مجبورو مې قسم
د تـورو سر له شېخ بدین له ځمه

چـې د غلیـم په انتقام راشـي
د دې نه مخکښې چې مانښام راشي

(۳۷)

دغه نظم کښې د کوزې پښتونخوا د خلقو د پاره دا پېغام هم ورکړے شوے دے چې څۀ وجه ده چې د یووالي غږ څوک برملا نۀ پورته کوي۔ دلته د قاموليۍ په لړ کښې دا بې حسي ولې خوره شوې ده. ځکه باړه په چغو چغو وایي چې ستاسو خپل ابا یعني اباسین له ورځم چې د غلیم نه یې د انتقام د پاره راوپاروم۔ دا وطن ښېرته تړې واخلي او د پښتون له منځه دا کرښې او لیکې ورانې کړي او خپله کرښه تر اباسینه ورسوي۔

یو بل ځاے کښې هم د وطن د څېرې ویرې ګرېوان خبره چې کوي ، نو مطلب یې د وطن ټکړې ټکړې دي چې په دوه هېوادونو کښې او بیا په څلور اتظامي برخو کښې سره وېشل شوے دے

یا دستا څېرې ګرېوان به درته روغ کړم
یا به دغـه شـان پـاره زمـا لمن وي

Scanned by CamScanner

هله پستـــه به قـــرار د زمانـــې شم
چې نصيب مې ازادي د خپل وطن شي

(۳۸)

دلته همېش صبب په هغه زمانه کښې څومره لويه خبره کړې ده چې تر هغې به زهٔ د زمانې نه قرار نهٔ شم ، ترڅو چې زما وطن ازاد شوے نهٔ وي يا که د دې وروستي شعر که دا معنا واخلو چې زهٔ به د زمانې د پاره د قرار سبب شم ، خو چې زما وطن ازاد شي ـ دا خبره نن د سيمې او د نړۍ يو شمېر دانشوران هم مني چې په دې سيمه کښې د مودو راسې د سياسي الغاؤ تلغاؤ يوازينے حل هم دغه دے چې دا محکومه سيمه دې ازاده شي ، دا کربنې دې ورانې شي او دا خور وور قام دې سره راټول کړل شي ـ يو بل نظم "اراده" کښې همېش خليل د خپل وطن د ازادۍ خبره څومره په واز کومي کوي او هيڅ قسم ابلاغ د ځان شاته نه پرېږدي:

يا ازاد به خپل وطن په جهان ګورم
يا به زهٔ هم په خاطر د وطن ځار شم
يا به مړ يا ازادي به درته واخلم
هسې نه چې د پښتون په اوږو بار شم
يا به دا ويجاړ باغونه ګلستان کړم
يا به زهٔ هم د مغل د سترګو خار شم

(۳۹)

بناغلے عبدالرحيم مجذوب (۱۹۳۵) د پښتو يو تکړه نظم ويونکے شاعر دے ـ د وخت او حالاتو هره لمحه او هره چکه ټيټه يې نظم کړې ده ـ د دغه وخت د سياسي پس منظر د هغوي په شاعرۍ کښې پوره پوره خوندي دے ـ د پښتونستان تحريک چې د بنو قرارداد

Scanned by CamScanner

نه پس تر نولس سوه شپېتم پورې د کوم ارخ یا د کومې زوایې نه هم چلېدلے دے ، خو چلېدلے ضرور دے او عبدالرحیم مجذوب دغه سیاسي پس منظر ته په خپل شاعرانه ترنګ او اهنګ سره کتلي ضرور دي ۔ "شېخ بدین غره ته خطاب" نومې نظم کښې د خپل وطن او خپلو حقونو او خپلو وسیلو د لاس ته راوړلو غږ څه داسې کړے دے:

اې شېخ بدینه! په وطن کښې که عزت غواړې
یا هغه تېرې خوشحالۍ شان او شوکت غواړې
نو غلے مه کښېنېره وچوه سور اور ولونه
زلزلې راوله لاوې دې کور په کور ولونه
دا پښتانۀ د خوبه ویښ کړه ورته ننګ وښایه
ورته د خپل غاوره پرانګ غوندې غورځنګ وښایه
تا په دا څه شي چې سپورمۍ ته بل انسان وخېژي
خوند به هله وکړي چې ستا د زړۀ ارمان وخېژي

(۴۰)

د نظم په دغه بند کښې مونږ د وطن د عزت خبره ، د تېر شان اوشوکت خبره او بیا د شېخ بدین (په معنا د شاعر) د زړۀ ارمان رژېدلو خبره ، دا واړه د خپل وطن د ازادۍ ، سوکالۍ او ابادۍ په معنا راوړل شوي دي او په دغه وخت کښې د پښتونستان چغه هم د وطن د ازادۍ او سوکالۍ په بنسټ پورته کړې شوې وه۔

مجذوب صېب یو بل نظم "نباغلې مینه" کښې خپلې محبوبې ته وایي چې زۀ ستا ستایلو او ستا سره د راز او نیاز خبرو ته اوزګاره نۀ یم:

زما محبوبې! زما ننګ او د ناموس مدینې!
بدر به سر په قیصو نشي د عمل ورځې دي

Scanned by CamScanner

بيا د مغل د زور لاسونه تر کړېوانه رسي
بويه چې پاڅي خان جوت کړي د اېمل ورځې دي
(۴۱)

د مغل لاسونه کړېوان ته رسېدل او د خان نه ورته اېمل خان جورولو معنا دا ده چې د پښتون وطن ازادي تروړل کېږي او اېمل خان د مغلو قبضه کړی ته مخامخ اودرېدلے وۀ. د هندوستان د تقسيم نه پس يا د پاکستان په نوم يو نوے رياست مخې ته راتللو نه پس که يو څوک د مغلو د زمانې پښتني شناخت ته اشاره کوي يا د مغلو حملو ، زور او زياتيو ته اشاره کوي . نو مقصد يې بېرته هغسې ازادي اخستل وي چې د مغلو نه وراندې د پښتنو کوم حېثيت او کومه ازادي وه او د مجذوب دغو شعرونو ته هم مونږ دغه معنې ورکولے شو.

امير غلام صادق نوښاري هم د پښتونستان د تصور په اړه خپله قلمي مبارزه په ښکاره کړې ده او خان يې د دغه مبارزې يو اهم او پياورے غړے ثابت کړے دے. "پښتونستان وطن" په نوم يې يوه داسې ترانه وئيلې ده چې هم د وطن سره د مينې ثبوت راکوي او هم د شاعر شاعرانه صداقت هم راپه ګوته کوي:

پرې به دې نۀ ږدمه په خداے چې په هيڅ شان وطنه
پښتونستـــان وطنه
سر په تلي کښې درته اينسے هـــر افغان وطنه
پښتونستـــان وطنه

سر په تلي کښې درته اينسے هر زلمي د وطن
غـــواړي ښادي د وطـن
په خپلو وينو تازه شوي ګلستان وطنه
پښتونستـــان وطنه

Scanned by CamScanner

خوار دې هغه شي په وطنه چې څوک تا خواروي
چـې پښتونخـوا خواروي
زهٔ میر غلام دغه دعا کړم هر زمان وطنه
پښتـونستـان وطنه

(۴۲)

عبدالغفار په نوم د یو شاعر یو نظم چې د سندرې په هئیت کښې وئیلے شوے دے او د پښتونستان د ترانې په شان کار ترې اخستل کیدے شي ."پښتونستان جوړ کړه" په رهبر مجله کښې مخې ته راځي چې د پښتونستان د مبارزې د پاره د پښتنو د پورته کولو او تیارولو یوه جذبه پکښې لیدله شي:

پورته پښتونه په وطن دې ځان قربان کړه
جوړ پښتونستان کړه ، جانه جوړ پښتونستان
کړو پښتونستـان به جوړ
دا عجب بوستان به جوړ
مـزکه د افغان به جـوړ
کیږده قدم مخکښې ځان خالد مردِ میدان کړه
جوړ پښتونستان کړه ، جانه جوړ پښتونستان
دا د حق قـدم زمونږ
نه به کم شي دم زمونږ
فتـح اخر دم زمونږ
څو به کوي زیاتې لباسي غلو نه خلاص ځان کړه
جوړ پښتونستان کړه ، جانه جوړ پښتونستان
د هغـه سري خور مجنون

Scanned by CamScanner

د هغه د ملک چور مجنون
دے د انګریز ورور مجنون
خان تړې نه وساته ملا ټینګه اوس د باچاخان کړه
جور پښتونستان کړه ، جانه جور پښتونستان

(۴۳)

د رهبر په دغه ګڼه کښې د جم (جمرود) د قامي ډلې د يوې طرحي مشاعرې په دوران کښې اورول شوے د سيداحمدجان خپرې يو نظم نما غزل خپور شوے دے چې يو شعر او مقطع يې دلته وراندې کولے شي:

زمونږ د زړه مراد حاصل کړے ربه!
ستـــي په شمع پتنګان کړے ربه!
دا سوال خپرې په عاجزۍ کړم ربه
چې جور زمونږ پښتونستان کړے ربه!

(۴)

په دغه ترڅ کښې محمد يوسف الفت د اکورې يو نظم "پښتونستان نښۀ دے" د يادولو دے ۔ محمد يوسف الفت د پښتو په نوم ورکو شاعرانو کښې يو دے ۔ خو دا لاندينے نظم يې د پښتونستان د تصور په اړه يوه ستره حواله ده:

سر مو په مينه کښې د خپل وطن قربان نښۀ دے
مـــونږ پښتنو لـــره وطـن پښتونستان نښۀ دے
زۀ د عروج په لاره تلونکے خپل وطن غواړمه
وراندې ملکونو نه خپل وراندې له څښتن غواړمه
يا د زلمـو مخـــونه پټ په ســـور کفن غواړمه

Scanned by CamScanner

د شهادت په وینو رنک د زلمو خان ښۀ دے
مونږ پښتنو لره وطن پښتونستان ښۀ دے
قدم په پورته نن په لوري د اغیار واخله
زغره په تن او په لاسونو کښې تلوار واخله
دښمن د پاره لښکر خان سره بهدار واخله
تن په شمشیر د غږو غوڅ دې په میدان ښۀ دے
مونږ پښتنو لره وطن پښتونستان ښۀ دے

(۴۵)

دغه نظم کښې یوسف الفت د پښتنو د پاره پښتونستان زمکه او خاوره تر ټولو ښه بولي او په دغه لړ کښې د شهادت او وینې ورکولو نه هم مخ نۀ اړوي۔

عاصي اشنغرے هم د خوارو زارو پښتنو او پښتونستان سیاست کړے دے او د دغه مرام د پاره یې د عملي میدان نه پرته د شعر پر میدان کښې خپل جدوجهد کړے دے ۔ د شعري مجموعې نوم یې چې څنکه "توده وینه" دے ، هم دغسې ترې د وینې داړې څاڅي۔ هغۀ خپل شعر د فني قدرونو نه مبرأ ساتلے دے ، بس د قامیت او پښتونولي یوه چغه یې د شعر په ژبه کښې تاوبدلې راتاوبدلې ده۔

"د ازادۍ جرس" نومې نظم چې د باچاخان د پاره وئیلے شوے دے ، کښې یې د دغه تصور په اړه خپل نظر څۀ داسې وړاندې کوي:

د لوے ولي په سیاست او د ننګیالـــو په ننګ
په قـــربانو تالاوالا کور د افغـان جـــورېږي
د پښتـونخوا په پښتنـو باندې دا زبرے کوم
د غږو سترګو کښـې ازغے پښتونستان جورېږي

(۴۶)

Scanned by CamScanner

دا زېرے د باچاخان په موجودګي کښې او د ولي خان په ملګرتيا کښې په پښتنو باندې کوي چې دا خبره هم په ډاګه کوي چې د دوي سياست که هر څو په نورو نومونو کېدو ، ولې اصل مرام يې د پښتونستان وو او ځکه وربانديې د ملکي اېجنسيو شکونه هم کول ، بلکې د دې شکونو سلسله لا تر ننه پورې جاري ده . "پښتون زلمے" د ولي خان او باچاخان د ځوانانو يوه دسته وه چې د ډېرو خلقو دا خيال سم وو چې دا د پښتونستان د جوړولو د پاره منظم شوے دے . عاصي هشنغرے هم ورته څۀ داسې اشاره کوي:

سور مې شو پښتون زلمے جوړ به شي يو نوے باب
تندر په مانۍ به شي سرې نعرې د انقلاب
سرۀ به مزدوران شي
هر زلمے په سر کفن ورک به شي دار و رسن
سور به شي دا شين چمن هم به د جنت وطن
نوم پښتونستان شي
نوم پښتونستان شي

(۴۷)

مونږ وراندې دا ذکر کړے دے چې د پښتنو د قاميت يا د پښتونستان مبارزه د طبقاتي مبارزې سره ډېره پېوست شوې ده او ځکه چې قام پرستي د طبقاتي مبارزې اولنۍ پوړۍ ده . قامونه چې خپله مبارزه کوي ، نو د محروميت د لاسه يې کوي او اولسونه چې طبقاتي مبارزه کوي . نو هم يې د محرومۍ په بنياد کوي ، مقصد دا شو چې د دوارو مبارزو بنسټ يو دے ، ځکه په دارنګې تحريکونو کښې د اصطلاحاتو او روزمرو اشتراکات ډېر وي . "تجويز" نومې نظم د عاصي

Scanned by CamScanner

هشنغري د مجموعې اولنے نظم دے ۔ د نوم نه يې درک لګي چې دا يو تجويز دے ۔ دا تجويز د اولس په وراندې هم نه دے ۔ بلکې د علم او دانش او شعور د خاوندانو شاعرانو په وراندې اېښودے شوے دے ۔ دغه نظم کښې په شاعرانو غږ شوے دے چې بس نور د شوندو او سترګو د شاعرۍ نه لار بدلول پکار دي ۔ بس نور به د يو واضح مقصد د پاره شاعري کوو ۔ او بيا په دغه نظم کښې د ګردې نړۍ نه هغه تلميحات راټولوي چې تړاو يې د قامي مبارزې سره دے۔ دغه نظم کښې يې د پښتنو د يووالي او د خپل وطن او سيمې د راټولولو يو تجويز وراندې کړے دے:

د خوشحال ننګ او غيرت به ځان سره کړو
د اېمل نه به د تورې وهل زده کړو
د رحمان په اديره به دعا وکړو
د حميد بابا پښتو به وظيفه کړو
له ميروېس به د ملګرو پټې واخلو
ننګيالي د يوسفزو به مرکه کړو
د خيالي او د جيندي اوبۀ به وڅښو
مغل خپلو ته به ځان نشه نشه کړو
د ختک بابا نمسے به جنډه واخلي
هشنغر کښې به تياره قافله کړو

اول خلاصه به پښتو له زولنو کړو
په هر ځاے به جګ ببرغ د پښتنو کړو
په اخلاص به قام زپلي قام ته رسو
نو ملګرو بيا به خپل مرام ته رسو

(۴۸)

Scanned by CamScanner

دغه د تودې وينې غورځنګ د عاصي هشنغري په شاعرۍ کښې خور وور پروت دے۔ په هر نظم او شعر کښې د پښتنو او پښتونولۍ احساس ورسره ښهٔ ګرم دے او ښهٔ ټينګ دے۔ پښتانهٔ يې د خپل دغه مرام نه ډېر په وخت او په موقع خبر ساتلي دي او په مونږ يې د هغه وخت د پښتني سياست موخه هم واضحه کړې ده۔

د دغه دور د اولسي شاعرانو په شاعرۍ کښې د پښتونستان تصور د موندولو ستر ډېر امکانات موجود دي۔ خو بده مرغه د دغو اولسي شاعرانو شاعري په حجرو ، جلسو او محفلونو کښې اوربدل شوې ده ، خوند ترې اخستل شوے دے ، جذبې پرې ګرمې شوې دي او بيا په سړه سينه هېره شوې ده۔ زياتره اولسي شاعرانو د د خپلې شاعرۍ د چاپ کولو وس نه لرلو او په اولسي کچه داسې ادارو شتون نه درلوده چې د دغو شاعرانو شاعري خوندي کړي او نوي نسل ته يې وسپاري۔

Scanned by CamScanner

حوالې

1. Marwat, Fazal Ur Rahim, Dr. Pashto literature: A Quest for Identity in Pakistan, Peshawar, Pakistan study centre, University of Peshawar, p:5
2. فضل الرحيم ساقي ، ډک جام ، د رهبر د اشاعت څانګه ، س ن ، مخ:۵۵
3. مياشتنۍ لار، مدير: ولي محمد طوفان ، پښور ، مۍ ۱۹۵۷ء ، بېک انر ټائيټل
4. بېنوا ، عبدالروف ، اوسني ليکوال ، ترتيب او زياتوني مطيع الله روهيال ، کندهار ، صداقت خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ش (۲۰۱۴)، مخ:۱۱۴۴
5. ډک جام ، مخ: ۹
6. رهبر مردان ، ۳۱ مۍ ۱۹۵۷
7. ډک جام ، مخ:۱۷
8. رهبر مردان ـ ۸ جون ۱۹۵۷ ، مخ:۱۱
9. مياشتنۍ ، رهبر پښور ، (اډيټران: مهدي ـ طوفان ـ قلندر) ، ۱۵ جنوري ۱۹۵۸، مخ:۱۷
10. جلبل ، سعادت خان ، ناچاپه شاعري ، مملوکه: جواد الله ابم فل سکالر ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچاخان پوهنتون چارسده ، دورانيه: ۲۰۱۳ ـ ۲۰۱۴
11. هم دغه حواله
12. هم دغه حواله
13. کاکړ ، ظريف اخوند ، ملا ، د پښتونخوا نغمې ، کوټه ، ملا

Scanned by CamScanner

ظریف کاکړ فاونډیشن . ۲۰۱۱ . مخونه: ۸۷ ..۸۸

14. هم دغه کتاب . مخ ۱۳۱

15. هم دغه کتاب. مخ ۳۶۴

16. طوفان . ولي محمد . غورځنک . دبی . اماراتو پښتو ادبي ټولنه . ۲۰۱۴ . مخ ۱۴۲

17. هم دغه کتاب . مخ ۱۴۵-۱۵۳

18. هم دغه کتاب . مخ ۱۶۴

19. هم دغه کتاب . مخ ۸۷

20. ایوب صابر. خیکرخون . پښور . قامي مکتبه . دویم خل ۱۹۸۳ء . مخونه ۲۱۹-۲۲۰

21. استاذ. سیدحسن . د سیدحسن استاذ کلیات . غیر مطبوعه . مملوکه: بنارس خان ختک

22. اجمل ختک . د غیرت چغه . پښور . یونیورستي بک ایجنسي . ۲۰۱۲ء مخ ۱۱۹

23. هم دغه کتاب . مخ ۴۹

24. هم دغه کتاب . مخ ۱۰۵

25. هم دغه کتاب . مخ ۱۶۳

26. هم دغه کتاب . مخ ۱۲۵

27. هم دغه کتاب . مخ ۱۰۵

28. هم دغه کتاب . مخ ۷۷

29. لار ـ جولایي ۱۹۵۷ . مخونه ۱۰ـ۱۱

30. رهبر . ۳۲ اکتوبر ۱۹۵۷ . مخ ۱۰

31. رهبر . ۸ جنوري ۱۹۵۸ . مخ ۹

Scanned by CamScanner

32. رهبر ، ۱۵ جنوري ۱۹۵۸ ، مخ ۱۲
33. رهبر مردان ـ جولايي ۱۷۵۷ ، مخ ۱۰
34. قلندر مومند ، سباوون ، دويم اډيشن ، پښور ، دور ، ۱۹۸۸ ، مخ ۴۸
35. همېش خليل ، زما سندري ـ پښور ، دالتصنيف ، ۱۹۷۳ ، مخ ۹
36. هم دغه کتاب ، مخ ۱۰
37. هم دغه کتاب ، مخونه ۴۷-۴۸
38. هم دغه کتاب ، مخ ۶۶
39. پښتنے ارمان ، کابل ، د کابل عمومي مطبع ، ۱۳۳۴ ، مخ ۱۱
40. مجذوب ، عبدالرحيم ، د مجذوب کليات ، پښور ، دانش کتاب پلورنځے ، ۱۹۹۹ ، مخ ۵۹
41. هم دغه کتاب ، مخ ۵۵
42. رهبر ، ۶ اکتوبر ۱۹۵۷ ، مخ ۹
43. مياشتنی ، رهبر پښور ، اډيټران مهدي ـ طوفان ـ قلندر ، ۱۶ ستمبر ۱۹۵۷ مخ ۱۱
44. هم دغه ، مخ ۱۴
45. هم دغه ، مخ ۱۱
46. عاصي هشنغري ، توده وينه ، پښور ، يونيورستي پبلشرز ، س ن ، مخ ۸۶
47. هم دغه کتاب ، مخ ۱۱۱
48. هم دغه کتاب ، مخونه ۶-۷

Scanned by CamScanner

خلورم باب

افغانستان کښې پښتو شاعري او د پښتونستان تحريک

(بنو قرارداد نه پس ۱۹۶۰ پورې)

Scanned by CamScanner

د پښتونستان شخړه تش د کوزې پښتونخوا د پښتو شاعرانو په شاعرۍ کښې هم نشي لیده ، بلکې د افغانستان د پښتنو شاعرانو په شاعرۍ کښې هم ډېره په ښکاره ډول مونږ ته په نظر راځي چې مطالعه به یې په راتلونکیو پاڼو کښې ستاسو په وړاندې کړدو ۔ خو دلته باید د ډاکټر فضل الرحیم مروت د تحقیق یادونه وکړم ، هغه په خپل کتابګوتي کښې یو ځاے لیکي:

"Kabul had published more than fifty-nine books in pashto on different aspects of Pashtunistan beside numerous pamphlets, articles and posters." (1)

ژباړه: کابل (افغانستان) د نهـ پنځوسو نه زیات کتابونه د پښتونستان په بېلابېلو اړخونو خپاره کړي دي او بې شمېره رسالې/کتابچې ، مضمونونه او اشتهارات (پوسټرونه) د دې نه علاوه دي۔

عبدالرحیم ننګیالے د پښتو او دري ژبې یو تکړه شاعر او لیکونکے تېر شوے دے ۔ د حاجي میرزا محمد ایوب ځوے او په ختهٔ کاکړ دے ۔ په ۱۲۹۴ شمسي (په مطابق د ۱۹۰۴) کال کښې د کندهار په پاشمول کښې پیدا شوے دے ۔ "د مظلوم پښتونستاني ږغ" په نوم نظم کښې څه دارنګې وایي:

اې چـــې د بشر د امن و صلحې ضمانت کوئ
اې چې د مشروع حق د حصول معاونت کوئ
اې چې حق پسنده ځان ګنئ او عدالت کوئ
اې چـــې د تېري او تجـــاوز څخه نفرت کوئ
وګـــورئ د جبټ په طیارو غـــوښې توتې زمونږ
ووینـــئ دا ورانـــې خرابې سوې کوټې زمونږ

(۲)

Scanned by CamScanner

د مظلوم پښتونستاني دا غږ په ډېر تفصيل سره قلم بند شوے دے او پکښې يې هغه ټول صورتحال او ټول ظلمونه بيان کړے شوي دے چې د دې ځاے پښتنو سره د پاکستان رياست روا ساتلي وو. د جبټ بمبار ، د بې وزلو او بې وسو خلقو وژنه ، د مشرانو قيدول او شاعرانو او اديبانو غږ بنديز او نور ټول ، ولې بيا هم دغه پښتونستانے په واز کومې وايي:

ما و هري پښې ته ټټر خپل هدف کړے دے
زهٔ پښتونستان غواړمه سر مې وقف کړے دے
کـــران پښتونستانه ستا په سر باندې قسم کوم
عهـد په خيبر او ستا په سره ښکلي پرچم کوم

(۳)

عبدالقادر ټبر (۱۲۸۶ھ) چې د محمد نعيم ذوے او د کندهار ښار اوسېدونکے دے. ټبر د ډېر حساس ذهن او طبيعت خاوند انسان ثابت شوے دے. شاعري يې د قام د راويښولو او د قام د پښتني احساساتو د راپارولو د پاره يوه وسيله ګڼلې ده او هم د پښتون قام سره د ډېرې مينې او محبت له کبله يې د ځان د پاره د ټبر تخلص هم خوښ کړے دے. (۴) د پښتونستان په موضوع يې يو شمېر نظمونه وئيلي دي. دلته يې د شعر يوه نمونه وړاندې کوم:

څـــو جـور نه شي د پښتون پښتـــونستان
نـه بـه کښېنـي پـر ارامـه افغـانـان
فـيصلـه ده د پښتـــون د مـرګ او ژوند
يا بـې جوړ کړي يا به ځان کړي ترې قربان

Scanned by CamScanner

د يو نو په قوانينو کښې دا درج دي
کړاے سي هر څوک په اختيار خپل ژوند د خان
نو بيا ولې دے محروم له دغه حقه
استعمار له لاسه ټول پښتونستان

(۵)

استاد ګل باچا الفت چې د پښتو په نوي ادبياتو کښې د ژور فکر او استدلالي اپروچ په رڼا کښې خان ته يوه خپله لار او يو خپل اسلوب لري ۔ په کال ۱۲۷۸هـ کښې د لغمان د عزيزخان په کځ کښې پيدا شوے دے او په ۱۳۵۶ش کال کښې وفات شوے دے ۔ (۶) په نظم او نثر يې يو شان قلم روان دے او د نثري شعرونو په ليک يې ښځي ډېر لاس بر دے ۔ د شاعرۍ موضوعات يې د انساني ژوند سره تړلې قيصې دي او وطني او قامي رنګونه پکښې هم ډېر جوت دي. "زما خوب" نومې نظم چې د پښتونستان د پاره يې وئيلے دے ، کښې څه داسې وايي:

اوربل يې ما په خوب کښې پريشان ليدلے دے
ستا بخت خو مې رقيبه دغه شان ليدلے دے
د ګلو هار په غاړه محبوبا شوه راحضوره
بلبله ستا وطن مې ګلستان ليدلے دے
کارغان به پکښې نه وي بلبلان به پکښې وي
باغونه به سمسور وي ما باغبان ليدلے دے
دا توره شپه به خداے کاندي پښتون باندې سبا
سپين مخ مې يې سبا غوندې روښان ليدلے دے

(۷)

دغه نظم کښې الفت صهب دخپل ليدلي خوب حال بيانوي،

Scanned by CamScanner

کوم کښې چې هغه يو داسې وطن او سيمه وينې چې کارغان به پکښې نه وي او تش بلبلان به پکښې ژوند کوي ـ دلته د کارغانو نه مراد هغه استعماري قوتونه دي چې د بلبلانو (پښتنو) په سيمه يې قبضه ټينګه کړې ده ـ

سيد محمد بېدار (۱۲۸۶ تقريباً) د ننګرهار د چپرهار د ميرانو د باندې اوسېدونکے دے ـ يو ځيرک او تکړه اولسي شاعر تېر شوے دے او د ننګرهار سندرغاړو يې اشعار په کثرت سره وئيلي هم دي ـ د دوي د په اړه مختار احمد مختار په خپل کتاب کښې ليکي:

"ـ ـ ـ بېغلي بېدار د وطن په جدايۍ کښې ډېر کړاوونه وزغمل چې بالاخره د له دې غمه رنځور سو او د ډېرې اوږدې ناروغۍ نه پس د مهاجرت په کور کښې يې د خپل خوږ وطن په ارمان سترګې پټې کړې ـ ـ ـ" (۸)

شاعري يې په ملي اوزانو او د ملي روحيې د پاره خپل يو شهرت لري ـ "وطن دے د افغان" نومې نظم چې د پښتونستان د پاره ليکلے شوے دے ، څخه څه نمونه وړاندې کولے شي:

تل دې وي اباد ربه ازاد پښتونستان وطن دئ د افغان

دا زمونږه کور دئ پکښې مور کوو ژوندون وطن دئ د پښتون
جوړ به دا وطن کړو لکه ناوې په ښه شان وطن دې د افغان

اول وي که اخر وي جوړوو دغه وطن دا دئ زمور ګلشن
مور يې بلبلان يو دا زمور دئ ګلستان وطن دئ د افغان

(۹)

Scanned by CamScanner

ملنګ جان (۱۲۹۳-۱۳۳۶) د پښتو د اولسي ادب په زېرمه کښې د قامي او ملي سندرو لومړنے باقاعده او پوخ او منلے شاعر دے۔ د ننګرهار د بهسودو اولسوالۍ په چمیار کلي کښې د عبدالشکور کره پیدا شوے دے (۱۰)۔ پښتو شاعرۍ کښې چې کله هم د ملي ، حماسي ، قامي او په خصوص سره د پښتونستان په ترڅ کښې د وئیلو سندرو او نظمونو خبره کېږي ، نو د ملنګ جان نوم به خامخا مخې ته راځي۔ ملنګ جان هغه یوازینے شاعر دے چې که د مور او لور مکالمه تخلیق کوي ، که د پلار او زوے مکالمه زمزمه کوي او که د عاشق او محبوبې مکالمه نظم کوي خو د خاورې او وطن قیصه پکښې نه هېروي۔ پښتونستان د ملنګ جان په رګونو کښې خوځښت کولو۔ هغه که څه هم ساه په ازاد افغانستان کښې اخستله ، خو د هره ساه یې د پښتونستان محکومتیا په اسوېلي بدله کړې ده او دغه اسوېلي یې داسې سندره کړي دي:

لوګے شمه لتانه پتنګ دے یم پتنګ
زما پښتونستانه پتنګ دے یم پتنګ

مجنون ته که لیلا وه خو پښتون ته ته لیلا یې
لیلا خو مو لیلا یې چې زمونږ ننګ او حیا یې
مـحبوب د ملنګ جانه ملنګ دے یم ملنګ
(۱۱)

د ملنګ جان په سندرو کښې د هغه روح خبرې کوي۔ هغه چې کوم ټکي کاروي او په کوم غنائیت سره یې کاروي ، د هغې په پس منظر کښې د شاعر د روح بې قراري جوته ښکاري۔ یو بل ځاے کښې د پښتونستان سندره داسې زمزمه کوي:

Scanned by CamScanner

سر ورکول په وطن کار د مېرنو دے
پښتونستان د پښتنو دے

ځانونه نه ګورو ، نه مال نه اولادونه ساتو
هر څه نه تېر يو د وطن غرونه رغونه ساتو
مور د نيکونو او پلرو درانه نومونه ساتو
دا وصيت مور ته د ټولو پخوانو دے
پښتونستان د پښتنو دے

(۱۲)

يو بل ځاے کښې چې پښتونستان سره د خپلې مينې اظهار کوي ، نو د پښتونستان خاوره ، کانې ، غرونه او رغونه ورته څه داسې ښکاري:

خاوره يې د سرو ده هر يو کانے يې مرجان دے
زهٔ چې پرې مئين يم دا هغه پښتونستان دے

(۱۳)

"د افسوس اوښکې مه څې" نومې اورد نظم کښې د پښتونستان محکومتيا ته چې ګوري ، نو احساسات يې داسې راولاړزبړي:

زهٔ طالب د خپل حقوق او استقلال يم
ازادۍ په نامه تېر تر سر و مال يم
يا به خاورې په دې لار کښې خپل زلميان کړم
يا به جور په خپل همت پښتونستان کړم
ظالمانو کړم ببزار زهٔ له ژوندونه
د افسوس اوښکې مې څې لکه رودونه

(۱۴)

محمد صفدر سالارزے (۱۲۹۴هـ ش) د اسمار د بر کونړ په

Scanned by CamScanner

شنکر نومې کلي کښې زېرېدلے دے او هم دلته يې خپلې ابتدايي زده کړې ترسره کړې دي ـ په پښتو او پښتونولي يې قلم ډېر روان چلېدلے دے ـ پښتنو يو شئ، ، نومې نظم کښې د پښتونستان په زلمو داسې غږ کوي:

راشئ سره يو شئ واړه اې د پښتونـخوا زلمو
اې د پښتني ملک اوسېدونکيو هرې خوا زلمو
ودروئ ببرغ صف او قطار کښـې د اېشيا زلمو
خپل استقلال وښـوئ دنيـا ته خامخـا زلمو

ژوند به مو هله وي قايم پښتـونستـان شـــي
خپله خپلواکـــي مو د نړۍ په مخ اعلان شي

(۱۵)

دغه نظم کښې صفدر سالارزے د پښتونستان (پاکستان ميشته) زلمو باندې غږ کوي چې يو قطار شئ او يو لښکر شئ ، هله به تاسو ژوند وکټئ ، ځکه چې ژوند په قامي وحدت کښې دے ، ژوند په قامي اتفاق کښې دے او ژوند په پښتني ورورولي کښې دے ـ

جان محمد پکتا (۱۲۹۵) د کندهار اوسېدونکے يو پوهه او زيرک پوهه شاعر دے ـ بې شمېره قامي او نړيوالو کنفرسونو کښې يې برخه اخستې ده او بې شمېره مقالې يې پکښې اورولې دي چې د دوي د وېنا تر مخه دوه سوه ځلوېښت مقالې يې تش د پښتونستان په اړه په دغه کنفرسونو کښې اورولے دي ـ (۱۶) د ې نه پرته يې د پښتونستان په نوم يوه ډرامه هم ليکلې او ستېج کړې ده ـ "استعمار او پښتونواله" نومې نظم کښې کښې د پښتونستان مسلې ته څه دارنګې ګوري:

دا جوړه تا کړه چې د دوو ورونو نغرے ببل سي
پرے دې راوړ چې مې ورور خپل سکنے ببل سي

Scanned by CamScanner

په حقیقت کښې له ګوګله مـې زړګـے ښل سي
یا مې وجود له خپله پوسته څه ژوندے ښل سي

بس ده سرتیټ کړه عدالت ته چې مغزے ښل سي
هیڅ پښتون نه دئ چې پښتو څه یو ګړے ښل سي
پښتو خو دا ده له پښتون څه ژر پردے ښل سي
دا انصاف نه دے له کوهساره چې زمرے ښل سي
ښایي د زمري څه ور غندے د پښو وښے ښل سي

زړۀ به غورځنګ وکړي چې"ازاد پښتونستان غواړم"
که مې کوپړه د ککرۍ پر سم نیمے ښل سي
(۱۷)

محمد حسن سایې (۱۳۰۶هـ ش) چې وروستو یې ځان ته ضمیر تخلص کولو ، د ننګرهار په علي خېلو په کلي کښې زېږېدلے دے. د کابل پوهنتون نه یې د ادبیاتو په څانګه کښې تحصیلات کړي دي. د پښتو ټولنه کابل د تاریخ او ادبیاتو د څانګې مدیر هم پاتې شوے دے. منظوم او منثور دواړه قسمه اثار لري. د شاعرۍ موضوعات یې قامي رنګ زیات لري. د "پښتونستان پښتون ته" نومې نظم کښې د پښتنو قامي جذبې ته دارنګ پوکے ورکوي:

مه کـوه خـوبـونه دغـه عصر د خوبو نه دے
دا طلایـي وخت د تـش عېشو د تېرېدو نه دے
وخت د کاروزیار دے ، د عېشونو او چرچو نه دے

جـور پښتونستان کړه ، دغـه لاره کښې قربان شه
پاڅېږه پښتـونه نـوي ژوند خـوا ته روان شه
(۱۸)

Scanned by CamScanner

دغه اورد نظم کښې د پښتونستان پښتنو ته د نړۍ د هغه قامونو مثالونه ورکوي چې په خپلو متو يې ازادي ګټلې ده او ورباندې دا غږ کوي چې بايد ته هم په دغه ويښ دور کښې وودۀ پاتې نۀ شې او د خپلې ازادۍ څخه غافله نۀ شې ۔ دغه نظم کښې محمد حسن سايې د پښتنو په سيمه د خورو ورو خزانو ذکر هم کوي او په پښتون دا غږ هم کوي چې د دغه هر څه مالک تۀ يې او بايد چې دا هر څه په خپلو لاسونو کښې واخلې۔

حبيب الله تږے (۱۳۰۷ يا ۱۳۰۸هـ ش) چې د يو شاعر نه زيات د يو تاريخ پوهنې او ژب پوهنې په ترڅ کښې يې زياته پېژندنه شوې ده ، هم په خپل شعر کښې د پښتونستان موضوع له پامه نه ده غورځولې ۔ "د پښتونستان زلمي نسل ته" نومې نظم کښې په ډېر تفصيل سره او په ډېر اوچت او جذباتي انداز د ازادۍ غږ کوي:

اې بچيـــه! د پښتـونـــه اې د نوي ژوند مضمونه
پاڅـــه جـــور نوې جهان کړه

زاړۀ ژونـد تۀ رخصت ورکړه نوي ژوند سـره اشنا شه
چـــې يې نوے ژونـد منلے د هغـو سـره په خـلا شه
چې د زور ژوند نه په تنګ دے د هـغـو درد تـه دوا شه
چـې زور فکـر پکښې ګرځي هغـه سـر لـره سـزا شه
خـپل تيـارۀ جهـان رڼا کـړه يو ځل وسـوزه برېښنا شه
استعمـار تـه پنجـــه ورکـړه د تازه فکـر په خـوا شه
ځان ازاد کړه ځان ازاد کړه کړه ټوک ټوک زاړۀ دامونه
اې بچيـــه! د پښتـونـــه اې د نوي ژوند مضمونه
پاڅـــه جـــور نوې جهان کـړه

(۱۹)

Scanned by CamScanner

دغه نظم د فکر په لحاظ هم ډېر لوړ او د فن په لحاظ هم د پښتو د جدید نظم یوه ډېره معتبره حواله ده ۔ حبیب الله ترۍ ډېر په موثره توګه خپل پېغام پکښې د پښتونستان (د پاکستان میشته پښتنو سیمه) زلمو ته رسولے دے ۔

برکت الله کمین (۱۳۰۸ هـ ش) د عشقیه شاعرۍ د پاره په سیمه کښې شهرت لري ۔ خو د قام وطن د موضوعاتو نه هم بې غوره نۀ دے ۔ کمین د چاباغ د سیمې سره تعلق ساتي او څه رسمي زده کړې یې نۀ دي ترسره کړې ، ولې د شعر ملکه ورباندې مهربانه پاتې شوې ده ۔ د پښتونستان د مطالبې په ترڅ کښې د افغانستان حکومت نه د مرستې غوښتلو په غرض په ۱۳۳۸ کال کښې د پنځه زرو تنو اورکزیو په ګډون د شینوارو په غني خپلو کښې یوه جرګه جوړه شوې وه چې برکت الله کمین پرې "د اورکزیو درنه جرګه" نومې نظم لیکلے دے ۔ دغه مختصر نظم دلته ټول د رانقل کوم:

د غـرۀ لمنه کښې ښایسته ښکلے جهان مې ولید
وچه ولخه کښې خړوب شوے زور او ځوان مې ولید
د ننګ صحنه وه جوړه شوې د غېرت په لمسون
د پاړېدلو احساساتو یو تـوپان مـې ولیـد
د اتحـاد او اتفـاق هـر خـوا خبـرې کېدې
پـه وفا عهـد او ملـي تـړون پیمـان مـې ولید
پـه دهـشـت ناکـو اوازو او دردېدلـو زړونـو
هغه صحرا کښې د محشر د ورځې شان مې ولید
د مشرانو ښه وېنا وته کشـران وو ښۀ ځیـر
د ټولو زړونو کښې د نوي ژوند امان مې ولید
د سربازۍ موزیک ته هر زلمي خپل سر غـورځوو
په خجالـت کښـې ځورند سر خائن حېران مې ولید

Scanned by CamScanner

د پښتنـو د دې درنـې جرګې په مخ کښې کمين
په رنـو سترګو يـو ازاد پښتـونستـان مـې ولید

(۲۰)

عبدالله ځاخے (۱۳۱۱ھ) د پکتيا ولايت د ډېرې مينې په کلي کښې پيدا شوے دے ۔ يو ساده ، کليوال او اولسي شاعر دے چې د وطن دوستۍ څخه عبارت شاعري به يې په حجرو کښې وئيله او اولس به ډېره زياته خوښوله ۔ "د ازادۍ چيغه" په نوم يو نظم کښې د ازادۍ او خپلواکۍ جذبه څه دارنګ منظوم کوي:

تېر به سر و مال نه شم خپل ځان به قربانـي کړمه
پـوره به ازادي کړمـه

تېر به سر و مال نه شم چـې جـور پښتونستان شي
ورک به مې ارمان شي
نر پښتون هغه دے چې په خپل ناموس قربان شي
ورک به مې ارمان شي
زهٔ عبـدالله خـان خـاونده تا ته دا زاري کړمه
پـوره به ازادي کړمـه

(۲۱)

امان الله سېلاب (۱۳۱۲ هـ ش) د ننګرهار د کامې د غازي نومې کلي سره تعلق ساتي او د قاضي توب لورې زده کړې يې ترلاسه کړې دي ۔ ساده ، سپېڅلے ، روان او سليس شعر وايي او د تشبيهاتو او نازکو خيالاتو په اړه خاص شهرت لري ۔ د ننګرهار د سيمو زياتره سندرغاړو يې شعرونه ياد کړي او وئيلي دي ۔ د نظم او نثر څه کتابونه يې چاپ شوي دي او څه ناچاپه پراتهٔ دي ۔ امان الله سېلاب د انقلاب

Scanned by CamScanner

په وختونو کښې په زندان کښې وفات شوے دے ۔ (۲۲) د شاعرۍ موضوعات يې عشقيه او وطني دواړه رنګونه لري ۔"د پښتونستان پښتون وايي" نومې نظم کښې ډېر برملا د پښتونستان د تحريک ذکر کوي او مرسته يې کوي

مورہ منے نۂ شو غلامي او اسارت د چا
مورہ کوے نۂ شو سلامي او يا خدمت د چا
نۂ منو هيڅ کله مور امرونه حکومت د چا
نۂ مو دي پکار پردي مالونه نۂ دولت د چا
مورہ ازادي د خان دولت او هم سينګار ګڼو
ژوند د خپلواکۍ او حريت کښې افتخار ګڼو

پاڅېږہ سپلابه کامه واله! خه تيراه له تۂ
ورشه بيا توبې ، ګروېک ، چترال او سلاله له تۂ
يوسه دا پېغام هغه زمرو د پښتونخوا له تۂ
غږ وکړہ زلمو او ننګيالیو د هرې خوا له تۂ
داسې ورته وايه راشئ ښکلے ګلستان جوړ کړو
خان لره خپلواکے مستقبل پښتونستان جوړ کړو
(۲۳)

عبدالله مسيزے (۱۳۱۳ش) د ننګرهار د کامې په شنه کلا کښې زېږېدلے دے او په قبيلوي لحاظ اتمرخېل مومند دے ۔ د شاعرۍ نه پرته يې مقالې او يو شمېر ترجمې هم کړې دي او د کابل راډيو کښې يې د پښتونستان پروګرام د پاره بې شمېره سکرپټونه هم ليکلي دي ۔ شاعري او مقالې يې د هېواد په ښه ښلو ورځپاڼو او مجلو کښې خپارۂ شوي دي ۔ "د پښتونستان زلمي ته" نظم کښې يې خپل دريځ ډېر په صفا

Scanned by CamScanner

تکیو کښې ښودلے دے

دا څه کاني دي ستا په نوم او په نشان چې کېږي
دا څه ظلمونه په سپين ږيري باچاخان چې کېږي
تاسو نه پت او حيا اخلـــي لږ خو فکـر وکړئ
دا څه نخرې دي په محکوم پښتونستان چې کېږي

اخر تر څو به ورته تاسو لاس تر زنې ناست ياست
کوم ظلم نه دے په بوډا خان صمدخان چې کېږي

چـې ازادي نـه وي ژونـدون دې نـه وي
دا د خـوشحـال خټک ګفتـار دے وروره!
چـې اهـميت د خپلـواکـي پـېژنـي
هـغـه قامـونـو کښـې بادار دے وروره!

مسيزے وايـي چـې راځئ عهد و پيمان وتړو
د خپل وطـن نه حاکمـان د پاکـستـان وشـړو

(۲۴)

محمد کاظم بيمار (۱۳۲۳ھ) د ننګرهار ولايت د شاهي کوټ له سيمې سره تعلق ساتي ـ د خپلو لومړنيو زده کړو سره سره يې شعر وئيلو ته هم دوام ورکړو او د وطن او خاورې او ژبې سره د مينې په بنياد يې خپله شاعري په وړاندې بوتللې ده ـ د شعر ژبه يې ډېره صفا او روانه ده او د موضوع په ترڅ کښې هم د هيڅ قسمه ابهام سره نۀ مخ کېږي ـ "پښتونستان ته" په نوم د يو نظم څخه يې څه نمونه وړاندې کولے شي چې د شاعر د نظرياتي اړوندۍ پته راکوي:

Scanned by CamScanner

د جهلمه تر چتراله دا زمونږ وطن او خاله
شي ازاد به لا محاله پکښې نشته قبل او قاله
یا به دا وطن وطن شي یا به جور راته کفن شي

دا زمور اخر بیان دے اوس مو کړے دا پیمان دے
هم مو کلک عزم ایمان دے په زړګي مو دا ارمان دے
چې کړو ازاد پښتونستان د افغان
دغه ښایسته جنت نشان د افغان

(۲۵)

او دې سره نور ګڼ اولسي شاعرانو دغه موضوع د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولې ده او وخت په وخت يې په مشاعرو او نورو ادبي محفلونو يا د پښتونستان د قامي ورځې په مناسبت جوړو شويو غونډو کښې اورولې ده ـ خو د بده مرغه د زياتره اولسي شاعرانو شاعري د چاپ د مرحلو څخه نه تېره شوې ، له دغه کبله هغه شاعري سخت او د کړاوٗ نه ډک تحقيق ته اړتيا لري چې د پښتو د محققينو په اوږه پرته ذمه واري ده ـ

حوالې:

1. Marwat, Fazal Ur Rahim, Dr. Pashto literature: A Quest for Identity in Pakistan, Peshawar, Pakistan study centre, University of Peshawar, p:5
2. عبدالروف بېنوا ، اوسنې لیکوال ، ترتیب او زیاتونې مطیع الله روهیال ، کندهار ، صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ش (۲۰۱۴)، مخ:۱۱۴۴
3. هم دغه کتاب ، مخ: ۱۱۴۴
4. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۳۵
5. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۳۶
6. زلمي هېواد مل ، فرهنګ ادبیات پښتو ، دوهم ټوک ، ۱۳۶۵ش ، مخ:۲۲۵
7. اوسنې لیکوال: ۱۱۱-۱۱۰
8. مختار احمد مختار ، د چپرهار لیکوال او شاعران ، ۱۳۷۹ش، مخ:۵۷
9. هم دغه کتاب ، مخ:۵۷
10. ملنګ جان ، د ملنګ جان خوږې نغمې (غورچاپ) ، پېښور ، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۰۷ ، مخ:۱
11. هم دغه کتاب، مخ:۱۲
12. هم دغه کتاب، مخ:۲۳
13. هم دغه کتاب، مخ:۲۹
14. هم دغه کتاب، مخ:۳۴
15. اوسنې لیکوال: ۶۰۸-۶۰۹
16. مېوند مجله ، دولسمه ګڼه ، ۱۳۸۴ ، مخ:۲۸
17. اوسنې لیکوال: ۲۱۹

Scanned by CamScanner

18. هم دغه کتاب ، مخ: ۵۹۳
19. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۳۱-۲۳۲
20. هم دغه کتاب ، مخ: ۹۷۷
21. محمد مومن پتوال ، اوسني شاعران ، کابل ، د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو مرکز پښتو ټولنه ، ۱۳۶۷ش ، مخ: ۱۲۱-۱۲۲
22. حبيب الله رفيع ، زندان خورلي اديبان ، ۱۳۸۶ ، مخ: ۴۹
23. اوسني ليکوال: ۶۷۸-۶۷۹
24. هم دغه کتاب ، مخ: ۱۶۰-۱۰۶۱
25. هم دغه کتاب ، مخ: ۲۴۳

Scanned by CamScanner

د تحقیق پایله/نتیجه

Scanned by CamScanner

د پښتونستان تحریک او پښتو شاعري په اړه د تحقیق په دوران کښې زهٔ د ډېر عجب صورتحال سره مخ شوم ۔ کله خو به مې دا فیصله وکړه چې دا تحقیق په ځاے پرېښودے شي ، نو هم به بده نهٔ وي ۔ ځکه چې د پښتونستان تحریک څه ډېر ډرامایي انداز خپل کړے دے ۔

د هندوستان د تقسیم نه ډېر وړاندې بلکې د ډیورنډ د کرښې اچولو نه سمدستي څو کالونه پس د پښتنو د خپل ازاد حکومت ازانګې اوربدل شوې دي چې په وړومبي باب کښې مو د میر بشیرخان دین خپل د ازاد حکومت د اعلان په ترڅ کښې اوربدل کېږي ۔ د برطانوي کمیشن په رپورټس کښې چې د صاحبزاده عبدالقیوم خان د لیکونو په حواله هم لوستي دي چې پښتانه خپل ازاد هېواد غواړي ۔ ورستو په کال ۱۹۳۸ کښې د خدایي خدمتګارانو د غړي توب د یو فارم حواله هم مخې ته راغله چې اوله نکته پکښې د یو خپلواکه حکومت ترلاسه کول ښودل شوې ده ۔

مونږ دا هم ولوستل چې د ترک جرمن مشن په ترڅ کښې په ۱۹۱۸ کښې د پټهانستان ، وروستو د مولانا عبیدالله سندهي په یو لیک کښې د پشتانیه او د تقسیم نه ېخي لږه موده وړاندې د پښتونستان نوم په لیک کښې راغلے دے او چې دا نوم اول د شاعرانو په لیک کښې راغلے او بیا د بنو د قرارداد په ترڅ کښې مخې ته راغلے دے ۔ ولې بیا یې هم اړخونه بدل کړي را بدل کړي دي ۔

بنو قرارداد کښې که څه هم د پښتونستان نوم نشته ، ولې

Scanned by CamScanner

تشريح کونکيو يې د يو جدا او خپلواکه دولت (هېواد) د پاره کارولے دے ۔ افغانستان دا نوم د کوزې پښتونخوا (اول د هندوستان برخه او اوس د پاکستان) د پاره کارولو ، يعني افغانستان پښتونستان هم د يو جدا او خپلواکه هېواد په شکل کښې غوښتلو۔ البته د کوزې پښتونخوا د خلقو په خوښه پښتونستان د افغانستان برخه هم کېدے شي۔

خو باچاخان چې قانون سازې اسمبلۍ ته د رکنيت اخستو د پاره لاړو او هلته يې کوم تقرير وکړو او د لياقت علي خان د پوښتنې په ځواب کښې دوي کوم بيان ورکړو ، نو د هغه ورځې راسې خدايي خدمتګارو د پښتونستان نوم د صوبې تر نوم پوره محدود وساتلو۔ که څه هم د بابړې په تاريخي پېښه کښې د"باچاخان زنده باد او پښتونستان زنده باد" نعرې لګول کېدې۔

بل خوا د خان عبدالصمدخان ډلې (انجمن وطن) هم نۀ خو دغه نوم خپل کړے دے او نۀ يې په دغه نوم د يو جدا هېواد د غوښتنې د پاره کومه عملي مبارزه کړې ده۔

البته فقير ايپي او د هغه ملګريو په دغه نوم د جدا رياست د ترلاسه کولو د پاره عملي مبارزه پېل کړې ده چې پوره تفصيل يې مونږ د د دغه مقالې په ورومبي باب کښې لوستی دی ۔ د دوي دغه مبارزه د هغوي په مړ ک (۱۹۶۰) تمامه شوه۔

تر څو پورې چې د افغانستان خبره ده ، نو هلته د سيکهانو د وختونو راسې د افغانستان د تقسيم عمل د حکمرانانو نه واخله تر اولسونو پورې چا هم د زړۀ نه منلے نۀ دے او په دغه ترخ کښې مونږ خپله مطالعه په تفصيل سره وراندې کړې ده ۔ د ډيورنډ په کرښه د سياسي او قامي شعور لرونکيو له خوا امير عبدالرحمان باقاعده تورن ياد شوے دے ، بل د امير امانه الله خان په ازادي او استقلال هم ګوتې پوره شوې دي او پوره ازادي ورته نه دي وئيل شوي۔ خو خبره چې د

Scanned by CamScanner

هندوستان تر وېش پورې رارسېده ، نو يو داسې نسل په لړه بره (دواړو سيمو) پښتونخوا کښې را لوے شوے وۀ چې د يو بل سره شريک اوسېدو باندې عادت نۀ وو ، بلکې د پيداوښت سره سم دوي د يو بل نه بېل عادت شوي وو ـ د شريکې ژوند قيصې يې يا خو د خپلو پلرونو نيکونو ، موريانو او نياکانو نه اورېدلې او يا يې چرته خال خال په کتابونو کښې لوستلې ـ بيا هم د افغانستان له لورې د پښتونستان مبارزه هم په ډېپلوماتيک انداز او هم د رېډيو له لارې او د پښتونستان د ورځې لمانځلو په ترڅ کښې چلېدلې ده ـ د افغانستان شاعرانو دغه مبارزه د قلم له لارې ټينګه ساتلې ده او د شعر په جامه کښې يې خوندي کړې ده ـ

د پښتو د شاعرۍ په ترڅ کښې چې مونږ د پښتونستان د تحريک يا تصور کومه څېړنه وکړه ، نو نتيجه دا شوه چې د تقسيم نه وراندې په هندوستان کښې د ميشتو پښتنو (هندوستان نه زمونږ مراد برطانيه استعماري حاکميت کښې راغلې پښتنه سيمه ده ، ګڼي پښتنو په تاريخي لحاظ خپله خاوره چرته هم د هندوستان خاوره نه ده بللې) شاعرانو سره د هند ازادي ډېره مهمه وه او د پښتونستان يا د پښتنو د يووالي يا ډيورنډ د کرښې کومه نخښه نخښانه يا کوم درک او څرک مونږ ته په نظر نۀ راځي ـ د دوي د خپلې خاورې د پاره باقاعده د سرحد نوم په خپلو شعرونو کښې هم کارولے دے ، البته د تقسيم نه کال نيم وراندې د پټهانستان نوم د يو نيم شاعر سره اورېدل کېږي ـ

د تقسيم نه پس چې د پاکستان ميشته پښتنو په شاعرانو کښې د پښتونستان قيصه کوو ، نو دلته يو خو په سياسي لحاظ د پښتونستان قيصې يو بل رنګ واخستو ـ د يو جدا هېواد په ځاے د صوبې په نوم پورې محدود شو ـ بنايي هم دغه وجه وي چې د پښتو د نوي شعر نماينده شاعرانو د پښتونستان نوم قدرې هم نۀ دے اخستے ـ دوي که

Scanned by CamScanner

کله هم د خپلې خاورې نوم یادولو ته اړتیا لرلې ده ، نو بیا یې د پښتونخوا نوم کارولے دے ، که څه هم په دغه زمانه کښې د دوي سیاسي مشرانو یا ګوند (نیپ) دصوبې د پاره نوم پښتونستان غوښتلو۔ د پښتونستان په ځاے د پښتونخوا نوم کارولو وجه صرف دا کېدے شي چې پښتونخوا د دې خاورې تاریخي نوم دے او د هغه وخت د پښتو شاعرانو دور اندښی ثابته کړه چې د خاورې خپل تاریخي نوم پښتونخوا په ځاے کړے شو۔ دلته دا خبره هم کېدے شي چې د پښتو د نوي ادب استاذان چې زیاتره پکښې قام پرست هم دي ، د پښتونستان نوم د کارولو نه په شعوري توګه ډډه کړې وي چې پښتونستان نوم زیات سیاسي شو او دوي سره غم پیدا شو چې هسې نه زمونږ شعري معیار پرې راوغورځي او د ادبي نقادانو د تنقید ځړې اخستي وي ۔ مونږ په دغه ضمن کښې محض د اجمل خټک ، ایوب صابر ، همېش خلیل ، قلندر مومند او عبدالرحیم مجذوب د شاعرۍ نمونې په دې خاطر راخستې دي چې لوستونکیو ته وښایو چې د پښتو د نوې شاعرۍ نمایندګانو قام پرسته شاعرانو هم د پښتونستان د نوم کارولو نه ځنډه کړې ده ۔ که څه هم د دوي د شاعرۍ تشریحات د پښتونستان د سیاسي تحریک په ترڅ کښې په بشپړ توګه ممکن دي او د پښتونستان د سیاسي تحریک په وروستي پړاؤ (چې دا مهال زمونږ د موضوع نه بهر وو) کښې یې د زندان تکلیفونه هم تېر کړي دي۔

البته د دغه وخت (۱۹۴۷ نه تر ۱۹۶۰) قام پرسته اولسي شاعرانو دغه نوم (پښتونستان) په خپلو شعرونو کښې یاد کړے دے چې مونږ یې تذکره کړې ده ۔ دا بېله خبره ده چې د دغه دور د اولسي شاعرانو کلامونه ډېر کم خوندي شوي دي چې تحقیق ته اړتیا لري۔

د پاکستان میشته پښتنو شاعرانو د کلامونو چې مونږ څومره مطالعه وراندې کړې ده ، په هغې کښې دا حقیقت راته په ګوته شوے

Scanned by CamScanner

دے چې د دوي ترمنځه هم څه داسې منظم څيز موجود نۀ وۀ ، يو فکري انتشار مونږ ته ښکاري ۔ يو نيم شاعر د پښتونستان نوم د يو جدا رياست د پاره کارولے دے ولې اکثريت د صوبې د نوم په ترڅ کښې ياد کړے دے۔

تر څو پورې چې د افغانستان د شاعرانو قيصه ده ، نو د متحده هندوستان نه وراندې د دوي په شاعرۍ کښې هم دغه نوم/تحريک/تصور مونږ ته په نظر نۀ راځي ، خو بنو د قرارداد او د هندوستان د نه پس د دوي په زياتره شعرونو کښې نه صرف د پښتونستان کلمه موندلې کېږي ، بلکې د پښتونستان (د پاکستان ميشته سيمو) د پاره فکر مندي ډېره زياته ليدے شي ۔ خو دلته بايد دا خبره وکړم چې د بده مرغه د افغانستان د شاعرانو شاعري مونږ ته ډېره کمه رارسي او په خصوصيت سره د مهاجرت نه وراندې د افغانستان د شاعرانو او اديبانو تصنيفات مونږ ته ډېر کم او ډېر په مشکله رارسېدلي دي ۔

د افغانستان کښې د پښتونستان په ترڅ کښې د شوې شاعرۍ په ترڅ کښې بايد دا خبره هم وکړے شي چې زياتره شاعرانو د رېډيو مشاعرو او اولسي مشاعرو يا جلسو د ضرورتونو تر مخه د پښتونستان ترانې يا اشعار وئيلي شوي دي او دغه وجه ده چې د پښتونستان په ترڅ کښې چې د پښتو د شاعرۍ خبره کېږي ، نو د افغانستان د شاعرانو ونډه به پکښې زياته وي ۔

Scanned by CamScanner

يو سفارش:

د پښتونستان په اړه چې د فقير اپيې او د هغه د ملګرو کوم دريځ او مبارزه وه ، د هغې د اثر لاندې د شوې شاعرۍ په اړه نور زيات تحقيق ته اړتيا لري او په خصوصي توګه د قباييلي سيمې د هغه وخت اولسي شاعرانو شاعري چې د چاپ د مرحلو نه تېره شوې نۀ ده او په حجرو ، محفلونو يا په مورچو کښې وئيلې شوې ده او په هوا کښې تحليل شوې ده او يا چرته په طاقونو کښې د وئينو په برخه رسېدلې ده او يا به اوس هم په ډېرو زړو صندقونو کښې د زمانې په رحم او کرم پرته وي ـ زما خيال دے چې دغه ورکه شوې شاعري پسې د وتلو او ګرځېدلو ضرورت دے ۔ خو په پښتو کښې (او بيا په موجوده وخت کښې) د لايبرېري تحقيق لار زياته کارول کېږي چې دا ډېره اسانه لاره ده ، نو په دې وجه نۀ پوهېږم چې څوک محقق دغه د زمکنې/ګرځنده تحقيق (Field reseach) کړاؤ ته غاړه کېږدي۔

Scanned by CamScanner

ماخذونه: (کتابيات)

پښتو کتابونه:

1. اجمل خټک ، د ژوند چغه ، پېښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۲۰۰۶
2. اجمل خټک ، د غېرت چغه ، پېښور ، يونيورسټي بک ايجنسي ، ۲۰۱۲
3. ايوب صابر، خُيکرخون ، پېښور ، قامي مکتبه ، دويم خُل ۱۹۸۳
4. ډاکټر باقي دراني ، پښتانه د تهذيب په څپو کښې ، کوټه ، صحاف نشرياتي موسسه ، ۲۰۰۸ء
5. عبدالعلي ارغنداوے ، ډاکټر ، ژوندۍ خاطرې په تېرو نهو لسيزو کښې د افغانستا تاريخ ، بي بي سي د پښتو څانګه ، ۱۹۹۸
6. سيدحسن استاذ ، د سيدحسن استاذ کليات ، غېر مطبوعه ، مملوکه: بنارس خان خټک
7. عبدالاکبرخان اکبر ، د برصغير پاک و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه، پېښور ، يونيورسټي پبلشرز ، ۲۰۰۹
8. عبدالروف بېنوا ، اوسني ليکوال ، ترتيب او زياتونې مطيع الله روهيال ، کندهار ، صداقت خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ش
9. عبدالروف بېنوا ، پښتونستان ـ کابل ، عمومي مطبعه ، ۱۳۳۰هـ
10. پښتنے ارمان ، کابل ، د کابل عمومي مطبع ، ۱۳۳۴
11. سعادت خان جلبل ، ناچاپه شاعري ، مملوکه: جواد الله ، ايم فل سکالر ، پښتونخوا مطالعاتي مرکز ، باچاخان پوهنتون ، چارسده ، دورانيه: ۲۰۱۳ ـ ۲۰۱۴

Scanned by CamScanner

12. خان عبدالغني خان ، د غني کلیات ، کابل ، د قومونو او قبایلو وزارت ، ۱۹۸۵
13. پروفېسر ډاکټر یارمحمد مغموم ختک ،د ازادۍ تحریک او پښتو شاعري ، (مقام ندارد ، مې ۲۰۰۷
14. خوشحال ختک ، ارمغان خوشحال ، (مقدمه سیدرسول رسا) پېښور ، یونیورسټي بک ایجنسي ، دویم څل ۱۹۹۱
15. د پښتنو تاریخ ، قاضي عطاالله
16. د خیبرپښتونخوا اتلان ، پېښور ، خیبرپښتونخوا ټېکسټ بک بورډ
17. دروېش درانی ، د پښتني ژوند کړه وړه ، کوټه ، صحاف نشریاتي موسسه ، ۲۰۱۴
18. ډاکټر محمد زبېرحسرت ، دوست محمدخان کامل مومند ژوند او ادبي خدمات ، مردان ، د ادبي دوستانو مرکه ، اپرېل ۲۰۱۳
19. حبیب الله رفیع ، زندان خورلي ادیبان ، ۱۳۸۶
20. زلمے هېواد مل ، فرهنک ادبیات پښتو ، دوهم ټوک ، ۱۳۶۵ش
21. سلمی شاهین ، ډاکټر ، پروفېسر ، جدید نظم په پښتو کښې ، پېښور ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون ، سن
22. ولي محمد طوفان ، غورځنک ، دبې ، اماراتو پښتو ادبي ټولنه ، ۲۰۱۴
23. عاصي هشنغري ، توده وینه ، پېښور ، یونیورسټي پبلشرز ،س ن
24. عبدالروف بېنوا ، اوسني لیکوال ، ترتیب او زیاتونې مطیع الله روهیال ، کندهار ، صداقت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ش (۲۰۱۴)
25. م ابراهیم عطایي، د پښتونستان مسئله د حق خودارادیت په رڼا کښې، چاپ ځاے نه لري ، ۱۳۴۸ د سنبلي نهمه
26. ابراهیم عطایي، د پښتنو او بلوچو سیاسي کرونولوژي ، کابل

Scanned by CamScanner

، د نشراتو او فرهنګي چارو رياست ، ۱۳۶۸هـ ش ، مخ: ۹۹

27. فضل زمان شلمان، مولوي فضل محمود مخفي ،پښور ، عامر- پرنټرز ، س ن

28. فضل احمد غر ، د غره ګلونه، بنو ، پښتو ادبي مرکز سرايې نورنګ ، دويم اشاعت ۱۹۹۱

29. عبدالعلي غورغوشتي ، لويه افغانيه، کوټه ، اداره تحقيقات ، فروري ۲۰۱۰

30. فضل الرحيم ساقي ، ډک جام ، د رهبر د اشاعت څانګه ، س ن

31. قلندر مومند ، سباوون ، دويم اډيشن ، پښور ، دور ، ۱۹۸۸

32. بهادر شاه ظفر کاکاخېل ، پښتانه د تاريخ په رڼا کښې ، اووم چاپ ، پښور ، يونيورسټے بک اېجنسي ، ۲۰۰۹ء

33. ملا ظريف اخوندکاکړ ، د پښتونخوا نغمې ، کوټه ، ملا ظريف کاکړ فاونډېشن ، ۲۰۱۱

34. لائق شاه درپه خېل ، وزيرستان ، لاهور ، المطبعه العربيه ، اشاعت دوم ، فروري ۱۹۹۴

35. کليم الله متين ، د خپلواکۍ ټرون ، د سرحداتو وزارت افغانستان (کابل) ۱۳۵۳ کال د وړی نهمه

36. عبدالرحيم مجذوب ، د مجذوب کليات ، پښور ، دانش کتاب پلورنځے ، ۱۹۹۹

37. محمد مومن پتوال ، اوسني شاعران ، کابل ، د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو مرکز پښتو ټولنه ، ۱۳۶۷ش

38. محمداقبال وزيري، د پاچاخان اندونو او مبارزې ته لنډه کتنه، چاپ ځاے او سن ندارد

Scanned by CamScanner

چاپ ځای او سن ندارد

39. محمداکبرخادم . پاکستان . د سر لس مخونه نه لري او د ډاکټر محمد زبیرحسرت په شخصي کتابتون کښې خوندي دے۔

40. محمدزوارخان کاکا. ډایري ، غیر مطبوعه ، مملوکه: محب وزیر

41. مختار احمد مختار ، د چپرهار لیکوال او شاعران ، ۱۳۷۹ش

42. ملنګ جان ، د ملنګ جان خوږې نغمې (غورچانې) ، پښور ، دانش خپروندویه ټولنه، ۲۰۰۷

43. مولوي ظاهرشاه وزیر ، د خپلواکۍ جګړې ، (پښتوکونکے محمد ګلاب ننګرهارے) ، مطبعه دولتي ، کابل ، ۱۳۳۷هـ

44. همېش خلیل (مولف) ، پښتانه لیکوال (اول ټوک) ، پښور ، دارالتصنیف ، ۱۹۵۸

45. همېش خلیل . زما سندرې۔ پښور ، دالتصنیف ، ۱۹۷۳

English Books:

46. Erland Jansson, ***India, Pakistan or Pakhtunistan***, Stockholm, Almqvist & Wiksell International, Uppsala 1981

47. Fazal Ur Rahim Marawt, Dr. ***The Evolution And Growth Of Communism In Afghanistan***, Karachi, Royal Book Company, 1997

48. Louis Dupree , ***Afghanistan***, Karachi, Oxford university press, 2007th edition

49. Dr. Fazal Ur Rahim Marwat, ***Pashto literature: A Quest for Identity in Pakistan***, Peshawar, Pakistan study centre, University of Peshawar

50. Dr.Parvez Khan toru and Dr. Fazal Ur Rahim Marwat (Editors), ***Celebrities Of NWFP, Volume 1 & 2***, Peshawar, Pakistan Study Centre University Of Peshawar, 2005

Scanned by CamScanner

اردو کتاب:

51. زاهدچودهری ، پاکستان کی سیاسی تاریخ (جلد دوم) ، لاهور ، اداره مطالعه تاریخ ، ۱۹۸۹ ،

مجلې/ رسالې:

52. مېوند (مجله) ، دولسمه ګڼه ، ۱۳۸۴
53. میاشتنۍ ، رهبر ، پېښور ، (اډیټران: مهدي ـ طوفان ـ قلندر)
54. میاشتنۍ ، لیکوال ، پېښور ، مدیر نورالبشرنوید
55. میاشتنۍ لار، مدیر: ولي محمد طوفان ، پېښور
56. پښتون (مجله)، ۲۱ جون ، ۱۹۳۹

Google/facebook

57. زیارمل ، وارد خان ، ډاکټر ، ایا مونږ رښتیا پښتونستان غواړو؟ google.com
58. Faqeer Khel, Mian Wakil Shah, Facebook, 27 November 2013

Scanned by CamScanner

پښتونستان د پښتني تاريخ هغه خوړه يا ترخه برخه ده چې ډېرو مستنندو څېړنو ته اړتيا لري، خو له بده مرغه زمونږ پښتانۀ محققين د داسې قسمه تحقيقونو څخه د څۀ مصلحتونو په بنياد ډډه کوي.

خو د ښاغلي ډاکټر محب وزير شماره د ګوتو په شمېر هغه څو نمائنده اديبانو او ليکوالانو کښې کولے شو چې د پښتو ژبې او ادب سره سره يې پۀ قامي مفکوره، جغرافيه، د پښتني خاورې ستونزې او معروضي سياست باندې هم ژور نظر دے.

زېر نظر کتاب هم د ښاغلي ډاکټر محب وزير د خپلې خاورې او قامي تحريک سره د فکري، علمي او سياسي رشتې ثبوت دے.

شمس فګار

مرکزي نايب صدر

پښتانۀ مترقي ليکوال

۲۲ اګست ۲۰۱۷

ليکوال پښتو ادبي تنظيم، العين

Scanned by CamScanner